# د ښځو د حج
# او
# عمرې لارښود

**د ښځو د حج، عمرې، زیارت او سفر د ټولو**
**مسایلو په اړه بشپړ، مستند او عام فهمه کتاب**

**لیکوونکی:**
**عبدالمالک «همت»**

د کتاب نوم: د ښځو د حج او عمرې لارښود

د کتاب فارسی نوم: راهنمایی حج و عمره مخصوص زنان

ليکونکی: عبدالمالک «همت»

موضوع: حنفي فقه

د چاپ شمير: لومړي (ديجيتال)

د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا ليک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com www.aqeedeh.com

www.videofarsi.com www.islamtxt.com

www.zekr.tv www.shabnam.cc

www.mowahed.com www.sadaislam.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږی په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب فهرست

**د کتاب فهرست..................................................... أ**

**سریزه.................................................................. ۱**

**د حج فرضیت ....................................................... ۳**

د حج معنا: ......................................... ۳

د حج د فرضیت تاریخ:................................ ۳

د حج شرایط: ........................................ ۳

د حج اراده........................................... ٤

توبه ................................................... ٥

د حج د مسایلو زده کول.............................. ٥

د سفر لپاره له کوره وتل .............................. ٦

په سفر کي د لمانځه مسایل ........................... ۷

په مکه مکرمه کي د لمانځه په هکله: ................... ۸

په منا او عرفات کي د لمونځونو په هکله:.................. ۹

د ښځي د محرم مسایل ................................. ۱۱

په عده کي د حج سفر.................................. ۱٤

د تیمم ترتیب او مسئلې ................................ ۱٦

په الوتکه، بېړی، اورګاډي او بس کي د لمانځه مسئلې ........ ۱۷

احرام.................................................... ۱۹

د ښځۍ د حیض او نفاس مسایل: .......................... ۲۱
د نر ښځي احرام.......................................... ۲٤
احرام ته چمتو والی ...................................... ۲۵
د الوتکي د مسافر د احرام تړلو طریقه ..................... ۲۶
د احرام تړلو طریقه........................................ ۲۷
تلبیه ..................................................... ۲۸
هغه خبري چي په احرام کي منع دي ........................ ۳۰
مکروه چاري............................................... ۳۲
روا خبري.................................................. ۳۳
د میقاتونو بیان .......................................... ۳۵
زماني میقات:............................................. ۳۵
مکاني میقات: ............................................ ۳۵
د آفاقیانو میقاتونه دا دي: ................................ ۳۵
جدې ته تر رسېدو وروسته................................. ۳۷
د حرم پولو ته ننوتل ...................................... ۳۷
مکې مکرمې ته ننوتل ..................................... ۳۸
مسجد الحرام ته ننوتل .................................... ۳۸
د لومړي ځل لپاره د کعبې شریفي د لیدلو شیبې ............ ۳۹
**عمره او مسایل یې........................................ ٤۱**
د حج او عمرې ترمنځ توپیر................................ ٤۳
د عمرې کولو نخشه........................................ ٤٤
د نارینه وو او ښځو ګډ لمونځ .............................. ٤۵
په مسجد الحرام کي د ښځو لمونځ .......................... ٤۶
د ښځو د جماعت د لمانځه نیت او ترتیب:................... ٤۸

د طواف بیان........................................... ٤٨
د طواف کولو طریقه ..................................... ٥٠
د طواف د دعاوو په هکله ................................ ٥٤
د طواف ضروري مسئلې..................................... ٥٥
مُلتَزَم.......................................................... ٦٠
د طواف لمونځ ............................................. ٦١
د زمزم اوبه................................................. ٦٢
د صفا او مروه ترمنځ سعی ................................. ٦٤
د سعیي طریقه............................................... ٦٤
د سعیي مسئلې ............................................. ٦٧
په مکه کې د حج لپاره د انتظار په ورځو کې لاندې خبرې توصیه کیږي ........................................................... ٧٠
د طوافِ زیارت د سعیي په هکله مشوره: ......................... ٧٣
د حج بیان...................................................... ٧٤
د حج فرائض:.................................................. ٧٤
د حج ارکان: ................................................. ٧٤
د حج واجبات:................................................. ٧٥
د حج سنتونه:................................................. ٧٥
د حج ډولونه .................................................. ٧٦
افراد:........................................................... ٧٧
د مفرد حج طریقه:............................................. ٧٧
قران: .......................................................... ٧٧
د قران حج طریقه: ............................................ ٧٨
تمتع:........................................................... ٧٨

د تمتع حج طريقه:........................ ۷۹
د افراد حج افعال حکم د قران افعال حکم.......... ۷۹
د تمتع د فعلونو نخشه چي هدی نه وي ورسره حکم......... ۸۰
د حج په مناسکو کي د نارينه او ښځي فرق............. ۸۱
د حج سنتونه او مستحبات.............................. ۸۲
د حج د سنتونو تفصيل:.................................. ۸۲
د حج د مستحباتو تفصيل: ............................... ۸۳
د حج مناسك په لنډه توګه ................................ ۸٤
د لوی اختر د مياشتي (ذوالحجې) اتمه د حج لومړۍ ورځ: له مکې مکرمې څخه منا ته تلل......................... ۸٦
د لوی اختر د مياشتي نهمه د حج دوهمه ورځ: له منا څخه عرفات ته تلل............................................. ۸۹
دتشريق تکبير:............................................. ۸۹
پر عرفات دريدل: ......................................... ۹۰
د عرفات د عاوي: ........................................ ۹۲
څو مهمي مسئلې: ......................................... ۹۳
څو يادوني:................................................. ۹٤
مزدلفې ته تلل ............................................. ۹۵
د لمونځونو کولوطريقه دا ده:............................. ۹۵
د شګو ټولول:.............................................. ۹٦
د ښځو لپاره آساني:....................................... ۹۷
د لوی اختر د مياشتي لسمه د حج دريیمه ورځ: له مزدلفې څخه منا ته تلل............................................. ۹۹
عقبه جمره (لوی شيطان) ولئ ............................ ۹۹

د جمرهٔ عقبه (د لوی شیطان ویشتل): ..........................٩٩
د رمي وختونه:.....................................................١٠١
ښځي دي پخپله شیطان ولي:.............................١٠٢
منا ته د شپې د رسېدلو ښځو دویشتلو وخت: ..............١٠٤
تلبیه بندول: ..................................................١٠٤
قرباني: ......................................................١٠٤
د قران او تمتع د قربانۍ په بدل کي روژې: ..................١٠٦
د وربېښتانو پرې کول (غچي کول): ........................١٠٧
طوافِ زیارت: ..................................................١٠٨
په طواف زیارت کي د ښځي د پاکۍ مسایل:..................١١٠
ښځو ته یوه آساني:............................................١١١
د حج سعی:.....................................................١١٢
تر طواف زیارت وروسته منا ته ستنېدل: ......................١١٢
د لوی اختر د میاشتي یوو لسمه د حج خلورمه ورځ: شګي ویشتل ...............................................١١٣
د لوی اختر د میاشتي دوو لسمه د حج پنځمه ورځ: شګي ویشتل ...............................................١١٤
له منا څخه مکې ته تلل.......................................١١٥
د خدای په امانۍ (وداع) طواف..............................١١٥
د طواف وداع مسئلې:.........................................١١٦
د مدینې منورې زیارت ........................................١١٧
د رسول ﷺ د روضې د زیارت آداب ........................١٢٠
د حضرت ابوبکر رضي الله عنه زیارت ..........................١٢٣
د حضرت عمر رضي الله عنه زیارت ............................١٢٣

د بي بي فاطمې رضي الله عنها زيارت .................................. ۱۲٤
په نبوي مسجد کي د لمانځه فضيلت ......................... ۱۲٤
په نبوي مسجد کي د څلوېښتو لمونځونو فضيلت ............ ۱۲۵
په ښځو پوري اړوند ځيني مسايل: ......................... ۱۲۵
څه نوري اړيني خبري: ......................................... ۱۲٦
له مديني منورې څخه ستنېده ................................. ۱۲۸
**د ژباړن لنډه پېژندنه ..................................... ۱۳۰**

# سریزه

حامداً ومصلیاً ومسلماً وبعد:

که څه هم اسلامي احکام پرښځو او نارینه وو دواړو یو شان لازم دي خو په ځینو مواردو کي د ښځو مسایل بېل دي. لکه چي د حج د مقدسي فریضې په اداکولو کي هم خبره دغسي ده؛ په زیاتو مسایلو کي د ښځو او نارینه وو مسایل فرق نه کوي، خو ډېر مسایل بیا داسي دي چي په ښځو پوري ځانګړي دي. له دې امله په نورو ژبو کي د ښځو د حج او عمرې د مناسکو په هکله بېل لار ښودي کتابونه لیکل سوي او خپاره سوي دي. خو له بده مرغه د دغسي یوه کتاب له شتون څخه زموږ خوږه ژبه پښتو بې برخي وه. چي د دې تشي له امله زموږ خوندي د حج او عمرې د اعمالو په ترسره کولو کي د زیاتو ستونزو سره مخامخ کېدلې او کله کله به په ځینو مسایلو کي خطاوتلې. ځکه نو ما وپتېیل چي پر پښتو معلم الحجاج سربېره، کوم چي په عامه او نسبتاً مفصله توګه لیکل سوی دی دغه کتاب زما د ګرانو حج کوونکو خوندو لپاره د ښځو د حج د ځینو کتابونو او نورو معتبرو مناسکو څخه په استفاده په ساده او آسانه ژبه او په لنډه توګه ولیکم، څو دوی له دې کتاب څخه په ګټه اخیستنه په آساني سره او بیله تېروتنو دغه مقدسه فریضه اداکړای سي او ما ته د مکې مکرمې په سپېڅلو اُرشوګانو کي دعاوي وکړي او حضرت رسول اکرمﷺ ته د سلامونو په وړاندي کولو کي مي هېر نه کړي.

اوس نو که د ښځې محرم پښتو معلم الحجاج اوښځه همدغه کتاب ولري او د حج د چارو تر پیل کېدو د مخه یې یو یا څو واره په غور ولولئ او د هغو مضمونونه ښه ذهن نشینه کړئ. بیا پر خپل وخت هغه مطلب چې د لیدلو اړتیا یې وي په دغو کتابونو کې وګورئ او له لازم پام او احتیاطه کار واخلې، زه ډاډ ورکوم چې ان شاء الله د حج، عمرې او مدینې منورې د زیارت په چارو کې به د هیڅ ستونزې سره مخامخ نه سې.

زما توصیه حج ته تلونکو ښځو او د هغومحرمانو ته داده چې دغه دواړه کتابونه تر لاسه کړئ او لازمه ګټه ځنې واخلې. که بیا هم په کومه مسئله کې ستونزه درپېښه سې نو له یوه معتبر اسلامي عالم څخه یې وپوښئ خو هوښ کوئ چې د امریکا د پلویانو او تنخوا خورو یا عامو خلکو په خبرو عمل ونه کړئ. د دغسې بې تقوا او ناپوهو کسانو پر خبرو له غوږ نیولو څخه کله ناکله نه جبیره کېدونکې تاوانونه رسیږي.

لوی څښتن دې موږ ټولو ته د هغه د خوښې سره سم د اسلام د ټولو ارکانو د ترسره کولو توفیق راکړي. آمین.

**عبد المالک (همت)**

**کندهار، د ۱۳۸۷ لمریز کال د اسد شپږمه**

# د حج فرضیت

په اسلام کې لکه څنګه چې لمونځ، روژه او زکات فرض دي، دغسې د بیت الله شریفې حج هم فرض دی.

## د حج معنا:

د حج لغوي معنا ده د لوی او غټ کار اراده، قصد او زیارت. په شریعت کې په مخصوص ځای کې، په مخصوصه زمانه کې د مخصوصو افعالو تر سره کولو ته حج وایي.

## د حج د فرضیت تاریخ:

حج په مشهور قول په نهم هجري کال فرض سوی دی او پر هر مسلمان باندې په ژوند کې یوه پلا فرض دی.

## د حج شرایط:

د حج د فرض کېدو لپاره څو شرایط دي، کله چې هغه ټول موجود سي نو حج فرض کېږي. دغه شرایط دي: اسلام، د حج د فرضیت په هکله پوهه او علم، لویښت، عقل، آزادي، د لاري پر توښه او پر سپرلۍ قدرت او وس درلودل او د حج وخت.
د حج د اداکولو د وجوب شرایط پنځه دي. کله چې د فرضیت شرایط موجود سي، خو د حج د ادا کولو د وجوب کوم شرط نه وي موجود نو بیا حج پخپله کول نه دي واجب، بلکې په دې صورت کې

به له خپله لوري بل چا ته وظيفه ورکوي چې د هغه لخوا حج وکړي. يا به د مړيني پر مهال وصيت کوي چې د هغه لخوا حج ادا کړي.

د حج د ادا کولو شرايط: لومړی: روغتيا. دوهم: نه بندي کېدل. دريم: د لارې امنيت. څلورم: د ښځې محرم. پنځم: د ښځې نه عده.

## د حج اراده

کله چې د حج يا عمرې اراده وکړئ نو لاندې کارونه تر سره کړئ:

1- تر ټولو د مخه دا نيت وکړئ چې زه يوازې د خدای تعالی د رضا، د هغه د حکم د برپايه کولو او د آخرت د ثواب لپاره دغه سفر کوم. هوښ کوئ چې حج مو د نامه يا د تفريح په نيت خراب نه کړئ.

2- که لمونځونه، روژې، زکات، اختريان او داسې نور دربانـدې وي د هغو د قضا راوړلو پخه اراده وکړئ او تر خپله وسه يې په قضا را وړلو پيل وکړئ. آينده پخه اراده وکړئ چې بيا به دا غلطي او ګناه نه کوم. که د چا مالي يا بدني حق در باندې وو څو کېدلای سي ادا يې کړئ. د خطا او قصور معافي ځنې وغواړئ. خو که د حقوقو څښتنان مړه سوي وي، که يې وارثان موجود وه هغو ته يې حق ور کړئ او که د حقوقو خاوندان او د هغو ورثه نه وه معلوم بيا يې د مال د خاوند لخوا خيرات کړئ. خو په خپله يې د ثواب څه هيله مه لرئ.

3- كه مو مور او پلار يا نور خپلوان در څخه خوابدي وي خوشاله يې كړئ اوكه مو د چا سره څه جنگ كړی وي پخلا يې كړئ او بخښنه ځني وغواړئ. خپله هم بخښنه ورته وكړئ.

## توبه

د سفر تر پيلولو د مخه د زړه له اخلاصه توبه وكاږئ او پر خپلو تېرو ناوړو كړو باندې شرمندگي او پښېماني څرگنده كړئ. د توبې كښلو مستحبه طريقه داسي ده:

لومړی غسل وكړئ يا اودس تازه كړئ. بيا دوه ركعته لمونځ د توبې په نيت وكړئ. په ډېره خشوع او خضوع او په عجز او خاكساري لوی څښتن ﷻ ته وژاړئ. په دې كي كمي مه كوئ. له خپلو گنهونو او تېروتنو توبه وكاږئ. په پلا وو پلاوو دا دعا ووايا ست:

ای لويه څښتنه! زه ستا په حضور كي له خپلو ټولو گناهونو څخه توبه كاږم او په ټينگه اقرار كوم چي بيا هيڅكله گناه نه كوم.ای لويه څښتنه! زه باور لرم چي ستا بخښنه زما تر گناه ډېره پراخه ده او زما د عمل په نسبت زه ستا رحمت ته ډېر اميد لرم.

## د حج د مسايلو زده كول

تر حج دمخه د حج مسئلې زده كول واجب دي. نو چي كوم وخت مو د حج اراده وسي يا سفر پيل كړئ د حج د مسئلو په زده كولو پيل وكړئ. يو معتبر (واضح او جامع) كتاب در سره واخلئ، څو واره يې مطالعه كړئ. كه په كومه مسئله نه پوهېږئ له خپل محرم يا يې له كوم معتبر عالم څخه زده كړئ. دعامو خلكو پيښې (تقليد) مه كوئ او مه پر معمولي لوستونكي اعتماد كوئ، بلكي د مكې

مکرمې د معلمانو پر خبره هم باور مه کوئ. ځکه چې هغوی اکثر د حج په مسایلو ناخبره دي او که بالفرض په مسئلو پوه هم وي، د خلکو د ستونزو دونه پروا نه کوي.

## د سفر لپاره له کوره وتل

له کوره غمجنه او خوابدې مه وزئ، بلکي خوښه او خوشاله ووزئ. تر وتلو دمخه د وس سره سم څه خیرات ورکړئ. دوه رکعته نفل لمونځ په کور کي وکړئ، په دې شرط چې مکروه وخت نه وي او په حیض یا نفاس کي نه یاست. تر سلام وروسته آیة کرسی او سورت قریش ﴿لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ۝١﴾ ووایاست او له حق تعالی څخه د سفر د آسانۍ په هکله مرسته وغواړئ او دا دعا هم وکړئ:

«ای لویه څښتنه! ستا پاک رسولﷺ چې په سفر د روانېدو پر وخت کومي دعاوي کړي دي یا یې نورو ته د هغو د کولو فرمایلي دي او ستا نېکو بنده ګانو چې څونه دعاوي کړي دي هغه ټولي زما لخوا قبولي کړه».

په لار کي له حق تعالی څخه ډېر بېرېږئ او تل په ذکر، تلاوت او داسي نورو لګیا اوسئ. څنګه چې د مسافرو په تېره د حاجیانو دعاوي قبلېږي نو مور او پلار، مېړه، خپلوانو او عامو مسلمانانو ته دعاوي کوئ. په کوم ځای کي چې تم سئ دوه رکعته نفل کوئ. کله چې روانېږئ بیا دوه رکعته وکړئ. د ملګرو، خادمانو او نورو سره سختۍ، شخړي او جګړې مه کوئ.

که کوم بې وزلی یا بې خرڅه حاجي سوال کوي بد مه ورته وایاست. که مو څه د وسه کیږي ور یې کړئ. که نه په سمه یې جواب کړئ او دعا ورته وکړئ.
پر لاري ښه په سکون او درنښت ځئ، له چټي خبرو ډډه وکړئ.

## په سفر کي د لمانځه مسایل

ګورئ چي په سفر کي لمونځ در څخه پاته نه سي. ځیني حاجیان د کم همتۍ او سستۍ له امله لمونځ قضا کوي. د یوه فرض، یعني د حج د کولو اراده یې کړې وي، د ورځي پنځه فرضه پرېږدي. لمونځ بېله شدیده عذره قضا کول لویه ګناه ده.
په شریعت کي چي مسلمان د اته څلوېښتو میلو (۷۷¼ کیلو مترو) د سفر اراده وکړي، پلی وي که په کومه وسیله کي، مسافر ګڼل کیږي. پر هغه د ماپښین، مازدیګر او ماخستن د څلورو رکعتو فرضو پر ځای دوه رکعته کول فرض دي. د سهار، ماښام او وترو په لمانځه کي کمی نه راځي.
مسئله: د ۷۷¼ کیلو متره واټن سفر له هغه ځایه چي سفر ځني پیل کیږي بیا د هغه ښار چي سفر ورته کیږي تر هغه ځایه چي مسافر پکښې اوسي حسا بیږي، نه د یوه ښار له حدودو څخه د بل ښار تر پولو پوري. خو د لویو ښارونو حکم دادی چي کله مسافر د دغسي ښار له حدودو نه وي وتلی مسافر نه ګڼل کیږي.
مسئله: په سفر کي د ماپښین، مازدیګر او ماخستن لمونځونه بشپړ کول ګناه ده. که مو هېر سول بشپړ یې وکړئ. خو سجدهٔ سهوه به کوئ. دوه فرض او دوه نفل ګڼل کیږي. که مو په هېره څلور رکعته

وکړل، سلام مو وګرځاوه او خبري مو وکړې نو د سهوي د سجدې موقع مو له لاسه ورکړه په دې صورت کې څلور سره نفل شمېرل کېږي، دوه فرضه بیا وکړي. بیاکول یې ښه کار دی، خو که یې ونه کړئ هم جواز لري. اما که پر دوهم رکعت وروسته نه کښېنستلاست نو لمونځ به را ګرځوئ.

مسئله: کله چې له خپله ښاره ووزئ تر څو چې مو په لار کې په کوم ځای کې د پنځلسو یا زیاتو ورځو د اوسېدو نیت نه وي کړی لمونځونه لنډ (قصر) کوئ. خو که مو په کوم ځای کې د پنځلسو یا زیاتو ورځو د اوسېدو نیت وکړ نو تاسي مقیم بلل کېږئ لموځونه بشپړ کوئ. که مو په یوه ځای کې د پنځلسو ورځو د اوسېدو نیت نه وي کړی او په نن او سبا کې پنځلس ورځي دربانديي تېري سوې، بیا هم مسافر ګڼل کېږئ او لمونځونه لنډ کوئ.

مسئله: د مسافر لپاره د سنتو او نفلو حکم دادی چې که مو تلوار وي یا کوم بل تکلیف وي یا ستړي یاست یا کوم بل مشکل وي نو د سهار له سنتو پرته که نور مؤ کد سنت پرېږدئ ګناه نه لري. په دغسي حالت کې د سنتو پر کولو تاکید نسته. خو که تلوار نه وي (د قیام، امن، قرار او سکون حالت وي) نو سنت مه پرېږدئ. په سنتو کې کمی او لنډ والی هم نسته پوره یې کوئ.

## په مکه مکرمه کې د لمانځه په هکله:

کوم خلك چې منا ته تر تلو دمخه په مکه مکرمه کې پنځلس ورځي اوسیږي دوی مقیم بلل کیږي. په مکه کې به لمونځ څلور رکعته کوي، په منا او عرفات کې به هم څلور رکعته لمونځ کوي.

دغه راز کوم خلك چي د منا له کارونو څخه فارغ سي او بیاپه مکه کي پنځلس ورځي پاته کیږي هغه هم مقیم بلل کیږي، لمونځ به څلور رکعته کوي. خو کوم خلك چي تر منا وروسته په مکه کي پنځلس ورځي نه پاته کیږي هغه مسافر ګڼل کیږي لمونځ به لنډ کوي.

کوم څوک چي داسي وخت مکې ته ورسیږي چي پنځلس ورځي په مکه کي نه پاته کیږي. (د ذوالحجې تر اتمي پنځلس ورځي نه وي پاته) خو دی د پنځلسو ورځو یا زیاتو د اوسېدو نیت وکړي نو د ده دغه نیت اعتبار نه لري او نه دی صحیح، ځکه چي دی تر پنځلسو ورځو دمخه (د ذوالحجې پر اتمه) هرو مرو منا او عرفات ته تلونکی دی. له دې امله دی مسافر بلل کیږي او لمونځ به لنډ کوي.

## په منا او عرفات کي د لمونځونو په هکله:

د جمهور (ډېرو) صحابه وو رضي الله عنهم او فقهاوو او حنفي مذهبو په نزد دعرفات په ورځ مقیم ته د عامو لمونځونو غوندي څلور رکعته پوره کول فرض دي. تاسي چي د امام ابوحنیفه رحمه الله په مذهب یاست د نورو مذهبونو خبري پرېږدئ، د خپل مذهب سره سم په خپلو خېمو کي د ماپښین لمونځ ماپښین او د مازدیګر لمونځ مازدیګر وکړئ. که مسافر ګڼل کیږئ؛ یعني که مو په مکه کي تر پنځلسو ورځو کمي تېري کړي دي نو دواړه لمونځونه لنډ وکړئ که مقیم بلل کیږئ؛ یعني که مو په مکه کي پنځلس ورځي یا تر هغو زیاتي تېري کړي دي، نو پوره یې وکړئ. (د ماپښین سنت هم د پخوا په شان پوره وکړئ). په دغه ورځ د دغو دوو لمونځونو د یوځای کولو شرط دادی

چې د امام المسلمین یا د هغه د نایب (رسمي خطیب) په امامت وي. خو څنګه چې امام د مقیم تیا سره سره دغه لمونځونه دوه رکعته کوي نو د حنفي مقیم یا مسافر لمونځ په هغه پسې درست نه دی.

د مکې اوسېدونکي دي په منا او عرفات کي قصر نه کوي. ځکه چې له مکې څخه منا، مزدلفه او عرفات د سفریانه لمانځه په اندازه نه دي لیري.

څرګندونه: د حج پر قرباني علاوه د حاجي د اختري په هکله هم د پورتنیو څرګندونو سره سم کړنه په کار ده. که حجانۍ د پورتنیو خبرو سره سم مسافره وي اضحیه باندي نسته. خو که مقیمه ګڼل کیږي او اضحیه پر کیږي پر هغې اضحیه واجب ده. کولای سي دغه اضحیه په منا کي وکړي یا په خپل وطن کي. خو په مکه ( حرم) کي یې یقیناً ثواب یو په لك دی.

مسئله: هر ځای چې امام مقیم وي که مسافر لمونځ پسي کوي د هغه مطابعت دي وکړي او لمونځ دي پوره پسي وکړي. خو که امام مسافر وو کوم مقتدی چې مسافر وي هغه دي هم سفریانه لمونځ ورسره وکړي. خو چې کوم مقتدی مقیم وي هغه دي سفریانه لمونځ نه کوي، بلکي خپل لمونځ دي بشپړ کړي. په لومړۍ ناسته کي دي التحیات او تشهد ووایي. درود او دعا دي نه وایي، بلکي پټه خوله دي واوسي. کله چې امام سلام وګرځاوه دی دي پاته دوه رکعته پوره کړي. خو یوازي دي تکبیرونه او تسبیحات وایي. د فاتحې سوره او بل سورت دي نه وایي، خو د هغو د ویلو په اندازه دي پټه خوله

واوسي. په آخر کي دي التحيات، تشهد، درود او دعا ووايي او سلام دي وګرځوي.

مسئله: مقيم لره قصر (دوه رکعتي ياسفريانه لمونځ) ناروا دی. امام وي که مقتدی. که چيري مقيم امام لمونځ قصر (دوه رکعتي) کاوه په ده پسې نه د مسافر اقتدا روا ده، نه د مقيم. کوم مقيم امام چي قصر کوي نه د ده لمونځ روا دي او نه يې د مقتدي.

## د ښځي د محرم مسايل

مسئله: د حج په سفر کي چي د ښځي د ځای او مکې شريفي تر منځ د درو يا زياتو ورځو د سفر لار وي د ښځي لپاره ديندار مَحْرَم يا ميړه شرط دی. که يې محرم يا ميړه نه وو يا وو خو نه ور سره تلی نو پردې د حج تګ واجب نه دی. که يې حج و نه کړ د حج بدل (د دې تر مړيني وروسته به د دې لخوا د حج کولو) وصيت به کوي.

پوښتنه: نن مهال داسي هم کيږي چي يو څوك خپله مور يا خپله بله ښځه له هوايي ډګر څخه په الوتکه کي بېله محرمه سپروي او په جده کي يې بل زوی يا محرم يا خپل د هغې هر کلي ته ولاړ وي. په دې توګه پر ښځه باندي په الوتکه کي بې محرمه څو ساعته تېريږي، نو آيا د ښځي دغسي سفر روا دی؟

جواب: د ښځي دغسي سفر بيله محرمه هيڅ درست نه دی. رسولﷺ فرمايي: «هغي ښځي ته چي پر لوی څښتن ايمان لري تر درو يا زياتو ورځو (د ۷۷¼ کېلو مترو) د لاري سفر بېله پلار، زوی، ميړه،ورور او محرمه روا نه دی». (خواتین کے لیے رهنمائے حج وعمره: ۲۲۹ مخ او احکام مسافر: ۵۲ مخ).

مسئله: مَحْرَمْ هغه دی چې هیڅ وخت نکاح ورسره روا نه وي. د نسب په اعتبار وي، یعنی قریب او خپل یې وي یا د رضاعت په اعتبار وي، چې یو تی یې سره رودلی وي، لکه ورور، وراره، اکا او نور یا د مصاهرت په اعتبار یعنی د خسرګلوۍ یازوم ګلوۍ له جهته وي. مګر په دې زمانه کې له رضاعي خپلوانو او د خسرګنۍ له دوستانو احتیاط کول ضروري دی. ځکه چې وخت د فتنې دی. له دې امله دې ښځه له دوی سره حج نه کوي.

مسئله: د محرم او میړه عقل، بلوغ او دینداري هم شرط ده او بایدلا ابالي اویې پر وا هم نه وي. نو که محرم یا میړه فاسق وو حج ته تګ ورسره ناروا دی.

مسئله: که کوم هلك هوښیار او بلوغ ته نژدې وي هغه د بالغ غوندې دی تګ ورسره روا دی.

مسئله: که ښځه کونډه وه او محرم یې نه وو د حج لپاره پر دې نکاح نه ده واجب.

مسئله: که ښځه بې محرمه او بې میړه حج وکړي فرض یې ادا کیږي. مګر ګنهګاره ده. ځوانه وي او که زړه وي.

مسئله: که محرم مریی یا کافر وي هم پروا نه کوي. خو که مجوسي (اورپالی) وو بیا یې هیڅ اعتبار نسته. ځکه چې د دوی په نزد د محرماتو سره هم نکاح روا ده. مګر په دې زمانه کې احتیاط دادی چې له هیڅ کافر سره دې نه ځي ځکه چې اندیښنه سته چې له اسلامه یې واړوي.

مسئله: که محرم یا میړه په خپل خرڅ تی بیا پر ښځه بیله خپله خرڅه نور څه واجب نه دي. خو که یې خپل خرڅ نه ورکاوه بیا یې

لګښت پر ښځه واجب دی. پر دې بنسټ د ښځې د حج د وجوب لپاره د محرم يا د مېړه د خرڅ در لودل هم شرط دی.

مسئله: ښځه د خپل حج دسفر لپاره محرم يا مېړه نه سي مجبور ولای.

مسئله: بلوغ ته د نژدې نجلۍ او زړې ښځې لپاره هم محرم شرط دی که نه حج يې ناقبول او د شريعت خلاف دی.

مسئله: که ښځه د ډېرو ښځو سره حج ته بې محرمه ځي جواز نه لري او د ډېر زاړ ه يا نابالغ هلك سره چې محرم يې نه وي هم تګ ناروا دی.

مسئله: محرم هم هغه وخت ورسره تلای سي چې د فتنې او د شهوت انديښنه نه وي او که يې غالب ګومان دا وو چې په خلوت يا د مسه کېدو په وخت کي به مي اشتها ورته وسي بيا تګ ناجايز دی.

مسئله: که مېړه نه وو او د ښځي له سپرلۍ څخه په کښته کولو يا په سپرولو کي د محرم پر ځان يا پر ښځه د شهوت پارېدو بېره پيدا سوه تر وسه وسه خو دي ځان ځني ژغوري اوکه بېخي مجبوري سوه او د ښځي سورلۍ ته د پورته کولو او را کښته کولو لپاره بل څوك نه وو بيا دي لاس او بدن ته دوني پنډې جامې ورکړي چې د بدن تودوښه يې يو بل ته ونه رسيږي.

مسئله: که پر ښځي حج فرض سو او محرم يې تګ ته ورسره چمتو وو مېړه يې نه سي منع کولای. خو که يې محرم نه وو يا حج نفلي وو بيا يې منع کولای سي.

مسئله: که ښځي حج نذر کړ نذريې صحيح دی، خو د مېړه بې اجازې نه سي تلای. که يې په ژوندوني حج ونه کړ نو دي وصيت وکړي چي د دې تر مړيني وروسته د دې لخوا حج وکړي.

مسئله: که ښځه پياده حج ته تله نو ولي يا مېړه يې حق لري چي منع يې کړي.

مسئله: که ښځه د حج تر مياشتو دمخه روانېده يا چي په عامه توګه حاجيان تله تر هغه وخت ډېره دمخه روانېده مېړه يې دا حق لري چي منع يې کړي. خو که يوه يا دوې ورځې د مخه روانېده نه يې سي منع کولای.

پوښتنه: که د حج کوونکي ښځي مېړه يا محرم په حج کي مړ سي څه وکړي؟

جواب: که بل محرم را غوښتلای سي، راودې غواړي او ورسره ولاړه دي سي. که نه بېله محرمه دي ولاړه سي. اما پر هغه لار دي نه ځي چي خطر ورته پېښيږي.

## په عده کي د حج سفر

مسئله: پر ښځه باندي حج ته تګ هغه مهال واجب دی چي په عده کي نه وي. که په عده کي وي حج ته تلل نه دي پر واجب. ښايي دغه عده د مرګ يا د نکاح د فسخي يا د طلاق رجعي يا د بائن وي. خو که يې په عده کي حج وکړ فرض يې ساقط دی، مګر ګنهګاره ده.

مسئله: که په لار کي مېړه ښځي ته طلاق رجعي ورکړ ښځه دي له مېړه نه جلا کېږي. هري خواته چي يې مېړه ځي دادي هم ورسره ځي. خو افضله داده چي رجوع ورته وکړي.

مسئله: که مېړه ښځي ته بائن طلاق ورکړ، نو مېړه يې ځني پردی سو. په دې صورت کي که د مکې او د وطن دواړو ترمنځ د سفر واټن تر درو ورځو کم وو بيا د ښځي اختيار دی مکې ته ځي يا که وطن ته ګرځي. محرم ورسره وي او که نه. په ښار کي وي يا په ځنګله کي. خو افضل کار دادی چي وطن ته ولاړه سي او که يوه لوري ته د بشپړ سفر واټن وو او بل لوري ته تر سفر (درو ورځو) کم واټن وو هغه لوري ته به ځي چي واټن يې کم دی. هغه لوري ته به هيڅ نه درومي چي سفر يې اوږد وي. او که هري خوا ته د بشپړسفر واټن وو او دا په ښار کي وه عده به په دغه ښار کي تېروي. که څه هم محرم ورسره وي. دا د حضرت امام ابو حنيفهؒ مذهب دی. مګر امام ابو يوسفؒ او امام محمدؒ وايي چي که محرم ورسره وو بيا د عدې د مودې تر ختمېدو دمخه هم له دغه ښاره تللای سي.

مسئله: که پر ښځي په کلي يا ځنګله کي عده لازمه سوه او هلته يې د ځان يا د مال خطره وه، کولای سي چي امن ځای ته ولاړه سي. خو د امام صاحب په نزد بيا د هغه د امن له ځايه د عدې د مودې تر پوره کېدو نه سي تلای که څه هم محرم ورسره وي او صاحبين (امام ابويوسف او امام محمد) وايي که محرم موجود وو بيا تلای سي.

مسئله: په پورتنيو ټولو صورتونو کي شرط دی چي ښځي احرام نه وي تړلی. که د احرام تر تړلو وروسته مېړه طلاق ورکړ او پر ښځه

عده واجبه سي له دې امله دغه ښځه د طلاق د عدې له امله محصره ګڼل کيږي، د فرضي حج احرام يې تړلی وي که د نفلي، پر کور وي که مسافره، په مکه مکرمه کي وي که له مکې څخه د سفر په واټن يا تر دې په لږ واټن ليري وي، که څه هم محرم ورسره وي پر هغې باندي هلته (د هغې د طلاق په ځای کي) د عدې تېرول لازم او واجب دي.

## د تيمم ترتيب او مسئلې

بسم الله الرحمن الرحيم ووایاست. د پاکۍ نيت وکړئ. دواړه ورغوي د ګوتو سره په داسي حال کي چي ګوتي مو خلاصي وي په پاکه مځکه يا په هر ګردجن شي چي د مځکي وچ توکي پکښې وي، لکه خښته، ګچ، ريګ، ډبره او داسي نور، خو مستعمل نه وي، ووهئ. بيا لاسونه څه وڅنډئ بيا يې پر مخ باندي د سر له وريښتانو څخه د زني تر لاندي برخي او د غوږونو تر نرمۍ پوري په ښه ډول سره تېر کړئ.

بيا د لومړي ځل غوندي دواړه لاسونه پر مځکه ووهئ. بيا د کيڼ لاس د خچې او درو نورو ګوتو مخ د ښي لاس د همدغو ګوتو پر شا کښېږدئ. بيايې د ښی لاس پر لاندي برخه تر څېنګلي پوري راکش کړئ. بيايې د دغه لاس پر پورتنۍ برخه تېري کړئ. وروسته ګوتي خلال کړئ.

بيا په ښي لاس سره پر کيڼ لاس باندي دغسي عمل تر سره کړئ. دواړه لاسونه تر څېنګلو پوري مسحه کړئ.

مسئله: د تیمم نیت نه بلکي د فرض یا نفل لمانځه د مباح والي یا طهارت لپاره نیت فرض دی. که څه هم د لمانځه د وخت تر داخلېدو د مخه وي. او بسم الله ویل د تیمم په لومړي کي سنت ده.

مسئله: که اوبه تر یوه میل نژدې وې، خو بېره وه چي لمونځ به قضاسي، بیا تیمم ووهئ لمونځ وکړئ. خو بېرته یې راوګرځوئ.

مسئله: د اوبو د نه پیدا کېدو له امله چي چا تیمم وهلی وي که یې له روان اورګاډي څخه اوبه یا چینې ولیدلې نو تیمم نه ماتیږي. خو احتیاط دادی چي که موقع وي بیا دي تیمم ووهي.

مسئله: که اورګاډی ودرېدی او پر تمځي اوبه پیدا کېدلې نو تیمم مات سو. که مو اودس نه کي تازه او اورګاډی رهي سو، نو بیا تیمم وهل ضروري دی.

مسئله: که په اورګاډي کي کوم هندو یا کافراوبه درکولې او ستاسي د هغه له اوبو څخه کرکه کېدل، تیمم روا نه دی هغه اوبه ځني واخلئ اودس په تازه کړئ. خو که یې نه درکولې نو تیمم روادی.

## په الوتکه، بېړی، اورګاډي او بس کي د لمانځه مسئلې

مسئله: که الوتکه څه وروسته پر مځکه کښېني او کېدای سي چي تر الوتکه دباندي لمونځ وکړئ، نو لمونځ وځنډوئ. خو که د وخت د تلو اندېښنه وي او مځکي ته کښته کېدل ستاسي په اختیار نه وي. نو د قبلې لوری حتی الامکان معلوم کړئ، په الوتکه کي ودرېږئ لمونځ وکړئ. په سفر کي مخ پر قبله پر لمانځه درېدل ضروري دي له دې پرته لمونځ نه کیږي. که په درېدلو کي څه عذر وي په ناستي لمونځ وکړئ.

مسئله: که په الوتکه کې په ولاړي لمونځ کولای سئ خو دونه ځای نه وي چې په ولاړي لمونځ وکړئ، نو په ناستي لمونځ وکړئ، خو بیا به دغه لمونځ راګرځوئ. ځکه چې د ځای د تنګۍ له امله د قیامي (ولاړي) فریضه نه ساقطیږي.

مسئله: الوتکه چې پر مځکه ولاړه یا روانه وي تر دغه مهاله د اورګاډي حکم لري په هغې کې په اتفاق سره لمونځ روادی.

مسئله که په الوتکه کې د قبلې لوری تاسي ته یا له چا څخه په پوښتنه نه معلومیږي نو په غور او فکر د قبلې لوری وټاکئ لمونځ وکړئ. که وروسته ستاسي ټاکنه ناسمه هم معلومه سوه لمونځ مو درست دی، د راګرځولو ضرورت یې نسته. که مو پر سجده قدرت نه درلود نو په اشاره لمونځ وکړئ.

مسئله: د فرض لمانځه لپاره که د چا قدرت وي مستحب ده چې له بېړۍ او بس څخه ووزي او لمونځ وکړي. که بېړۍ تړلې او ولاړه وي لمونځ په اجماع سره پکښې روا نه دی.

مسئله: په روان یا ولاړ اورګاډي او بس کې چې د قبلې لوري ته ودریږئ لمونځ کول درست دي. که مو په ولاړي سر پرله ګرځي یا غوځاریږئ، نو په ناستي لمونځ کول روادي. له دغو عذرونو پرته، پر ولاړه باندي د وس سره سره په ناستي لمونځ درست نه دی. البته که په اورګاډي یا بس کې په ولاړي لمونځ کولای سئ خو دونه ځای نه وي چې په ولاړي لمونځ وکړئ، نو په ناستي لمونځ وکړئ، اما بیا به دغه لمونځ راګرځوئ. ځکه چې د ځای د تنګۍ له امله د قیامي (ولاړي) فریضه نه ساقطیږي.

مسئله: که د لمانځه په حال کي اورګاډی يا بس وګرځي او د قبلې لوری بدل سي، نو په لمانځه کي د قبلې لوري ته وګرځئ. په دې شرط چي د ګرځېدو ځای وي.

مسئله: په سمندر کي چي کښتۍ روانه وي نو په هغې کي د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد بېله عذره هم فرض لمونځ په ناستي کول جواز لري، خو په ولاړي د ټولو په نزد غوره دی. اما که کښتۍ ولاړه وي نو په هغې کي بېله عذره په ناستي لمونځ جايز نه دی.

## احرام

د احرام په احکامو کي ښځه کټ مټ د نارينه غوندي ده. توپير (فرق) يې يوازي دادی چي د ښځي سر پټول واجب باله سي او پر مخ يې جامه لګول منع ده. پر مخ د ټوکره نه نښلول واجب دي. خو ګنډلي جامې اغوستل ورته روا دي. ښځي ته ښايي چي د احرام په حال کي پر سر يو کوچنی دسمال وتړي، څو چي سر يې ښکاره نه سي. پر سر باندي د دغسي دسمال تړل د ستر د وجوب لپاره دی نه د احرام لپاره. ځکه چي د ښځي په سر کي احرام نسته. که فرضاً سر لڅ پرېږدي کوم جنايت نه پر اوړي. دسمال د پردي نارينه په وړاندي واجب دی او سر لڅول ګناه ده، خو د حج په احرام اړه نه لري. که يې د غسل کولو پر مهال لڅ کړي څه جنايت نه پر لازميږي.

مسئله: ښځي ته د پردي نارينه په مخ کي مخ لڅول او بې حجابي د حج په وخت کي وي که بل ځای په ټينګه منع ده. له دې امله دي پر سر باندي داسي شی ولګوي چي پر هغه ټوکر واچوي، له مخه يې

ليري ولاړ وي او وكولای سي چي د نامحرمو په حضور كي مخ پټ كړي او چي څوك نه وي بېرته يې پورته كړي.

يادونه: شريعت هري مسلماني ښځي ته ستر واجب كړی دی. خو په ډېره خواشيني سره بايد ووايو چي ډېري ستر ميني ښځي د حج په لار كي بې ستره سي او د حجاب سره مخه ښه وكړي. دغه راز ځيني په طواف كي د نارينه وو په منځ كي ډكې وهي. ځيني پر حجر اسود باندي په تېل ماتېل ور ګډي سي. پر لمانځه هم د مسجدالحرام په دالانو كي پر خپل ځای نه دريږي او د نارينه وو تر څنګ ولاړي وي. چي په دې ډول بې حجابۍ او قبيح اختلاط سره د حرامو او كبيره ګناوو مرتكبه سي او د «نېكي بر باد ګناه لازم» مصداق سي. نو تاسي فكر وكړئ چي د داسي حج د قبوليت به څه توقع وي چي څوك له دغسي مُحَرَّمَاتو او كبايرو څخه ځان ونه ساتلای سي.

د لوی څښتنﷻ او د هغه د رسولﷺ او د اسلام د امامانو لارښوونه خو داده چي ښځه دي په بشپړه توګه په ستر كي وي او په ستر كي د هغې د پت، عزت او رشتيانۍ آزادۍ ضمانت نغښتی دی. حجاب بې قيدو او له خپله فرهنګه پرديو، لوېديځ پلوو ښځو ته قيد ښكاري. په دې ډول ښځي ته يا د اطاعت لار سته يا د بغاوت! نو د هغې خوښه چي كومه غوره كوي:

په حج كي چي لا دا حال وي اسلام به څله خوار نه وي؟
«چو كفر از كعبه خيزد كجا ماند مسلمانی؟»

لنډه داچي د ښځي احرام د هغې په مخ كي دی او پر مخ تېوكر لګېدل منع دي. نو كه ښځه د پردو په وړاندي د ستر لپاره د احرام په

حالت کي يوه پيك داره خولۍ پر سر کړي او د هغې له پاسه ټوکر واچوي هم به يې ستر خوندي وي او هم به يې ټوکر پر مخ نه نښلي.

مسئله: ځيني ښځي د اودس تازه کولو پر مهال له سره ټوکر نه ايسته کوي، پر هغه سربېره مسح کوي. پر ټوکره د پاسه د سر مسح نه ده صحيح، بلکي ټوکردي ځه پورته کړي سر دي مسح کړي، بېله دې يې نه اودس، نه لمونځ، نه طواف، نه حج او نه عمره صحيح کيږي. ځکه دغه افعال بېله اوداسه درست نه دي او پر سر مسح فرض ده، بېله مسحي اودس نه کيږي.

مسئله: ښځي ته د احرام په حال کي ګنډلي او رنګه جامې اغوستل روا دي، خو چي په خوشبويه توکو نه وي رنګ سوي. که په دغسي شيانو رنګ سوي وي دوني دې پرې مينځي چي خوشبويي يې له منځه ولاړه سي.

مسئله: د احرام په حال کي ښځي ته د ګېڼې، موزو او د ستکلو استعمالول جايز دي، خو نه اغوستل يې ښه دي.

**د ښځې د حيض او نفاس مسايل:**

مسئله: که ښځي ته تر احرام دمخه يا تر احرام تړلو وروسته د مياشتني عادت (حيض) يا ځلوېښتې مشکل پېښ سو، د حج ټول افعال تر سره کول ورته جايز دي. دغسي ښځه دي غسل وکړي، خو که غسل ورته تاواني وي اودس دي تازه کړي، د احرام لپاره دي کالي واغوندي او د حج او عمرې نيت دي وکړي. احرام دي وتړي او په هغه دي په بشپړه توګه پابنده اوسي. تلبيه دي وايي (ښځو ته تلبيه ويل په لوړ آواز جواز نه لري، دغونه دې په زوره وايي چي خپل آواز په خپله واوري. البته که نامحرمه څوک نه وي په لوړ آواز يې هم

ویلای سي)، دعاوي، تسبیحات او د لوی څښتن ذکر دي کوي. صرف طواف او سعی ورته منع دي او نفلونه، پنځه ګوني لمونځونه او د قرآن کریم تلاوت دي هم نه کوي. که دغه حالت مکې مکرمې ته تر رسېدو دمخه یا په مکه مکرمه کې ورپېښ سو په مکه مکرمه کې دي واوسي، کله چي پاکه سي غسل دي وکړي، د بیت الله شریفې طواف او د صفا او مروه سعی دي وکړي. په دې توګه یې عمره ادا کیږي. په دغسي حال کي منا، عرفات، مزدلفې او نورو ټولو ځایونو ته هم تلای سي، تلبیه، ذکر، دعاوي او نور ټول کولای سي. شیطانان هم ویشتلای سي، قرباني هم کولای سي. خو تر څو چي پاکه سوې نه وي د زیارت طواف نه سي کولای. البته هر ځای او هر کله چي پاکه سوه، په منا کي وي که په مکه مکرمه کي یا بل ځای، په ذوالحجه کي وي که په محرم الحرام میاشت کي یا بل وخت، تر غسل کولو وروسته دي د زیارت طواف او د صفا او مروه سعی وکړي. په دې توګه یې حج وسو او هیڅ نقص نه پکښې راځي او نه یې ثواب کمیږي.

مسئله: کله چي ښځي ته د حیض یا نفاس تکلیف پېښ سي او دا په احرام کي وي، دې ته د حج د ټولو مناسکو تر سره کول روا دي، خو طواف او سعی نه ده ورته روا. تر دې وروسته پر هغې طواف قدوم نسته. دا دي پر عرفات باندي تر درېدو وروسته تر پاکېدو انتظار وباسي، کله چي پاکه سوه طواف زیارت، د حج سعی او طواف وداع دي وکړي. دا په هغه صورت کي چي ښځي د افراد حج احرام تړلی وي. خو که متمتعه او قارنه وي او پر عرفات تر درېدو دمخه پاکه نه سي دا دي د افراد حج اعمال تر سره کړي او تمتع او

قران يې ساقط سو. اما که پر عرفات تر درېدو دمخه پاکه سوه نو دي د متمتعي او قارني اعمال تر سره کړي.

مسئله: که د کومي ښځي تل ويني رواني وي او د حيض د عادت ورځي څني ورکي وي، نو دا دي له اټکله کار واخلي او ودې اټکلوي چي په کومو ورځو کي د حيض ناروغي را پيښېده، بيا دي د دې اټکل سره سم هغه ورځي چي د پاکۍ وې د پاکۍ وشمېري او نوري دي د حيض وبولي. خو که يې د اټکل له مخي هم د خپلي ناپاکۍ ورځي نه سوای معلومولای نو دي احتياط اختيار کړي، يوه پلا دي طواف زيارت وکړي بيا دې لس ورځي وروسته بيا طواف زيارت وکړي. بيا دي طواف وداع وکړي اما دا طواف دي دوهمه پلا نه کوي. نور طوافونه دي هيڅ نه کوي او مسجد ته دي هم نه ننوزي.

مسئله: که ښځي ته د طواف په حال کي حيض ورغی، نو سمدستي دي طواف بند کړي او له مسجده دي ووزي. او څنګه چي سعی د طواف تابع ده سعی دي هم نه کوي.

يادونه: پخوا داسي کېدل چي که به ښځي په پاکي کي طواف وکړ او بيا به تر سعيي دمخه يا د سعيي په حال کي حيض ورغی نو په دغه حال کي به يې سعی کولای سول، ځکه چي په سعی کي پاکي لازمه نه ده. خو اوس څنګه چي د سعيي ځای په مسجدالحرام کښې سوی دی او د سعيي ځای هم مسجد بلل کيږي، نو څنګه چي مسجد ته حايضه نه سي ورتلای له دې امله په ناپاکي کي سعی نه سي کولای.

مسئله: که ښځي د حج په ورځو کي د حج د ټولو افعالو پر ټاکلي وخت تر سره کولو لپاره داسي درمل استعمال کړي چي د لنډ مهال

لپاره د حیض ویني ودروي، نو کومه بدي پکښي نسته. له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه پوښتنه وسوه چي که کومه ښځه د طواف وداع د ادا کولو لپاره د حیض بندوونکي درمل وخوري څو طواف وکړي او رهي سي نو آیا داسي روا دي؟ هغه وویل په دې کي څه حرج [گناه] نسته. عمدة المناسك ۶۰۱ مخ د جدید فقهي مسایل او القرٰی په حواله.

پوښتنه: آیا هغي نفاسې (نفساء) ښځي ته چي تر څلوېښتو ورځو د مخه پاکه سي د حج اعمال تر سره کول روا دي؟

جواب: هو، دې ته روژه، لمونځ، حج او عمره (د حج او عمرې طوافونه او سعیي) روادي. که تر څلوېښتو په لږو ورځي کي پاکه سوه غسل دي وکړي او تر غسل وروسته دغه ټول کارونه کولای سي. ځکه د نفاس لږي مودې ته حد نسته. که یې بیا په دغو څلوېښتو ورځو کي ویني راسي دغه کړي کارونه چي یې په پاکي کي کړي دي صحیح دي. خو کله چي یې څلوېښت ورځي تېري سي او بیا یې هم ویني راځي نو نفاس یې ختم دی او دا د پاکو ښځو په حکم کي ده. غسل دي وکړي او لمونځ او طواف او سعی کولای سي. دا به د هر لمانځه لپاره او د طواف په پیل کي اودس تازه کوي، بیا به طواف کوي.

**د نر ښځي احرام**

مسئله: خنثٰی مشکل یعنی چي نر او ښځه یې نه وي معلومه په ټولو احکامو کي د ښځي غوندي دی. د پردي نارینه یا ښځي سره یې اوسېدل نه دي روا.

## احرام ته چمتو والی

د احرام تر نیت دمخه لاندي څو کارونه سنت دي باید ترسره سي:

- کوم وخت چي د احرام د تړلو اراده وکړئ نو لومړی د ځان نظافت ته پام واړوئ.
- تر نامه لاندي او د بغلو او د بدن غیر ضروري وریښتان پاك کړئ. د دې وریښتانو د ایسته کولو په اړه حکم دادی چي په اوونۍ کي یو وار یا پنځلس ورځي وروسته او زیات تر زیاته تر څلویښتو ورځو پوري هغه پاک کړئ. که یې تر دې زیاته موده پرېږدئ ګنهکاره بلل کیږئ.
- نوکان واخلئ.
- لاسونه په نکریزو سره کړئ. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمایي چي د ښځي لپاره تر احرام دمخه په لاسونو نکریزي وهل سنت دي (مغني ۵/ ۱۵۸مخ).
- که میړه او میرمن یو ځای حج ته ځي نو د احرام تر نیت دمخه صحبت کول مستحب باله سي.
- بیا د احرام په نیت غسل وکړئ. د ښځي لپاره که څه هم په میاشتني عادت یعني حیض یا څلویښتي یعني نفاس کي وي هم غسل سنت دی. خو د احرام دوه رکعته نفل مه کوئ. صرف مخ پر قبله کښېنئ او د عمرې نیت وکړئ، درې واره تلبیه کرار ووایاست. مسواك، صابون او شامپو هم استعمالولای سئ. بیا په سر د وریښتانو کریم یا داسي نور هم

وهلای سئ او بړمونځولای يې هم سئ. که په کوم سبب غسل نه سوای کولای بيا اودس تازه کړئ.

**د الوتکي د مسافر د احرام تړلو طريقه**

د نن مهال د هوايي ډګرونو او الوتکو د ډول ډول ستونزو او پېښو په پام کي نيولو سره د الوتکو سفر کوونکو ته د احرام تړلو په هکله دوې ستونزي پېښېدونکي دي: يو داچي که تاسي الوتکي ته تر ختلو دمخه په هوايي ډګر کي احرام وتړئ ښايي سفر مو ټال سي او د احرام د ستونزو سره مخامخ سئ. بل داچي که بېخي هغه مهال احرام تړئ چي الوتکه مو د «ميقات» (د احرام تړلو ټاکلي ځای) برابرۍ ته ورسيږي. څنګه چي الوتکه ډېره چټکه ځي ښايي نيت مو د ميقات تر تېرېدو وروسته سوی وي. چي په دې صورت کي دم لازميږي، نو ښه داده چي کومي خوندي چي په الوتکه کي جدې ته ځي الوتکي ته تر سپرېدو دمخه غسل وکړي، د احرام لباس خو يې هغه عادي کالي دي، هغه خو يې بېله دې له کور څخه اغوستي دي، دوه رکعته سنت دي وکړي، په الوتکه کي دي سپره سي، کله چي پوه سوه چي د الوتکي سفر له ټالېدو ووتی او اوس نو ميقات ته نژدې کېدونکې يم نو دي د احرام نيت وکړي او په «لبيك» ويلو دي پيل وکړي.

تاسي د حج په سفر کي تر ميقات دمخه، ان له خپلهکوره هم احرام تړلای سئ. خو که په الوتکه کي سيده جدې ته ځئ هغه د حرم د پولو پر برابري تېرېږي. نو که څوك په الوتکه کي د ميقات د پولو ها خواته د احرام نيت وکړي يا جدې ته ورسيږي د احرام نيت

وکړي دم پر اوړي. (د حج مسنون له ۹۶ مخ او معین الحجاج لـه ۲/ ۹۹ مخ څخه په استفاده).

### د احرام تړلو طریقه

د ښځو د عفت او عزت د ساتلو لپاره باید د هغو احـرام لـه ډېـرو سترمینو کالو څخه وي. البته د ښځي احرام د هغې ورځني کالي دي. داسي کالي چي موزون او مناسب او پاک وي او د موسـم د غوښـتنو سره هم سم وي کوم چي د بدن د پر حفاظت سر بېره روغتیا تـه هـم ګټور وي. خو داسي کالي وانه غوندئ چي ډېر ښکلي وي او د خلکـو د نظر جلبولو او فتنې سبب سي. یا ستاسـي د اسـلامي حیثیـت سـره سم نه وي. ډېر تنګ، نازک او لنډ او د غربي موډ کـالي وانـه غونـدئ چي دا نه دا چـي د شـریعت خـلاف دي، بلکـي د فطـرت او صـحت خلاف هم دي.

مسئله: ښځو ته ښایي چي کوم دسمال چي پر سر اچـوي هغـه لـه تندي څخه ونه ښلي. که نه جزا به ورکوي. ځکه چي د احرام په حال کي د ښځي پر تندي ټوکر ښلول جواز نه لري. تندی د مخ یوه برخه باله سي.

وروسته د احرام په نیت دوه رکعته سنت وکړئ. (البته چي مکروه وخت نه وي). په جلومړي رکعت کي تر ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ وروسته ﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْكَـٰفِرُونَ ۝١﴾ او په دوهم رکعت کي ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ وایاست. یا په دواړو رکعتونو کي ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ یاکوم بل سورت چي ستاسي په یاد وي ووایاست. البته دغه نفل لمونځ د

احرام د سنتو په نیت وکړئ. تر سلام ګرځولو وروسته قبلې ته مخامخ کښینئ، پر هغه ځای (د زړه په حضور) نیت وکړئ.

که مو یوازې د (مفرد) حج د احرام نیت کاوه په دې الفاظو یې وکړئ: «اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ اَلْحَجَّ فَیَسَّرْهُ لَیْ وتَقَبَّلْهُ مِنّی» (ای لویه څښتنه! زه د حج نیت کوم نو ماته یې آسانه کړې او راڅخه قبول یې کړې).

که مو تمتع حج کاوه نو لومړی به د عمرې د احرام نیت تړئ. د عمرې د احرام نیت په دې الفاظو وکړئ: «اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ اَلْعُمْرَةَ فَیَسَّرْهَا لَیْ وتَقَبَّلْهَا مِنّی». (ای لویه څښتنه! زه د عمرې نیت کوم نو ماته یې آسانه کړې او راڅخه قبوله یې کړې). البته د یوازې عمرې نیت هم په پورته ډول تړل کیږي.

که مو د حج اوعمرې (قران) نیت کاوه بیا یې په دې الفاظو وکړئ: «اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ اَلْحَجَّ وَاَلْعُمْرَةَ فَیَسَّرْهُمَا لَیْ وتَقَبَّلْهُمَا مِنّی». (ای لویه څښتنه! زه د حج او عمرې نیت کوم نو ماته یې آسانه کړې او را څخه ویې منې).

که مو دا الفاظ نه سوای ویلای پښتو ژباړه یې ووایاست.

**تلبیه**

تر نیت وروسته په کرار آواز درې واره تلبیه ووایاست. د تلبیې الفاظ دادي:

«لَبَّیْكَ، اَللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ، لَبَّیْكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِیْكَ لَكَ».

ژباړه: زه حاضره یم ای لویه څښتنه! زه حاضره یم تالره هیڅ شریك نسته. زه حاضره یم. بېشکه چې ټوله تعریفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچهي تالره ده. تا لره هیڅ شریك نسته.

یادونه: پوه سئ چې احرام د تلبیې ویلو له وخته تړل کیږي. مازي د نفلو په کولو نه پیل کیږي. دغه راز د سفر په دوران کي د کښېنستو، ولاړېدو ګرځېدو، وتو، ننوتو، ختو، کښته کېدو، پرېوتو، پاڅېدو، تر هر لمانځه وروسته، د ملاقات پر مهال، سهار، ماښام، د لاري پر لوړه او کښته، لنډه دا چي هر وخت دغه تلبیه وایاست. د احرام په دوران کي تر تلبیې بل غوره ذکر او وِرْد نسته

بیا تر تلبیې ویلو وروسته درود شریف ووایاست. بیا چي مو زړه غواړي هغه دعا وکړئ. خو دا دعا مستحبه ده: «اللهم اِنِّیْ اَسْئَلُكَ رِضَاكَ وَالْجَنَّةَ وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ غَضَبِكَ وَالنَار». (ای لویه څښتنه! زه ستا د خوښۍ او جنت غوښتونکې یم او په تاسره ستا له غضب او دوږخه پناه غواړم.

تر نیت کولو او تلبیې ویلو وروسته احرام وتړل سو. اوس چي کوم شیان احرام کوونکي ته منع دي له هغو ځان ګورئ.

مسئله: په یاد مو وي چي د احرام نیت ضروري دی. که چا د احرام نیت ونه کی او تلبیه یې وویل نیت یې نه صحیح کیږي. نیت او تلبیه دواړه لازم دي. نیت کول په زړه او ژبه دواړو ښه اوغوره باله سي.

مسئله: تلبیه په ژبه ویل شرط باله سي. که چا یوازي په زړه کي وویل کفایت نه کوي.

مسئله: د احرام لپاره تلبیه یو وار ویل واجب او درې واره ویل سنت باله سي، نو تلبیه به درې واره وایاست.

مسئله: په کوم طواف کي چي احرام نه وي په هغه کي تلبیه مه وایاست.

یادونه: دا چي نن مهال دود ګرځېدلی چي یو سړی تلبیه وایي او نور ډېر نر او ښځي هغه تکراروي دا د سنتو خلاف کار دی. په دغسي کسانو سر مه ګرځوئ او کار هم مه په لرئ، خو هوښ کوئ چي د هغو ملګري نه سئ، خپله تلبیه جلا وایاست چي دا سنت طریقه ده.

### هغه خبري چي په احرام کي منع دي

کله چي ښځه په پورته ډول نیت و تړي نو دي له لاندي خبرو څخه ځان وژغوري. د احرام په حال کي د دغو شیانو تر سره کول هم ګناه ده او هم جرمانه پر واجبیږي. ان چي په ځینو صورتونو کي دم (قرباني) لازمیږي.

- د احرام په حال کي د ښځي پر مخ ټوکر نښلول منع دي. پر مخ ټوکر مه نښلوئ. مخ موپه ټولو حالاتو کي؛ د خوب په حال کي وي که د ویښتیا په حال کي باید لڅ وي. البته له نارینه وو څخه د ستر لپاره له مخ څخه لیري ټوکر اچول لازم باله سي.
- پر کالو، بدن او سر خوشبویي مه وهئ او مه خوشبویي لرونکي کریم او داسي نور استعمالوئ او مه په خپله اراده سره خوشبویي بویوئ.
- خوشبویه صابون مه استعمالوئ او مه خوشبویه خواړه خورئ.

- د احرام په حال کي له هر ډول ګناهونو څخه، په تېره له غیبت، چغلۍ، تور لګولو، یو له بله سره اچولو او چټي خبرو کولو او داسي نورو څخه په کلکه ډډه وکړئ.
- د خپلو ملګرو یا له بل چا سره جنګ جګړه مه کوئ، ښکنځل منع دي او له قهر او غوسې څخه هم ځان وساتئ. دا ډېر ستر ګناهونه دي چي باید په حج کي په کلکه ډډه ځني وسي، خو له بده مرغه زموږ ځيني حاجيان دغه ګناهونه په پوهه یا ناپامي سره د حرم په سپېڅلي اُرشو کي تر سره کوي. ډېر لیدل سوي دي چي ځيني حاجيان پر ډېره کوچنۍ خبره د خپلو ملګرو یا نورو سره جنګ جګړه کوي او کله ناکله خبره تر ښکنځلو او لاس اچولو رسيږي چي دا ډېر بد کار دی.
- د سر او کالو شپږي وژل او یا د شپږو د وژلو لپاره کالي لمر ته اچول منع دي.

مسئله: که یې یوه شپږه مړه کړه یا یې جامې لمر ته واچولې څو شپږي مړې سي یا یې د شپږو د وژلو لپاره جامې پرېولې نو به د یوې شپږي په بدل کي یوه ټوټه ډوډۍ یا یوه خرما ورکوي. د دوو درو په بدل کي به یو مټ غنم ورکوي. که له درو زیاتي وي هر څوني چي وي پوره صدقه یعنی نیمه پیمانه غنم به ورکوي.

مسئله: که چا په احرام یا حرم کي ملخ مړ کړ جزا پر لازميږي. د ملخ جزا کټ مټ د شپږي غوندي ده.

مسئله: که یې ملخ په قصد مړ کړ یا یې په خطا تر پښو لاندي سو مړ سو جزا پر واجب ده.

- د سر یا بدن له کومې برخې څخه وریښته یا نوک په خپله یا په بل پرې کول هم منع دي.

پوښتنه: که د چا له سر څخه په خپله وریښتان ولوېږي څه وکړي؟

جواب: که د محرم له سر څخه نر وي که ښځه پخپله یا د اوداسه پر مهال د سر د مسحه کولو یا غسل کولو په وخت کې څو وریښتان ولوېږي پر وا نه کوي. ځکه دا مړه یا ختلي وریښتان دي چې په ښوریدو سره پخپله لویږي. که نوک په خپله ولوېږي هم یې دغه حکم دی.

- د احرام په حال کې نکریزي وهل، په سر رنګ وهل (خضاب په وهل)، پر سر کُنډري وهل چې وریښتان ترلاندي پټ سي جواز نه لري او که وریښتان نه سوه تر لاندي پټ بیا مکروه دي.
- په نوکانو رنګ وهل، لب سرین او نور استعمالول په عامو حالاتو کې هم درست نه دي، خو د احرام په حال کې بېخي جواز نه لري.
- د مېړه سره یو ځای کېدل (خاص کار کول) د یوځای کېدو خبرې یا شهوت پاروونکې خبرې چې خوند پر اخیستل کیږي او په غیږ کې نیول او مچول په کلکه منع دي.

## مکروه چاري

ښځې دي د احرام په حال له لاندي شیانو څخه ځانونه وژغوري، خو که له دغو څخه کوم څه ترسره کړي کومه جرمانه [دم] یا [صدقه] نه پر واجبیږي:

- لونګ، هېل او نور خوشبویه توکي خوړل مکروه دي

- په هغه صابون چي خوشبويه نه وي ځان پرېولل او له بدن څخه خيري ايسته كول مكروه دي.
- سر بږمونځول مكروه دي.
- كه د سر د وربښتانو د تويېدو انديښنه وي ګرول يې مكروه دي.
- هغه كالي چي خوشبويي په وهل سوې وي اغوستل مكروه دي.
- په خوشبويي لاس وهل يا يې بويول يا د خوشبويي لپاره د عطار دكان ته ورتلل يا خوشبويي لرونكى بوټى يا ګل يا مېوه بويول مكروه دي. خو كه بېله قصده خوشبويي درغله باك نه كوي.
- تندى پر بالښته ايښوول مكروه دي، خو سر يا باړخو پر بالښت ايښوول نه دي مكروه.
- په روى پاک يا بل څه مخ پاكول مكروه دي، خو له بده مرغه زيات حاجيان دې خبري ته پام نه كوي. دغه راز د كعبې شريفي تر پوښ لاندي داسي درېدل چي پوښ پر مخ ولګېږي هم مكروه دي.

## روا خبري

د احرام په حال كي لاندي خبري بېله كراهيته روا دي:

- د ګرمۍ څخه د ژغورني يا د دوړو د ليري كولو لپاره په ساده اوبو يخي وي كه تودې غسل كول جواز لري، خو هوښ كوئ چي د پرېوللو په وخت كي له ځانه خيري ليري نه كړئ.

- ګوتمۍ په ګوته کول، سایوان استعمالول، په هینداره کې کتل، مسواک وهل، غاښونه کښل، عینکې استعمالول، مات نوک پرې کول، له سترګې وربښته ایسته کول، دانه کښېکښل، د بدن پر مات او ټپي غړي باندې که څه هم سر یا مخ وي پټۍ تړل او په یخه هوا کې تلتک یا کمپل پر ځان اچول چې سر او مخ پټ نه سي پروا نه کوي.
- د احرام په حال کې پېچکارې یا د کوي واکسین تطبیقول هم پروا نه کوي.
- ګېڼې او دسکلې استعمالول جواز لري، خو نه استعمال یې غوره دی.
- پر ټپ باندې پټۍ ایښوول او په سترګو د هغو رنجو وهل چې خوشبویه نه وي هم جواز لري.
- سامان او داسې نور پر سر اخیستل هم پروا نه لري.
- د هغو شربتو چیښل چې خوشبویه نه وي هم پروا نه کوي.
- د احرام د کالو کښل او پرېولل او نور اغوستل هم پر وا نه کوي.
- د سر او ټول بدن کرار کرار ګرول، په دې شرط چې د وربښته د رژېدو یا د سر د وینې کېدو اندېښنه نه وي پر وا نه کوي. خو که په زوره ګرول کېږي او د وربښته د ماتیدلو اندیښنه نه وه بیا په زوره هم جایز دي، که څه هم وینې سي.
- د موذي او چیچونکو خزندو، لکه مار، لړم، مچ، کیکې او داسې نورو وژل هم پر وا نه کوي.

## د میقاتونو بیان

میقات په اصل کې ټاکلي وخت او ټاکلي ځای ته وایي. د حج میقاتونه دوه ډوله دي: زماني میقات او مکاني میقات.

### زماني میقات:

د حج زماني میقات دا درې میاشتي دي: د کوچني اختر میاشت (شوال)، د میانۍ میاشت (ذوالقعده) او د لوی اختر د میاشتي (ذو الحجې) لس لومړۍ ورځې.

### مکاني میقات:

یعنی هغه ځای چې احرام تړل ځني واجب وي او دا پر درې ډوله دی:

1- د آفاقیانو میقات: یعنی د هغو خلکو میقات چې له میقاته د باندي اوسیږي.
2- د حل د استوګنو میقات: یعنی د هغو خلکو میقات چې له حرم څخه د باندي او په میقات کې دننه وي.
۳- د حرم د اوسېدونکو میقات: یعنی د مکې د اوسېدونکو او هغو خلکو میقات چې د حرم په حدودو کې دننه وي.

### د آفاقیانو میقاتونه دا دي:

1- ذوالحلیفه (بئر علي) د هغو میقات دی چې د مدینې منورې لخوا راځي.
2- ذات عرق د هغو میقات دی چې د عراق لخوا راځي.
3- جحفه د هغو میقات دی چې د شام، مصر او نورو لوریو راځي.

4- قرن (قرن المنازل یا سَیْلِ کبیر) د هغو میقات دی چي د نجد پر لار راځي.
5- یلملم د هغو میقات دی چي له هند، پاکستان، بنګله دېش یا له یمنه راځي.یمنی وی، افغانی وي که نور.

د حل او میقات د اوسېدونکو لپاره د حل ټوله مځکه میقات دی. دوی باید د حج او عمرې احرام له حل څخه وتړي. لـه کـوره د دوی احرام تړل افضل دي.

د مکې د اوسېدونکو د حج د احرام تړلو لپاره د حرم ټولـه مځکـه میقات ده او د عمرې د احرام لپاره د حل ټوله مځکه میقات ده.

مسئله: څوك چي له میقاته دباندي اوسي او د مکې یـا د حـرم پـه نیت چي د حج، عمرې یا سوداګرۍ یا بل هر څه لپاره سفر کوي پر هغه باندي چي میقات ته ورسیږي د حج یا د عمـرې احـرام واجـب دی.

مسئله: تر میقات دمخه، ان له خپله کوره د احرام تړل جایز، بلکي افضل دی. په دې شرط چي د احرام په جنایاتو د اخته کېـدو بېـره نـه وي. که نه تر میقات دمخه احرام تړل مکروه دي.

مسئله: که آفاقي مکې ته ورسېدی او عمره یې وکـړه، حـلال سـو. بیا د ده میقات د مکې د اوسېدونکو غوندي دی. یعنی د ده د حـج د احرام لپاره حرم او د عمرې د احرام لپاره حل میقات بالـه سـي. خـو له تنعیم څخه عمره راوړل افضل ده.

مسئله: که د مکې اوسېدونکی له مکې ولاړی او تر میقـات ور تېـر سو بیا چي مکې ته راستنیږي ده تـه هـم د آفـاقي غونـدي لـه میقـات څخه د احرام تړل واجب دي.

## جدې ته تر رسېدو وروسته

جدې ته چې ورسېدلاست د لوی څښتن ډېر ډېر شکرونه ادا کړئ چې منزل مقصود ته نژدې سوي یاست او تلبیه موقع په موقع په لوړ آواز ډېره وایاست او ټول وختونه د خدای په ذکر بوخت سئ.

## د حرم پولو ته ننوتل

کله چې د حرم تر پولو ورتېر سولاست نو پوه سئ چې اوس د احکم الحاکمین د دربار ځانګړي انګړ ته ننوزئ. دغه مهال په ډېر ادب او عاجزي استغفار ووایاست او دا دعا ولولئ: «اللهم ان هذا حرمك وحرم رسولك. فحرم لحمي ودمي وعظمي على النار. اللهم اٰمني من عذابك يوم تَبعثُ عبادَك واجعلني من اوليائك واهل طاعتك وتب عليَّ انك انت التَّوابُ الرحيم». (که د دغي دعا عربي الفاظ نه سئ ویلای ژباړه یې ووایاست).

ژباړه: ای لویه څښتنه! دا ستا او ستا د سپېڅلي پیغمبرﷺ حرم دی. نو زما غوښي،ویني او هډوکي پر اور باندي حرام کړې. ای لویه څښتنه! په هغه ورځ چې ته خپل بندګان بیا راپاڅوې ما له خپله عذابه وساته او ما له خپلو ولیانو او طاعت کوونکو څخه وګرځوه. زما توبه قبوله کړه. بېشکه چې ته توبه قبلوونکی او ډېر رحم کوونکی یې.

وروسته درودونه او تلبیه وایاست او د لوی څښتن حمد او ثنا او شکرونه ادا کړئ چې تاسي ته یې دا ستر سعادت در په برخه کړ.

### مکې مکرمې ته ننوتل

کله چې مکه مکرمه په نظر درسي دا دعا ووایاست:

ای لویه څښتنه! ماته په مکه مکرمه کي آرام او حلال رزق را نصیب کړې.

مکې مکرمې ته په ډېر ادب او عاجزي تلبیه ویونکی ننوزئ او هغې ته دننوتلو پر مهال دا دعا وایاست:

ای لویه څښتن! ته مي رب یې اوزه دي مینځه یم. راغلې یم چې ستا فرض ادا کړم، ستا رحمت وغواړم او ستا رضا تر لاسه کړم. ستا د امر متابعت وکړم او په قضا دي رضاسم. زه ستا څخه د هغو وګړو په شان سوال کوم چې ډېر اړ دي او ستا له عذابه ډېر ډاریږي او له عقابه دي ډېر بېریږي. د دې سوال کوم چې نن مي صرف ستا په بخښنه، وبخښې او په خپل رحمت مي وساتې، تر ګنهونو را تېر سې او ستا د فرضو پر ادا کولو مرسته را سره وکړې.ای ربه! ستا د رحمت ورونه راته پرانیزه او په هغو مي دننه کړه او د ترټلي شیطان له تېرایستلو مي وساته.

### مسجد الحرام ته ننوتل

په داسي حال کي چې اودس مو تازه کړی وي، مسجد الحرام ته د ننوتو پر وخت راسته پښه د دروازې دننه کښېږدئ، بیا دا دعا ووایاست:

«بِسْمِ اللهِّ والصلاةُ والسلامُ على رسولِ الله. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِي وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ».

ژباړه: د لوی څښتن په نامه مسجد ته ننوزم. د هغه پر استازيﷺ دي د هغه رحمت او سلامتي وي. ای لويه څښتنه! ما وبخښه او د خپل رحمت ورونه راته پرانيزه

بيا مخامخ د بيت الله پرلوري ورسئ. تلبيه واياست او په تواضع او عاجزي د بيت الله الحرام عظمت او جلال ته پام وکړئ.

مشوره: په مسجدالحرام کي د خپل محرم سره لومړی يو ښکاره ځای وټاکئ څو که بالفرض سره ورك سئ په همدغه ټاکلي ځای کي به سره غواړئ. داسي ډېر سوي دي چي له ښځي څخه خپل سړی يا محرم په حرم شريف کي ورك سوی وی، بيا يو دبل په پيدا کولو پسي په ورځو ورځو لالهانده وي.

دپام وړ يادونه: تاسي چي مسجد الحرام ته ننوزئ که څه هم د ډېر لږ وخت لپاره وي د اعتکاف نيت وکړي. په مسجدالحرام او نبوي مسجد کي بايد په ځانګړې توګه دا خبره په پام کي ونيول سي. دا ډېره مهمه خبره ده او بايد ډېر پام ورته وسي.

پام مو وي چي هر وخت له مسجد څخه د وتلو پر مهال دغه دعا وواياست: «اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ».

ژباړه: ای لويه څښتنه! زه ستا د فضل غوښتونکې يم.

**د لومړي ځل لپاره د کعبې شريفي د ليدلو شيبې**

کله چي مسجد الحرام ته ننوزئ او بيت الله شريفه ووينئ، سمدستي دا دعا درې واره وواياست: «اللهُ اَکبَرْ ولَا اِلَهَ اِلا الله».

بیا درود شریف ووایاست او څه دعاوي چې مو زړه غواړي ویې کړئ. دا د دعاوو د قبلیدو خاص مقام او ځای دی. دغه دعا هم ووایاست:

ای لویه څښتنه! له ماڅخه راضي سه او ماته جنت راکړه. زه ستا له نه رضائیت او دوږخ څخه پناه غواړم. ما له دوږخ څخه وساته.

ای لویه څښتنه ستا پیغمبرﷺ چې د کعبې شریفي د لیدو پر وخت کومي دعاوي کړي دي یا یې موږ ته د کولو فرمایلي دي هغه ټولي زما لخوا قبولي کړې. آمین.

فایده: کومي دعاوي چې له رسولﷺ څخه نقل سوي دي که هغه د چا په یاد وي نو د هغو ویل افضل دي. خو که د چا نه وي په یاد، نو چې زړه یې غواړي هغه دعاوي دي کوي.په حج کي په کوم ځای کي کومه داسي ځانګړې او ټاکلې دعا نسته چې د هغې ویل ضروري وي. په هره دعاکي چې خشوع او خضوع زیاته وي هغه دي وایي. البته که دغه دعاوي په عربي نه، بلکي په خپله ژبه ووایاست هم پروانه کوي.

مسئله: دعاوي باید د لوی څښتنﷻ په حمد او ثنا او پر رسولﷺ په درودونو او سلامونو، په توبه او استغفار پیل سي او د هغه ستر ذات د نومونو او صفاتو په توسل سره تر سره او بیا په حمد او صلاة پای ته ورسیږي.

# عمره او مسایل يې

عمره په لغت کي مطلق زيارت ته وايي. او په اصطلاح کي له ميقات يا حل څخه د احرام تړلو، پر بيت الله باندي طواف او د صفا او مروه تر منځ سعيي ته وايي. عمرې ته «حج اصغر» هم وايي. د عمرې د فضايلو په هکله هم په قرآن کريم کي او هم د رسولﷺ په صحيحواحاديثو کي يادوني سوي دي. رسولﷺ فرمايي: «يوه عمره تر بلي عمرې پوري د هغو ګناهونو چي د دې دوو عمرو په منځ کي تر سره سوي وي د کفارې سبب ده او د مبرور حج لپاره بېله جنته بل ثواب نسته». دغه راز رسولﷺ فرمايي: «په روژه کي عمره د يوه حج سره برابره ده». په يوه بل روايت کي دي چي رسولﷺ وويل: «په روژه کي د عمرې ثواب د هغه حج سره برابر دی چي زما سره يې کړی وي».

مسئله: له مکې مکرمې څخه د عمره کوونکو د احرام ميقات حل (د حرم له پولو د باندي او د ميقاتونو د ننه ځکه) دی. د حل له اُرشو څخه چي مو له هره ځايه زړه غواړي هلته ولاړ سئ او احرام وتړئ، خو افضل تنعيم دی او تر هغه وروسته له جعرانې څخه احرام تړل کيږي.

مسئله: په عمره کي دوه فرضه دي يو احرام، بل طواف. او د احرام لپاره تلبيه او نيت فرض دي، خو د طواف لپاره صرف نيت فرض دی.

مسئله: دصفا او مروه په منځ کې سعی او د ورېښتانو د څلورمې برخې د يوې ګوتې د بند په اندازه پرېکول د عمرې له واجباتو څخه دي.

مسئله: د ښځې سر خريل حرام دي. دښځې لپاره هم کله چې د عمرې د پای ته رسېدو يا د حج د مناسکو د پای ته رسېدو پر مهال له احرامه وزي د سر د څلورمې برخې د ورېښتانو څوکې د يوې ګوتې د بند په اندازه پرې کول واجب دي. خو د هغې د سر د ټولو ورېښتانو څوکې د ګوتې د يوه بند په اندازه پرې کول سنت دي. نوښه داده چې ښځه خپل ورېښتان په خپله، يا په بله ښځه يا په محرم د ګوتې تر بند څه زيات پرې کړي. په دې توګه به يې ټول لوی اوکوچني ورېښتان پرې سوي وي.

څرګندونه: په عمره کې څلور شيان دي: احرام، طواف، سعی او د ورېښتانو پرې کول. د عمرې لپاره احرام شرط دی او د طواف اکثره برخه يعني څلور شوطه ادا کول رکن باله سي، نور درې شوطه ادا کول واجب دي.

مسئله: ډېرې عمرې مکروه نه، بلکې مستحب دي.

مسئله: تر ډېرو عمرو ډېر طوافونه افضل دي.

يادونه: متمتع چې د عمرې تر طواف او سعيې وروسته له احرام څخه ووزي کولای سي چې بيا له تنعيم يا جعرانې څخه احرام وتړي او عمره وکړي. خو په دې کار کې بايد له توسط او منځ لارې څخه کار واخلي. اما لکه چې ليدل کيږي ځيني حاجيان په دې کار کې افراط کوي او د ورځې يو وار يا ان په يوه ورځ کې څو واره تنعيم يا جعرانې ته ځي احرام تړي او عمرې کوي. زموږ په مذهب کې ډېرې

عمرې منع نه دي، بلکي مستحب دي. خو لکه چي جید عالمان په خپلو کتابونو کي وايي تر ډېرو عمرو ډېر طواف افضل دی. زموږ د مذهب یو ستر عالم حضرت ملا علي قاريرحمه الله هم تر ډېرو عمرو ډېر طواف ته ترجیح ورکوي. دغه خبره د صحابه وورضي الله عنهم او تابعینو رحمة الله علیهم عمل ته ډېره نژدې ده. دغونه وخت چي تنعیم یا جعرانې ته پر ډېرو تلو راتلو لګیږي که پر طواف ولګیږي ښه به وي. په دې هکله د علمای کرامو تر منځ اختلاف هم سته. خو موږ ته د اکثریت په تېره زموږ د حنفي مذهب لارښووني د منلو وړ او غوره دي.

## د حج او عمرې تر منځ توپیر

د عمرې شرایط د حج د شرایطو غوندي دي. د احرام احکام یې هم د حج غوندي دي. کوم شیان چي په حج کي حرام، مکروه، مسنون او مباح دي په عمره کي هم دغسي دي. البته په لاندي چارو کي حج او عمره فرق کوي:

1- د حج لپاره ځانګړی وخت ټاکل سوی دی، خو عمره په ټول کال کي کېدای سي. یوازي د ذوالحجې له نهمي څخه تر دیارلسمي پوري مکروه تحریمي ده.

2- حج فرض دی، خو عمره نه ده فرض.

3- حج فوتیږي (وخت یې تېرېږي)، خو عمره نه فوتیږي.

4- په حج کي په عرفات او مزدلفه کي درېدل، دلمونځونو یو ځای کول او خطبې سته، خو په عمره کي دا چاري نسته.

5- په حج کي طواف قدوم او طواف وداع وي، په عمره کي نه وي.
6- عمره چي فاسده سي يا يې طواف په جنابت وسي د وز ګډي حلالول بسنه کوي خو په حج کي دا بسنه نه کوي.
7- د عمرې ميقات د حج په خلاف ټولوته حل دی. البته د حج لپاره به د مکې اوسېدونکي احرام له حرم څخه تړي او څوک چي له بهره عمرې ته ورځي له خپل اړوند ميقات څخه به احرام تړي.
8- په عمره کي د طواف پيلولو پر مهال تلبيه بنديږي، خو په حج کي د عقبه جمرې د ويشتلو پر مهال بنديږي.

## د عمرې کولو نخشه

| | |
|---|---|
| احرام | دا د عمرې شرط دی. |
| د کعبې طواف | يعني پر کعبه باندي اووه واره راګرځېدل. د کعبې طواف د عمرې ځانګړی عمل دی کوم چي د عمرې فرض باله سي. |
| د صفا او مروه سعی | ضروري عمل: د صفا او مروه د دواړو غرګوټو په منځ کي اووه ګښته تلل راتلل. دا د عمرې واجب باله سي. |
| د سر د وريښتانو پرې کول | ضروري عمل: د سر د څلورمي برخي د وريښتانو د يوې ګوتي د بند په اندازه پرې کول |

| | |
|---|---|
| | د عمرې بل واجب دی. |

## د نارينه وو او ښځو ګډ لمونځ

مسئله: که ښځه د جماعت په لمانځه کي شامليږي، نو د صفونو جوړولو اصول دادي چي لومړی به د نارينه وو صفونه وي، ورپسې د نابالغو هلکانوصفونه وي او په هغو پسې به ښځي صفونه جوړوي.

مسئله: که کومه ښځه د نارينه محاذي يعني بېخي د هغه سره برابره ودرېده، په داسي حال کي چي دواړه په يوه لمانځه شريک وي او امام د ښځي د لمانځه نيت کړی وي، نو د نارينه لمونځ فاسديږي.

مسئله: اوسمهال د جماعت په لمانځه کي ښځي بېخي د نارينه وو په صفونو ننوتلي وي، چي دا سم کار نه دی. څنګه چي د دوی د (د نارينه دمخه يا تر څنګ درېدو) له امله د ډېرونارينه وو لمونځ فاسديږي، نو ښځو ته پر خپل ځای درېدل ډېر ضروري دي.

مسئله: که د ښځو صف د مخه او د نارينه وو صف وروسته وو، د نارينه وو لمونځ نه کيږي.

مسئله: د ښځي د محاذات په صورت کي لمونځ په لاندي شرطونو فاسديږي:

(الف) ښځه به د نژدېکت (جماع) وړ وي؛ لويه وي که کوچنۍ او نامحرمه به وي.

(ب) دواړه به په يوه لمانځه ګډ او شريك وي.

(ج) په منځ کي به يې کوم حائل (ستره) يا د يوه سړي ځای خالي نه وي.

(د) په ښځه کي به د لمانځه د صحت شرط موجود وي، يعني لېونۍ او په حيض او نفاس کي به نه وي.
(هـ) لږ تر لږه به د يوه ستون په اندازه برابر ولاړ وي او په لمانځه کي به سره شريك وي.
(و) د دواړو تحريمه به يوه وي، يعني دواړه به د کوم دريم سړي (امام) مقتديان وي. يا به ښځه د نارينه مقتدۍ وي.
(ز) امام به د لمانځه په پيل کي د ښځي د امامت نيت کړی وي. که امام د ښځو د امامت نيت نه وي کړی نو د نارينه وو لمونځ نه، بلکي د ښځو لمونځ فاسديږي.

**په مسجد الحرام کي د ښځو لمونځ**

مسجد الحرام تر ټولو مسجدونو افضل دی، په دې جومات کي د يوه لمونځ ثواب د يو لك لمونځونو سره برابر دی. خو لکه چي ځيني کتابونه وايي د ثواب دا زياتوب صرف په فرضو پوري ځانګړی دی، د نفلو ثواب دونه نه دی. نفل په کور کي افضل دي او هم دا ثواب نارينه وو لره دی د ښځو لپاره نه دی د دوی د لمونځ په کور (د عمارې په اتاق) کي بېله جماعته افضل دی.
مسئله: د فتنو په دې زمانه کي د ټولو علمای کرامو فتوا په ډېر ټينګار سره داده چي ښځه دي په کور کي لمونځونه کوي او مسجد ته دي نه وزي.
مسئله: په مسجد الحرام او مسجد نبوي کي د ښځو د لمانځه په هکله د علماوو فتوا په ډېر ټينګار سره داده چي ښځو ته د حج او نورو پر مهال په کور (د عمارې په اتاق) کي په لمونځ کولو سره د مسجد حرام او مسجد نبوي د جماعت ثواب ور په برخه کيږي. دې

ته په کور کي لمونځ کول ډېر افضل دی. ځکه دي نو ښځه د جماعت د لمانځه د ادا کولو په نیت مسجدالحرام ته نه ورځي. البته د کعبې شریفي د زیارت یا د طواف یا د عمرې کولو په نیت حرم شریف ته تلای سي. که د دغو کارونو لپاره ښځي حرم شریف یا مسجد نبوي ته ولاړي سي او د جماعت وخت سي او هغوی په جماعت لمونځ وکړي، د دوی لمونځ صحیح کیږي، خو په کور کي د دوی لمونځ افضل دی. دغه راز په مدینه منوره کي په کور کي د ښځو لمونځ افضل دی. دوی ته په کور کي په لمونځ کولو سره د مسجد نبوي د جماعت د لمانځه ثواب رسیږي. خو که ښځي مسجد نبوي ته د سلام وړاندي کولو لپاره تللي وي او د لمانځه د وخت په را رسېدو سره د مسجد نبوي په جماعت کي شاملي سي او لمونځ وکړي نو د دوی لمونځ صحیح دی. (د مفتي عبدالرؤف سکروي فقهي رسائل ٢/ ٣١٤ او ٣٤٥ مخونه).

مسئله: که کومه ښځه په مسجد الحرام کي پر لمانځه باندي د درېدو پر وخت د نارینه وو په منځ کي ولاړه وي او ځني راوتلای نه سي نو دا دي لمونځ نه کوي او هلته دي کراره کښېني او په جماعت دي نه ګډیږي، ځکه په جماعت لمانځه کي د نارینه وو سره د دې په محاذي او برابر درېدو سره د ډېرو نارینه وو لمونځ فاسدیږي. کله چي امام سلام وګرځاوه نو دادي یوازي په یوه مناسب ځای کي حتی الامکان له نارینه وو څخه لیري لمونځ وکړي. (د مفتي محمد رفیع عثماني رفیق حج ٧٨ مخ).

**د ښځو د جماعت د لمانځه نیت او ترتیب:**

که د چا د جماعت د لمانځه نیت او ترتیب نه وي زده په دې ډول دی: نیت کوم د زړه د اخلاصه، لمونځ کوم څلور رکعته فرض د ماخستن، اقتدا مي ده په دې حاضر امام پسي، خاص تا خدای لره، مخ دغي کعبې شریفي ته. کله چي امام (اللهُ اَکبَرْ) ووایي تاسي هم کرار (اللهُ اَکبَرْ) ووایاست او دواړه لاسونه ستاسي د نورو لمونځونو غوندي تر اوږو پوري یوسئ. بیا کرار (سبحاك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا اله غيرك. اعوذ بالله من الشيطن الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم). ووایاست او پټه خوله ودرېږئ. بیا کله چي امام (ولاالضالين) ووایي تاسي کرار (آمين) ووایاست. بیا چي امام قرائت وایي تاسي پټه خوله ودرېږئ. کله چي امام (اللهُ اَکبَرْ) ووایي او رکوع ته ولاړ سي تاسي هم (اللهُ اَکبَرْ) ووایاست او رکوع ته ولاړ سئ. په رکوع کي درې واره (سبحان ربي العظيم) ووایاست. کله چي امام (سمع الله لمن حمده) ووایي تاسي (ربنا ولك الحمد) ووایاست. د امام د (اللهُ اَکبَرْ) سره تاسي هم (اللهُ اَکبَرْ) ووایاست او د امام سره سجدې ته ولاړي سئ. په سجده کي درې واره (سبحان ربي الاعلى) ووایاست. په بله سجده کي هم دغسي وکړئ. نور لمونځ هماغه ستاسي انفرادي لمونځ غوندي دی.

## د طواف بیان

(الف) د طواف معنا ده پر یوه شي شاوخوا راګرځېدل. په حج کي پر بیت الله شریفه او حطیم باندي (په ځانګړې طریقه) اووه واره راګرځیدلو ته طواف وایي.

(ب) طواف په مطلقه توګه دوه ډوله دی: یو ډول د احرام په حال کې کیږي او بل په عامو جامو کې کیږي.

(ج) د طوافونو اقسام: طوافِ عمره. طوافِ قدوم. طوافِ زیارت. طوافِ وداع. نفلي طوافونه. تحیة المسجد طواف. نذري طواف.

(د) کله چې طواف پیلوئ وګورئ چې ډېره ګڼه ګوڼه خو به نه وي. که ګڼه ګوڼه وه د نارینه وو په ټېلو او ټمبو مه ورننوزئ. لږ ګړی انتظار وکئ. کله چې ګڼه ګوڼه لږ سوه د طواف ځي پر څنډه د طواف پیلولو ته چمتو سئ.

(هـ) دغه راز څنګه چې پر حجر اسود تل ګڼه ګوڼه وي نو د هغې د مچولو کوښښ مه کوئ او هوښ کوئ چې په ټېل ماټېل ورګډه نه سئ. د حجر اسود مچول سنت دي، خو ځان او خلکو ته تکلیف ور کول حرام او بې ستري او د نارینه وو سره ټېلې ټمبې ناروا دي، نو د سنتو لپاره دلوی څښتن په کور کې د حرامو، ګناوو او بې ادبیو مه مرتکبه کیږه.

(و) تاسې چې احرام تاړه د تمتع حج او د عمرې نیت مو کړی وو، نو ستاسې دغه لومړی طواف د عمرې لپاره دی، چې واجب دی، ځکه نو اوس تلبیه ویل بند کړئ.

(ز) که مو د قران حج احرام تړلی وي هم ستاسې دغه طواف د عمرې لپاره او واجب دی. تاسې اول د عمرې طواف او سعی کوئ، وروسته د حج طواف قدوم وکړئ.

(حـ) که مو یوازې د مفرد حج احرام تړلی وي نو ستاسې دغه لومړی طواف، طواف قدوم دی چې سنت موکد دی. په دې طواف پسې سمدستي سعی ضروري نه ده. په دې کې ستاسې اختیار دی که

سعی همدا اوس په طواف قدوم پسي کوئ که يې د اختر په ورځو کي تر طواف زيارت وروسته کوئ.

(ط) طواف قدوم هغه حاجيان کوي او ورته سنت دی چي د قران يا افراد حج احرام يې تړلی وي، هغه هم په هغه صورت کي چي حاجي آفاقي وي، يعني د ميقات له دباندي څخه مکې مکرمې ته راغلی وي. که د ميقات له دباندي څخه نه وي راغلی نو هغه ته طواف قدوم سنت نه دی.

### د طواف کولو طريقه

د حجر اسود دکنج پر برابرۍ ځان برابر کړئ او داسي ودريږئ چي بيت الله شريفي ته مخامخ سئ؛ راسته اوږه مو د حجر اسود د لوېديزي څنډې يا د چپې خوا د څنډې (د رکن يماني د لوري د څنډې) سره برابره سي او ټوله حجر اسود مو ښي (راسته) اړخ ته پاته نه سي بيا د طواف نيت په زړه کي وکړئ او ووايئ:

بسم الله الرحمن الرحيم

ای لويه څښتنه! زه ستا د پاکي بيتې د طواف اراده لرم، نو يې راته آسانه کړې او را څخه قبول يې کړې.

يا نور داسي الفاظ چي نيت ځني معلوميږي ووايئ. د طواف نيت فرض او ضروري دی. بېله نيته چي هر څونه طواف وکړئ طواف نه ګڼل کيږي.

وروسته لږ څه راستې خوا ته ولاړه سئ، کله چي بالکل حجر اسود ته مخامخ سولاست دواړه لاسونه د کعبې خواته د اوږو تر برابرۍ پوري داسي پورته کړئ لکه د لمانځه د الله اکبر ويلو پر وخت چي يې پورته کوئ او بايد د دواړو لاسونو د دواړو خپړو شا

ستاسي د مخ او د لاسونو ورغوي د حجر اسود خواتـه وي او داسـي وګڼئ چي ګواکي تاسي دواړه لاسونه پر حجر اسود ايږدئ. دغه مهال سمدستي ووایاست:

«بسم الله اَلله اکبر ولله الحمد».

ژباړه: د لوی څښتن په سپېڅلي نامه سره پيل کوم. لوی څښتن تر هغو ستر دی چي تصور يې کيږي. هغه لره ثنا او صفت دی.

بيا دواړه لاسونه کښته کړئ او حجر اسود ته د مچولو په دود اشاره وکړئ او بيا دواړه لاسونه مچ کړئ او طواف پيل کړئ. په خپل عام تګ تګ کوئ او د نارينه وو غوندي چټک مه ځئ او ترڅو کېدای سي له نارينه وو ليري طواف کوئ.

په طواف کي په داسي حال کي چي پر خوله مو ذ کر، تسبيحات، حمد و استغفار او دعاوي جاري وي په وقار، ادب، عاجزي او سکون مخامخ ځئ او مخامخ ګورئ، شاوخوا مه ګورئ، داسي فکر وکړئ لکه لمونځ چي کوئ. هوښ کوئ چي ځګر يا شا بيت الله شريفي ته نه کړئ يا لکه د ځينو ناپوهانو او جاهلانو غوندي په منډو نه سئ او نور خلک په ډکو و نه وهئ. د طوافپه ټولو شوطونوکي بيله لاسونو پورته کولو او دربدلو په خپله ژبه هغه دعاوي وکړئ چي زړه مو غواړي.که موکومه عربي ماثوره دعا زده او په ياد وي هغه وکړئ. د طواف لپاره کومه ځانګړې او ټاکلې دعا نسته. په طواف کي د کتاب له مخي دعاوي مه لولئ او مه داسي کوئ چي يو دعاوي وايي او نور يې سمي او ناسمي تکراروي. په دې ډول دعاکول علماوو بدي ګڼلي دي. حطيم هم په طواف کښېباسئ. کله چي يماني رکن (د کعبې جنوب لوېديز کنج) ته ورسېدلاست (که ګڼه ګوڼه نه وه يا

خوشبويي نه وه په وهل سوې) د هغه استلام هم وکړئ. يعنې دواړه لاسونه يا يوازې راسته لاس پر ووهئ. مچوئ يې مه او مه مو تندی او نور ځايونه پر ايږدئ. (د زياتې ګڼې ګونې په صورت کې بېله اشارې همدغسې ځنې تېر سئ او دا دعا ووايئ:

«اللهم اني اسئلك العفو والعافية في الدنيا والآخرة».

ژباړه: ای لويه څښتنه! زه ستا څخه په دنيا او آخرت کې بخښنه غواړم.

له يماني رکن څخه د حجر اسود تر رکن پورې د تلو په حال کې دا دعا ووايئ:

﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾﴾.

ژباړه: «ای زموږ ربه! موږ ته هم پر دې دنيا او هم پر هغه دنيا ښېګڼې را په برخه کړه او موږ د اور له عذابه وساته».

يادونه: علماوو سپارښتنه کړې ده چې پورتنۍ دعا په هر شوط کې د رکن يماني او حجر اسود تر منځ وايئ.

کله چې حجر اسود ته بيا ورسېږئ د لومړي ځل غوندې اشاره ورته وکړئ او «بسم الله اَلله اکبر ولله الحمد». ووايئ او دواړه لاسونه مچ کړئ. خو نور دواړه لاسونه لکه د اول وار غوندې تر اوږو مه پورته کوئ او د طواف نيت هم مه کوئ. پر کعبه باندې له حجر اسود څخه بيا تر حجر اسود پورې پر را ګرځېدلو ته يو شوط (ګښت يا دوره) وايي. په دې ډول اووه شوطونه پوره کړئ. او هره پلا حجر اسود ته د تېر په شان په دواړو لاسونو اشاره کوئ او «بسم الله اَلله اکبر ولله الحمد». وايئ او دواړه لاسونه مچوئ.

تر اووم شوط وروسته بيا اتم وار حجر اسود ته د تېر په شان اشاره وکړئ. په دې توګه ستاسي طواف بشپړ سو.

يادوني:

1- ډېر مطوفين د حجر اسود او رکن يماني په منځ کي ودريږي، په حاجيانو نيت تړي او طواف په پيلوي ـ ځيني حاجيان پخپله هم دغسي کوي ـ چي دا مکروه دی. که څوك بيت الله شريفي ته مخامخ داسي ولاړ نه وي چي اوږه يې د حجر اسود د لوېديزي څنډې سره برابره وي او ټوله حجر اسود يې ښي اړخ ته پاته نه وي نو د ځينو عالمانو په نزد د طواف په اخر کي د يوه شوط بيا راګرځول مستحب او د ځينو په نزد واجب باله سي.

2- ډېر مطوفين د نيت تړلو په وخت کي بيت الله شريفي او حجر اسود ته د مخامخ درېدو خيال نه کوي او تر تکبير ويلو د مخه لاسونه غوږونو ته پورته کوي. نور ډېر حاجيان هم د دوی پيښې کوي. د نيت تړلو پرمهال بيت الله ته استقبال سنت دی. او حجر اسود ته له درېدو پرته او تر تکبير ويلو دمخه لاسونه پورته کول بدعت دی.

پوښتنه: کومه ښځه چي د خلکو په مخ کي په لڅ مخ طواف کوي حکم يې څه دی؟

جواب: د ښځي مخ عورت دی. بېله محرمه يې بل چا ته لڅول نه دي روا، په طواف کي وي که په بل ځای کي. په احرام کي وي او که بېله احرامه. که په لڅ مخ طواف وکړي ګنهګاره کيږي، خو طواف يې صحيح دی.

**د طواف د دعاوو په هکله**

د سنن ابي داود د کتاب المناسك، باب الرمل: ۱۸۸۸ حديث دی چي رسول ﷺ وفرمايل: «د بيت الله طواف، د صفا او مروه سعی او د جمراتو ويشتل د دې لپاره دي چي د لوی څښتن ذکر پکښې وسي». پر دې بنسټ د طواف په جريان کي کرار په «سبحان الله والحمد لله ولا اله الاالله والله اکبر ولاحول ولاقوة الا بالله» ويلو او داسي نورو اذ کارو، تسبيح، حمد ويلو، درود ويلو، د قرآن په تلاوت او عامو مسنونو دعاوو مشغولېدل افضل کار دی. د طواف په حال کي دعاوي قبليږي. خو د طواف لپاره کوم ځانګړی ذکر او دعا نسته. حضرت ملاعلي قاري او نور علمای کرام وايي چي امام محمد رحمه الله په مبسوط کي فرمايلي دي چي د حج په مقاماتو کي د کومي دعا ټاکل ښه نه بلل کيږي. هره دعا چي د چا زړه غواړي او ضرورت يې بولي هغه دي وکړي. ځکه چي د ټاکلو الفاظو په پابندي سره زياتره د زړه نری توب او خشوع نه وي. ځينو علماوو چي د طواف د هر شوط لپاره دعاوي ټاکلي دي هغه له رسول ﷺ څخه منقولي دي خو خاص د طواف لپاره نه دي نقل سوي. ډېرو عوامو د دغو دعاوو کتابونه په لاسونو کي نيولي وي په طواف کي يې په داسي حال کي چي صحيح تلفظ يې نه سي کولای او په معنا يې نه پوهيږي په ډېر مشکل يې لولي. په دې ډول نور طواف کوونکي په تشويش کي اچوي اوپه تکليف کوي يې. چي دا مناسبه نه ده.تر دې دا ښه ده چي حج کوونکی په خپله ژبه هغه دعاوي وکړي چي په پوهيږي او ضرورت يې وي. ځينو علماوو په طواف کي د دريمي کلمې، يعني د «سبحٰن الله

والحمد لله ولا اٰله الا الله والله اکبرولا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم». او ځلورمي کلمې، يعني د «لا اٰله الا الله وحده لا شريك له. له الملكُ وله الحمدُ يحيى ويميت بيده الخير وهو علٰى کل شئٍ قدير». ويل او د درودونو کرار او په زړه کي ويل غوره بللي دي.

البته که د چا عربي دعاوي په ياد وي او په معناوو يې پوهيږي او ويې وايي دا ډېره ښه ده. دوی ته دغسي دعاوي کول ښې دي. (د مولانا محمد شفيع احکام حج۵۰ مخ او د مولانا محمد يوسف لدهيانوي آپ کے مسائل ۱۱۲مخ او نور)

## د طواف ضروري مسئلې

مسئله: ځنګه چي تاسي د تمتع حج نيت کړی دی نو ستاسي دغه طواف د عمرې لپاره دی او په عمره کي طواف فرض دی. ځکه نو که تاسي ته د طواف د شوطونو په شمېره کي شک پيدا سي نو به تاسي دغه طواف بيا له سره کوئ. خو که دغه شبهه په کوم نفلي طواف کي وي نو چي کومي خواته مو ګومان زيات وو پر هغه عمل وکړئ او خپل طواف بشپړ کړئ.

مسئله: د طواف په حال کي خوړک مکروه او چيښنګ جايز دی.

مسئله: که د طواف په وخت کي د فرض لمانځه اقامت وسي يا اودس مات سي نو طواف پر همدغه ځای پرېږدئ، کله چي له لمانځه يا اودس څخه فارغه سولاست بيا له هماغه ځايه طواف پيل کړئ. که څه هم افضله داده چي که مو تر ځلورو شوطو کم طواف کړی وي نو طواف له سره پيل کړئ.

مسئله: بيله اړتيا د طواف نيمګړی پرېښوول او تلل جواز نه لري.

مسئله: د جمعې د خطبې او د لمانځه د اقامت په وخت کې د طواف پیلول ښه نه دي.

مسئله: د طواف په وخت کې د دعا لپاره لاسونه پورته کول یا یې د لمانځه غوندي نیول جواز نه لري.

مسئله: په طواف کې ګردسره پټه خوله کېدل او هیڅ نه ویل هم جایز دي او پروا نه کوي.

مسئله: په طواف کې تر قرآن ویلو ذ کر او دعا کول افضل دي.

مسئله: که په طواف کې څوك په زړه کې کرار قرآن کریم تلاوت کړي پروا نه کوي.

مسئله: په طواف کې ټولي دعاوي او ذ کرونه کرار ویل مستحب دي.

مسئله: د طواف په وخت کې په طواف ځي کې یا د بیت الله شریفي کوم کنج ته د دعا لپاره درېدل درست نه دي.

مسئله: دوه طوافونه یوځای کول او په منځ کې یې د طواف لمونځ نه کول مکروه تحریمي دي.

مسئله: په کومو وختونو کي چي لمونځ کول مکروه وي په هغو وختونو کي طواف نه دی مکروه.

مسئله: د طواف لمونځ په مکروه وختونو کي جواز نه لري. او مکروه وختونه دادي: لمرخاته، لمر لوېده، نصف النهار (د لمر دزوال وخت)، د مازدیګر له لمانځه څخه د ماښام تر لمانځه پوري او د سهار تر لمانځه وروسته تر اشراق (د لمر تر یوې نېزې را ختلو) پوري.

مسئله: که تاسي سهار وختي يا د سهار تر لمانځه وروسته طواف کوئ، نو د طواف لمونځ کله چي لمريوه نېزه راوخېژي، وکړئ. (سهار چي سپېدې وچوي [تر طلوع الفجر وروسته، چي صبح صادق سي] بېله د سهار دوو رکعتو سنتو نور نفل منع او مکروه تحريمي دي. د سهار تر لمانځه وروسته هم نفل مکروه تحريمي دي. د لمر راختو په وخت کي تر څو چي يوه نېزه [د سترګو په تقريبي ليدو سره دوه نيم متره] را خيژي د فرض لمانځه ادا محل نه لري، قضايي لمونځ صحيح او روا نه دی او نفل مکروه تحريمي دي.

مسئله: که تاسي د مازديګر تر لمانځه وروسته طواف کوئ، نو د هغه لمونځ د ماښام تر فرضو وروسته او تر سنتو دمخه وکړئ.

مسئله: په عامو حالاتو کي د هر طواف تر بشپړېدو وروسته سمدستي د هغه لمونځ وکړئ. د دوو يا ډېرو طوافونو لپاره يوځای لمونځونه کول جوازنه لري. خو د سهار يا مازديګر تر لمانځه وروسته که تاسي تر يوه طواف ډېر وکړئ نو د هغو لپاره تر مکروه وخت وروسته دوه دوه رکعته کول جواز لري.

مسئله: که د نارينه وو سره د ډکې وهلو او فتنې بېره وه نو د طواف ځي پر ځنډه طواف واجب دی.

مسئله: که څوک د طواف تر اووشوطو وروسته بل شوط کوي نو به نور شپږ شوطه هم پوره کوي. ځکه چي د نفلي عبادت تر پيلولو وروسته د هغه بشپړول واجبيږي.

مسئله: که پر حجر اسود باندي د ازدحام او ګڼې ګوڼې په وخت کي د ځان يا نورو د تکليف خطره وي د حجر اسود مچول، په تېره

ښځو ته چې د نامحرمو خلکو سره د بدن د لګېدو احتمال وي بالکل حرام دي.

مسئله: د ښځي لخوا د شپې طواف کول مستحب دی.

مسئله: د نارینه وو سره یو ځای او په ډکو او ټمبو کي د ښځو طواف لکه چي اوسمهال لیدل کیږي قطعاً حرام او ناجایز دی. په دې صورت کي ښځو ته ښایي چي د شپې یا د ورځي په داسي وخت کي طواف وکړي چي د نارینه وو هجوم نه وي. ښځه دي تر څو کولای سي له نارینه وو څخه بېل طواف وکړي.

خبرداری: زیات لیدل کیږي چي ښځي د نارینه وو په ټېل ماټېل ورګډې سي، پر حجر اسود، رکن یماني، ملتزم، د کعبې پر دروازه، مقام ابراهیم او میزاب رحمت باندي زورونه وهي او بدنونه یې د نارینه وو د بدنونو سره ښښلي. خو تاسي هوښ کوئ چي دغسي کارونه ونه کړئ. تاسي باید د یوې پوهي او باشعوري ښځي په څېر له دغسي کارونو په کلکه ډډه وکړئ. دغه کارونه مطلقاً حرام او د نیکي برباد ګناه لازم مصداق دي.

مسئله: طواف له بیت الله د باندي په دننه مسجد کي تر سره کول. د طواف له رکنونو څخه بلل کیږي.

مسئله: د مسجد حرام پر بام باندي طواف روا او صحیح دی، که څه هم تر بیت الله لوړ وي.

مسئله: د طواف پر مهال نس یا ځګر د کعبې شریفي خواته برابرول، د طواف په حال کي د کعبې په پوښ ځړېدل، د هغه مچول، د کعبې پر پشته (شاذروان) باندي لاس یا پښه ایښوول یا د حطیم پر دېوال باندي لاس ایښوول دا ټول حرام دي. که دغسي وسي نو د

دغسي برخي د طواف راګرځول واجب دي. خو ښه داده چي دغه شوط ټول له سره راوګرځي. د نه راګرځولو په صورت کي جزا لازميږي.

مسئله: د ناپاکۍ او ميا شتني عادت په حال کي او په بې اودسي طواف کول حرام دي. خو که کومه ښځه خپلي متيازي نه سي ټينګولای يا د نس د بادو په ناروغي اخته وي او پرله پسې يې اودس ماتيږي، دغسي ښځه د شرعي معذورينو په ډله کي راځي. دا به د طواف په پيل کي اودس تازه کوي، بيا به طواف کوي. که يې په طواف کي اودس مات سي پروا نه کوي.

مسئله: که په طواف کي مياشتنی عادت درپېښ سي نو طواف سمدستي بند کړئ او له مسجدالحرامه ووزئ. څنګه چي د صفا او مروه سعی د طواف تابع ده نو سعی هم مه کوئ. تر پاکۍ وروسته طواف او سعی وکړئ.

مسئله: که مو طواف بشپړ کړ او وروسته سمدستي مياشتنی عادت درپېښ سو، نو څنګه چي اوس د صفا او مروه د سعيي لار (مسعی) په مسجد الحرام ګډه سوې ده نو تر پاکېدو پوري سعی جايزه نه ده، مه يې کوئ.

مسئله: ښځو ته رمل (د طواف په لومړيو درو شوطونو کي چټک تلل) او اضطباع (د احرام پټو تر راسته اوږې لاندي راوړل) نسته. دا دواړه په نارينه وو اړه لري. نو تاسي هوښ کوئ چي لکه ځيني بې عقلي ښځي په طواف کي چټکي يا ببخي په ځغاستو نه سئ.

مسئله: ښځي بايد دې خبري ته په ټينګه پام وکړي چي د ذي الحجې د اتمي په را نژدې کېدو سره د خلکو هجوم زياتيږي او خبره

دې ته ورسیږي چې که څوک د لمانځه تر جماعت څو دقیقې د مخه طواف پرېږدي نو بیا هم طواف ځی دونه ډک سي چې نارینه وو ته د لمانځه ځای په مشکله پیدا کیږي او ښځو ته د ځای پیدا کېده تقریباً ناممکن سي. له دې امله دي ښځي په داسي وخت کي طواف کوي چې د جماعت تر درېدو ډېر دمخه فارغي سي، څو یاخپل اتاق ته ولاړه سي،لمونځ وکړي یا د مسجدالحرام په دالانو کي پر خپل ځای د نورو ښځو سره پر لمانځه ودریږي.

اړیني یادوني:

- د طواف پر مهال دښځو لخوا د مطوف یا بل نامحرمه لاس نیول بد او منکر کار دی.
- که کوچنی در سره وي، څنګه چې د هغه پاك ساتل مشکل کار دی نو ښه داده چې د طواف پر مهال هغه درسره وانه خلئ.
- په مکه مکرمه کي د اوسېدو پر مهال طواف تر ټولو نفلي عبادتونو غوره بلل سوی دی. ځکه نو دلته باید ډېر طوافونه وکړئ.

## مُلتَزَم

تر طواف وروسته باید تاسي ملتزم ته ولاړي سئ کوم چې د حجر اسود او بیت الله شریفي د دروازې په منځ کي دېوال دی او په هغه پوري ځان ونښلوئ او دعا وکړئ، خو پر دغه ځای هر وخت د نارینه وو ګڼه ګوڼه وي. له دې امله ښځو ته دغه ځای ته رسېدل ستونزمن کار دی، ځکه نو علماوو توصیه کړې ده چې ښځي دي ملتزم ته د رسېدو کوښښ نه کوي. د نارینه وو سره اوږه په اوږه

درېدل او د هغو سره زوروونه وهل د حجاب، غيرت، شرم او حيا خلاف کار دی نو تاسي هم دغه ځای ته د ورنژدې کېدو هڅه پرېږدئ، خو د هغه په شاوخوا کي يو فارغه ځای ودرېږئ او دعاوي وکړئ. لوی څښتن غيور ذات دی او حيا خوښوي، ستاسي د دغي حيا له امله به له ليري هم ان شاء الله ستاسي دعا قبوله کړي.

### د طواف لمونځ

بيا سمدستي او بېله ځنډه د مقام ابراهيم شا ته يو ځای له خلکو ليري چي مقام ابراهيم ستاسي او کعبې شريفي تر منځ راسي د طواف دوه رکعته واجب لمونځ وکړئ. دغه لمونځ مه ځنډوئ. ځکه بېله عذره د دې لمانځه ځنډول مکروه دي. په لومړي رکعت کي تر ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ وروسته د (الکافرون) سورت او په دوهم رکعت کي تر ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ وروسته د (الاخلاص) ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ سورت ووایاست. دغه لمونځ تر هر طواف وروسته واجب دی.

يادونه: مستحب او افضله دا ده چي د امکان په صورت کي د هر طواف لپاره دوه رکعته د مقام ابراهيمعليه السلام تر شا وکړئ، خودلته عموماً ډېر ازدحام وي، د هغه شاته يا يې شاوخواته د درېدو لپاره خورا کشمکش وي او په ډاډ سره د لمانځه د ادا کېدو ځای نه پيدا کيږي. نو تاسي له دې کشمکش څخه ډډه وکړئ او په حجر اسماعيلعليه السلام کي دغه لمونځ وکړئ. که مو دلته هم نه سوای کولای کعبې شريفي ته نژدې يا د حرم شريف په يوه ګوښه ځای کي په اطمينان سره د طواف لمونځ وکړئ. دغه لمونځ د حرم په ټوله مځکه کي کېدلای سي. خو له دې ځايونو پرته په بل ځای کي يې

کول او ځنډول بد کار او مکروه دی. مطلب د نارينه وو له ډکو څخه به ځان ژغورئ. که مکروه وخت وو، انتظار وکړئ چې دغه وخت تېر سي. بيا دغه لمونځ ادا کړئ.

تر لمانځه وروسته چې موکومه دعا زړه غواړي هغه وکړئ. خو دغه دعا آدم‌عليه السلام ته منسوبه او ماثوره ده:

«اللهم إنك تعلم سرّي وعلانيتي فاقبل معذرتي وتعلم حاجتي فاعطني سؤلى وتعلم ما فى نفسى فاغفرلى ذنوبى. اللهم انى اسئلك ايماناً يباشر قلبى ويقيناً صادقاً حتىٰ اعلم انه لا يصيبنى الا ما كتبتَ لى ورِضا بما قسمت لى يا ارحم الراحمين».

ژباړه: ای لويه څښتنه! ته زما له څرګندو او پټو حالونو څخه خبر يې. زه عذر درته کوم نو زما عذر قبول کړه، او ته زما په اړتيا او څه چې زما په زړه کي دي پوهېږې، نو زما اړتيا را تر سره کړه او زما ګنهونه را وبخښه. ای لويه خدايه! ماته داسي ايمان راکړه چې زما په زړه کي ځای ونيسي او داسي يقين را په برخه کړه چې زه له تا پرته د بل چا پروا ونه کړم او داسي ښه عادت را نصيب کړه چې ستا پر را کړي شي خوشاله سم، ای د رحم کوونکو رحم کوونکې.

يادونه: که دغه دعا يا په دې کتاب کي نوري دعاګاني يادولای سئ او د هغو د ژباړو له مخي يې معناوي ذهن نشينه کولای سئ ښه که نه د کتاب له مخي يې مه واياست، بلکي په خپله ژبه لوی څښتن ته هغه دعاوي وکړئ چې زړه مو غواړي.

**د زمزم اوبه**

بيا د زمزم اوبو ته ورسئ. د زمزم اوبه وچيښئ او دعاوي وكړئ، ځكه چي په دغه ځاى كي دعاوي قبليږي.

د رسولﷺ صحيح حديث دى چي د زمزم اوبه چي د هر نېك مقصد لپاره وچيښل سي تر سره كيږي. د دې اوبو د فضايلو په هكله ډېر احاديث سته. ځينو علماوو كتابونه پر ليكلي دي. ډېرو تجربه كړي چي د هري ناروغۍ د شفا او هر نېك مقصد د تر سره كېدو لپاره ذريعه دي.

تر طواف وروسته هر طواف چي وي د زمزم اوبه چيښل مستحب دي، خوضروري نه دي.اوس يې د زمزم د څا پخوانۍ زېرخانې هم پټې كړي دي. خو په مسجدالحرام كي ببخي ډېر ځايونه د زمزم د اوبو نلكۍ او ترموزونه سته. نو تاسي د طواف تر لمانځه وروسته دغه اوبه پيدا كړئ. مخ پر كعبه په ولاړي يا په ناستي بسم الله الرحمن الرحيم ووايااست، په درو ساوو يې ښې ډېري وچيښئ. د مومن او منافق دا فرق دى چي د مومن نس په دغو اوبو نه ډكيږي. وروسته د الحمد لِله په ويلو سره دا دعا ولولئ:

«اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْئَلُك عِلْمًا نَافِعًا ورِزْقًا وَاسِعًا وشِفَاء مِنْ كلِ دَاء».

ژباړه: اى لويه ښتنه! زه ستا څخه د ګټوري پوهي او پراخ رزق او له هري ناروغۍ څخه د شفا غوښتونكى يم.

بيا څه اوبه پر سر، مخ او ځان وشيندئ او بيا الحمد لِله ووايااست. پر دې دعا سربېره نوري دعاوي هم وكړئ. خپل مور او پلار، دوستان، هغه كسان چي تاسي ته يې د دعاوو سپارښتنه كړې ده او خپل هيوادوال او مسلمانان او د دې كتاب ليكونكى او خپروونكى له د عا مه هېروئ.

## د صفا او مروه تر منځ سعی

صفا او مروه مسجد الحرام تـه نـژدې دوه غرګوټي دي او د هغـو تر منځ ناوه (یا لار) چي مسعٰی یعني د سعیي کولو ځای ورتـه وایـي هغه ځای دی چي بي بي هاجره د اوبو په لټه پکښي ځغاسته.

سعی په عربـي ژبـه تللـو تـه وایـي او د حـج پـه احکـامو کـي اووه ګښته هغو ځانګړو تلو راتلو ته وایي چي د صفا او مروه په مـنځ کـي تر سره کیږي.

### د سعیي طریقه

د طواف تر بشپړېدو او د طواف د دوو رکعتو لمانځه کولو او د زمزم د اوبو تر چیښلو وروسته بیا د نهم وار لپاره حجر اسود ته هماغسي د پخوا په شان اشاره وکړئ، «بسم الله اَلله اکبر ولله الحمد» ووایاست او دواړه لاسونه مچ کړئ. دغه نهم استلام د سعی کَوونکي لپاره مستحب او مسنون دی. بیا د باب الصفا له لاري ووزئ. رسولﷺ د غسي کول. خو که له کومي بلي لاري ووزئ هم پروا نه کوي. په زړه کي د سعیي نیت وکړئ په ژبه ویلو ته یې ضرورت نسته.

کله چي صفا ته نژدې سئ دا آیت تلاوت کړئ:

﴿۞إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ﴾ [البقرة: 158].

ژباړه: «بېشکه چي صفا او مروه د لوی څښتن له شعایرو (نخښو) څخه دي».

بیا ووایاست: «أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللهُ بِهِ».

ژباړه: په څه چي لوی ښتن پيل کړی دی، زه هم په هغه پيل کوم.

د صفا پر زينو دوني وخېژئ چي بيت الله درښکاره سي. تر دې زيات ختل لکه چي جاهلان يې ځانونه تر دېواله رسوي زموږ د مذهب خلاف کار دی.مخامخ بيت الله ته ودرېږئ، د سعيي نيت وکړئ او داسي ووايأست: ای لويه ښتنه! زه سعی کوم، ته يې راته آسانه کړې او را څخه قبوله يې کړې. بيا لاسونه تراوږو پوري داسي پورته کړئ چي ورغوي يې د آسمان خواته وي، لکه په دعا کي. بيا درې واره (اللهُ اَكبَرْ)، درې واره (لا اله الا الله)، بيا يو وار د توحيد کلمه؛ يعني (لا اله الا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحيي ويميت بيده الخير وهو على كل شيء قدير). بيا درود شريف ووايأست. بيا چي موکومه دعا زړه غواړي په ډېر عجز او خشوع يې وکړئ. نورو ته هم دعاوي وکړئ (د خپل وطن او نورو مسلمانانو له مصيبتونو څخه د ژغورلو او پرمختك او نېکمرغۍ لپاره دعاوي وکړئ. د دې کتاب مؤلف او خپروونکي او پلورونکي هم له دعا مه هېروئ) دلته هم دعا قبلېږي.

ټول تسبيحات او درود او دعاوي کرار په زړه کي وايأست.

که مو سعی د طواف قدوم په تعقيب وي تلبيه هم ورسره ووايأست. بيا په خپل تګ په داسي حال کي چي ذکر او دعاوي کوئ د مروه پر لوري رهي سئ. د صفا او مروه په منځ کي دا ماثوره دعا وايأست: «رَبِ اغفِر وَاَرحَم اَنتَ الاَعَزُّ الاَكرَمُ».

ژباړه: ای لويه ښتنه! بخښنه راته وکړې ته تر ټولو د عزت ښتن او تر ټولو ستر يې.

پر دې سر ببره چې مو كومه دعا زړه غواړي ويـي واياسـت. دلتـه هم دعاوي قبليږي.

د صفا او مروه تر منځ په مسعٰى كي پخوا دوه زرغونه ځلي [ميلين اخضرين] وه. چې د مهالونو په اوږدو كي له خپلو اصلي ځايونو بې ځايه سوي وه. اوس يې د هغو پر اصلي ځايونو د مسعٰى د ودانۍ د دواړو خواوو پر دېوالونو زرغونې نخښې او زرغونه ځراغونه لګولي دي. دلته يوازي نارينه دغه لومړي ځلي ته په رسېدو سره تر دوهم زرغونه ځلي پوري ګامونه چټكوي، خوښځې به عادي تګ كوي. ښځو ته په دغه ځاى كي د چټك تلو حكم نسته.

كله چې مروه ته ورسيږئ غرګي ته دونه لوړ وخېژئ چې كه ودانۍ نه وي بيت الله در ښكاره سي. ډېرلوړ ختل منع دي. لږ څه ښي لوري ته ودرېږئ، مخ د بيت الله لوري ته كړئ او كوم ذكر او دعاوي چې مو پر صفا كړي وې دلته يې هم وكړئ. دلته هم دعاوي قبليږي.

دا له صفا څخه تر مروه پوري يو ګښت سو. وروسته له مروه څخه د صفا پر لور رهي سئ. د زرغونو نخښو په منځ كي چټك مه ځئ. كله چې صفا ته ورسېدلاست بيا داسي ذكر او دعاوي وكړئ لكه لومړى چې مو كړي وې. دا له مروه تر صفا دوهم ګښت سو. په دې ډول اووه ګښته پوره او پر مروه يې ختم كړئ.

بيا د خپلې عمارې كوټې ته ولاړه سئ، كه مو د افراد يا قران حج نيت كړى وي نو ځرګنده ده چې تاسي بايد په احرام كي اوسئ، نو له احرامه ځان مه باسئ. خو كه مو د تمتع حج نيت كړى وي (يعني لومړى مو د عمرې او ورپسې د حج نيت كړى وي) نو له احرام څخه

د وتلو لپاره د خپلو وربښتانو څوکي په خپله، يا په بله ښځه يا په محرم د ګوتې تر بند څه زياتي پرې کړئ. تاسي چي کله د عمرې د پای ته رسېدو يا د حج د مناسکو د پای ته رسېدو پر مهال له احرامه وزئ د سر د څلورمي برخي د وربښتانو د څوکو د يوې ګوتي د بند په اندازه پرې کول واجب دي. خو ستاسي د سر د ټولو وربښتانو له څوکو څخه د ګوتي د يوه بند په اندازه پرې کول سنت دي.

بيا نوکان واخلئ او بغل او نور هم پاك کړئ. د سر د وربښتانو ترپرې کولو دمخه د نوکانو او نورو پرې کول جواز نه لري.

اوس نو ستاسي عمره بشپړه سوه، او د احرام ټولي پابنديانې ختمي سوې. که مکروه وخت يا کوم بل عذر نه وي نو دوه رکعته نفل کول مستحب دي. تر لمانځه وروسته د ځان، مور او پلار او ټولو مسلمانانو لپاره دعا وکړئ.

## د سعيي مسئلې

مسئله: ښځه دي د خلکو د هجوم په وخت کي پر صفا او مروه لوړه نه خيژي. دغه راز که پر صفا او مروه د خلکو هجوم زيات وو دعاوي دي پرېږدي.

يادونه: د هداية السالك په ٢/ ٨٨٣مخ کي وايي چي ښځه دي په سعی کي د نارينه وو په ازدحام نه ورګډېږي او ورته ښايي چي د صفا او مروه سعی د شپې وکړي. ځکه د شپې په سعی کي يې هم ستر ډېر ښه ساتل کيږي او هم له فتنې څخه ښه خوندي وي.

مسئله: زموږ په مذهب سعی واجب ده. خو په طواف پسي سمدستي تر سره کول يې واجب نه، بلکي سنت باله سي. که يې د

کوم عذر یا ستړیا له امله سمدستي په طواف پسې ونه کړئ پروا نه کوي.اما بېله عذره ځنډول يې مکروه دي.

مسئله: که د طواف او سعيي په منځ کي زيات ځنډ راسي هم څه جزا نه واجبيږي.

مسئله: که مو تر طواف قدوم وروسته سعی ونه کړه او پر عرفات ودرېدلاست، نو اوس تر طواف زيارت دمخه سعی نه ده روا، بلکي لومړی طواف زيارت وکړئ بيا سعی وکړئ.

مسئله: پر صفا او مروه ختل مسنون دي که څه هم بېله ختلو بيت الله وليدل سي. خو د صفا او مروه پر ګارو ختل ښه نه دي، بلکي کراهيت هم لري.

مسئله: د عمره کوونکي او د تمتع کوونکي تلبيه د طواف د پيلولو پر مهال بنديږي. خو د حج کوونکي تلبيه د رمي په وخت کي پای ته رسيږي. نوکه مو د حج سعی تر طواف قدوم وروسته او تر طواف زيارت دمخه کول نو په سعی کي تلبيه واياست. اما د عمرې او تمتع په سعی کي يې مه واياست.

مسئله: که مو د سعيي د ګښت په شمېر کي شك سو کم ته اعتبار ورکوئ او پاته بشپړوئ..

مسئله: پر خپلو پښو سعی کول واجب دي، خو که مو څه معذرت درلود پر مخصوص بايسکل يا په سپرلۍ هم سعی کولای سئ.

مسئله: د عمرې له امله د سر د وريښتانو د څوکو پرې کول په مکه مکرمه کي سنت او د حرم په پولو کي واجب دي.

مسئله: که مو د عمرې له احرام څخه د حلالولو لپاره له حرمه دباندي د سر د وريښتانو څو کي پرې کړې دم واجبيږي.

مسئله: که د سعيي پر مهال د فرض لمانځه اقامت وسي يا د جمعې خطبه شروع سي يا مو اودس مات سي، نو سعی همدغسې نيمګړې پرېږدئ، لومړی لمونځ وکړئ يا اودس تازه کړئ بيا چې مو پر کوم ځای سعی پرې ايښې وه له هغه ځايه يې پيل کړئ او پاته سعی بشپړه کړئ.

مسئله: په سعی کي مخصوصه دعا نسته، هره دعا چې مو زړه غواړي کولای يې سئ.

مسئله: پخوا علماوو توصيه کړې وه چي ښځو ته تر مياشتنی تکليف وروسته سعی کول پروانه کوئ. خو طواف منع دی. دا يې له دې امله ويلي وه چي دمخه د سعيي ځای له مسجدالحرام څخه د باندي وو. خو څنګه چي اوس د سعيي ځای په مسجد الحرام ګډ سوی دی او د مسجد حکم لري، ځکه نو اوس ښځو ته د مياشتني تکليف په حال کي سعی جواز نه لري. ځکه چي سعی په مسجد کي کيږي او مسجد ته د ښځي د مياشتني تکليف په وخت کي ننوتل منع دي. دغه سعی به بيا وروسته وکړئ. (خواتين کے ليے رهنمائے حج وعمره ۱۰۲ مخ).

يادونه: د مکې مکرمې د رابطهٔ عالم اسلامي المجمع الفقهي الاسلامي پريکړه کړې ده چي که څه هم د سعيي ځای د مسجدالحرام په ودانۍ کي راغلی دی، خو بيا هم هغه د مسجد په حکم کي نه راځي، ځکه چي هغه يو بېل مشعر باله سي. له دې امله په مسعی کي د حايضې ښځي او جنب نارينه اوسېدل او سعی جواز لري. که څه هم په سعی کي پاکوالی مستحب دی.

خو دا پرېکړه اتفاقي پرېکړه نه ده. لکه چې د دغې پرېکړې په پای کې داسې نوټ ورکړه سوی دی:

«د دغې مجمعې نایب او یوه غړي د دې پرېکړې سره اتفاق نه دی کړی».

نوڅنګه چې په سعی کې طهارت مستحب دی، له دې امله موږ هم د مسجد د زیاتې سوې ارشو مسجد ګڼل غوره وګڼل او د احتیاط له امله مو د (خواتین کے لیے رهنمائے حج وعمره) کتاب حکم ته اعتبار ورکړ. کومې ښځې ته چې تر طواف وروسته میاشتنی تکلیف پېښ سي سعی دې تر پاکۍ وروسته وکړي.

## په مکه کې د حج لپاره د انتظار په ورځو کې لاندې خبرې توصیه کېږي

- هغه حجانۍ چې د افراد یا قران حج احرام یې تړلی وي، کله چې له طواف قدوم او سعیې څخه فارغه سي په احرام کې دې په مکه مکرمه کې اوسي او د احرام له ممنوعاتو دې ځان ساتي.
- هغه حجانۍ چې د تمتع حج احرام یې تړلی وي، کله چې د عمرې له طواف او سعیې څخه وزګاره سي ځان دې له احرامه وباسي. دې ته اوس هغه شیان چې د احرام له امله پر منع سوي وه، لکه نوکان اخیستل، د مېږه سره یو ځای کېدل او داسې نور ټول ورته روا دي. بیا به د حج لپاره د ذوالحجې په اتمه یا تر هغې دمخه احرام تړي. لکه چې په راتلونکو پاڼو کې به خبرې پر وسي.

- حجانې دي په مکه مکرمه کي اوسېدل غنيمت وګڼي. هر څونه چي کولای سي نفلي طوافونه دي کوي.
- د زمزم اوبه ښېخي ډېري چيښئ.
- دغه د سعادت کبر یٰ قېمتي وخت په لايعني خبرو او مجلسونو، او د بازارونو پر بې اړتيا چکرونو مه تېروئ.
- په اتاق او فارغو وختونو کي د مناسکو او نور ديني کتابونه مطالعه کوئ.
- مُفْرِده چي له طواف قدوم او قارنه چي له عمرې څخه خلاصه سي، چي په مکه کي وي هر وخت چي وغواړي نفلي طواف کولای سي. تر نفلي طواف وروسته سعی هم نسته. (نفلي سعی نسته) مګر تر نفلي طواف وروسته دوه رکعته لمونځ کول واجب دی.
- مُفْرِده او قارنه دي تر طواف قدوم او عمرې وروسته تلبيه وايي. البته په طواف کي دې نه وايي. د مُفْرِد او قارن تلبيه د عقبه جمرې د رمي پر مهال پای ته رسيږي.
- د بهرنيانو لپاره (هغه چي د مکې اوسېدونکي نه وي) تر نفلي لمونځ نفلي طواف افضل دی او د مکې د اوسېدونکو لپاره د حج په زمانه کي نفل لمونځ تر نفلي طواف ښه دی.
- د ذوالحجې له لومړۍ نېټې څخه تر لسمي پوري «ايام عشره» بلل کيږي په دغو ورځو کي عبادتونه، خيراتونه او نېکي چاري ډېر ثوابونه لري. په دغو ورځو کي «سبحٰن الله والحمد للهِ ولا إلٰه إلا الله والله أكبر» ډېر واياست.

- تاسي کولای سئ چي په دغو ورځو کي یا د حج تر ورځو وروسته ډېري عمرې وکړئ. د خپل مور او پلار او دوستانو لپاره، مړه وي که ژوندي عمرې وکړئ. عمره کوم ځانګړی وخت نه لري. صرف د ذوالحجې له نهمي څخه تر دیارلسمي پوري عمره نه کیږي. ښایي ځیني کسان تاسي ته ووایي چي ډېري عمرې مه کوئ. یا په ځینو کتابونو کي ولولئ چي ډېري عمرې منع دي. تاسي په دې خبرو سر مه ګرځوئ. خو په هر څه کي منځ لاري ښه ده او ډېر نفلي طوافونه تر عمرې ډېر افضل دي.
- تاسي کولای سئ چي له تنعیم (د بي بي عایشېرضي الله عنها له مسجد) یا جعرانې څخه عمره راوړئ. کله چي مو د عمرې قصد وکړ نو ښه داده چي په خپله کوټه کي غسل وکړئ. که غسل ممکن نه وي اودس تازه کړئ. د احرام لپاره پاکي جامې واغوندئ، تنعیم ته ولاړه سئ. که مکروه وخت نه وو په مسجد عایشه کي دوه رکعته تحیة المسجد او بیا دوه رکعته د احرام لمونځ وکړئ. (دغه څلور رکعته ضروري نه دي) که دوه رکعته وکړئ هم کفایت کوي. بیا د عمرې نیت وکړئ او درې واره کرار تلبیه ووایاست او بیا مکې مکرمې ته ولاړه سئ او عمره ادا کړئ.
- هر ه پلا چي عمره کوئ د ټول سر د ټولو ورېښتانو له څوکو څخه د یوې ګوتې د بند په اندازه پرې کوئ.
- قرآن کریم دونه تلاوت کړئ چي لږ تر لږه یې یوه پلا ختم کړئ.

- د تحية المسجد (مسجد ته د ننوتو) دوه رکعته لمونځ، تحية الوضو (د اودس تازه کولو) دوه رکعته لمونځ، تهجد لمونځ، اشراق لمونځ (له لمر ختو څخه پنځلس دقيقې وروسته، دوه يا څلور رکعته)، د څاښت لمونځ ( د سهار له نهو بجو څخه تر زوال څه مخه وخت پورې، دوه، څلور يا اته رکعته)، اوابين لمونځ (د ماښام تر فرضو او سنتو وروسته شپږ رکعته، د توبې دوه رکعته لمونځ او څلور رکعته صلاة التسبيح لمونځ ډېر ډېر کوئ.
- صدقه او خيرات ورکوئ او د خپلو ملګرو ښځو سره مرسته کوئ.
- کله کله چې هجوم نه وي په حطيم شريف کې نفل کوئ. دا د بيت الله شريفې يوه برخه ده. په دغه ځای او د بيت الله په دننه کې لمونځ کول يو شان ثواب لري.
- کله چې له طواف او لمونځونو څخه ستړې سئ نو د مسجد الحرام په دالانو کې يو ګوښه ځای کښېنئ او کعبې شريفې ته ګورئ دا هم ډېر ثواب لري.

**د طواف زِيارت د سعيي په هکله مشوره:**

- په (خواتين کےلۓ رهنمائے حج وعمره) کتاب کې ليکي: زموږ مشوره داده چې کومه ښځه چې تمتع حج کوي هغه دې په ځانګړې توګه د حج د ورځو تر پيلېدلو دمخه څو نفلي عمرې هرو مرو وکړي. د دې ګټه به دا هم وي چې تر طواف زيارت وروسته به تاسې ته سعی معافه وي او تر طواف زيارت وروسته به د سعيي له مشکلاتو خلاصه ياست.

- همدا شان که د قران حج کوونکې ښځه تر طواف قدوم وروسته سعی وکړي نو تر طواف زیارت وروسته یې سعیي ته ضرورت نسته.
- دغه راز کېدای سي چي که د طواف زیارت سعی تر طواف زیارت دمخه کوئ، نو نفلي طواف، د طواف لمونځ او ورپسې د طواف زیارت سعی وکړئ، د سر ټوله وریښتان د ګوتي د یوه بند په اندازه پرې کړئ او ځان حلال کړئ.

## د حج بیان

### د حج فرائض:

د حج فرضونه درې دي:

1- احرام: یعنی په زړه د حج نیت کول او تلبیه یعنی (لبیك) تر پایه ویل.

2- پر عرفات درېدل: یعنی د ذوالحجې پر نهمه نېټه د لمر تر زوال وروسته بیا د ذو الحجې د لسمي نېټې تر صبح صادق پوري، یو وخت له وختونو پر عرفات درېدل که څه هم یوه شیبه وي.

3- طواف زیارت: یعنی د ذوالحجې د لسمي له صبح صادق څخه بیا تر دولسمي پوري پر بیت الله طواف کول.

مسئله: که له دې درو فرضونو څخه یو پاته سي حج نه دی صحیح او تلافي یې په دم یعني قرباني او نورو نه کیږي.

### د حج ارکان:

د حج دوه رکنه دي:

1- پر عرفات درېدل او.

2- طواف زيارت.

په دې دوو کي ډېر مهم، مقصود او قوي پر عرفات درېدل دي.

**د حج واجبات:**

د حج واجبات شپږ دي:

1- د صفا او مروه په منځ کي سعی. (د صفا او مروه په منځ کي په ځانګړې توګه اووه ټپاله تله او راتله).

2- په مزدلفه کي وقوف (اوسېدل) او پاته کېدل. د ذو الحجې د لسمي د صبح صادق تر طلوع وروسته د څه مهال لپاره په مزدلفه کي اوسېدلو ته «وقوف مزدلفه» وايي. البته په دې هکله ښځو ته خاص رعايت سته چي په خپل ځای کي به خبري پر وسي.

3- رمي جمار، يعنی جمرې (شيطانان) په شګو ويشتل.

4- د قارن او متمتع لخوا قرباني کول.

5- د ښځې د وربېښتانو د څوکو لنډول.

6- طواف وداع (طواف صدر) يعنی چي څوك له ميقاته بهر وي د هغه آفاقي لپاره د رخصتېدو طواف واجب دی.

مسئله: د واجباتو حکم دادی چي که په قصد يا په هېره پاته سي حج کيږي خو جزا (قرباني يا صدقه) لازميږي. البته که ځيني افعال په معتبر عذر پاته سي نو جزا نسته.

**د حج سنتونه:**

1- د آفاقي مُفْرِد او قارن لخوا طواف قدوم.

2- دامام لخوا درې ځایه خطبه ویل. د ذو الحجې پر اوومه په مکه مکرمه کې. پر نهمه یې د عرفات په نَمِره مسجدکې، د دوو لمونځونو تر یو ځای اداکولو د مخه. پر یوولسمه یې په منا کې.

3- د ذو الحجې په نهمه شپه په منا کې اوسېدل.

4- د ذو الحجې په نهمه، سهار د لمر تر راختلو وروسته له منا څخه عرفات ته روانېدل.

5- له عرفات څخه د امام تر روانېدلو وروسته مزدلفې ته روانېدل.

6- له عرفات څخه مزدلفې ته په رسېدو سره شپه تېرول.

7- په عرفات کې غسل کول.

8- د منا په شپو کې د شپې په منا کې اوسېدل.

9- له منا څخه د ستنېدو پر مهال په مُحَصِّبْ کې توقف کول که څه هم یوه شېبه وي.

پردې وو سربېره نور ډېر سنتونه دي چې د حج په راتلونکو مسایلو او احکامو کې به په خپلو ځایونو کې ذکر سي ان شاء الله تعالی.

مسئله: د سنتو حکم دادی چې د هغو په قصد پرېښوول بد کار دی. په تر سره کولو کې یې ثواب دی، خو پر پرېښوولو یې جزا نه لازمیږي.

**د حج ډولونه**

حج درې ډوله دی: افراد، قران او تمتع.

**افراد:**

که له ميقات څخه يوازې د حج احرام وتړئ او صرف د حج نيت وکړئ نو دې ته «افراد» حج وايي. دغه احرام به مو د حج د ټولو مناسکو تر پای ته رسېدو؛ يعني تر لوی اختر پورې تړلی وي او د حج تر بشپړېدو وروسته به يې خلاصوئ. څنګه چې په دې حج کې عمره نسته نو قرباني هم نه لري.

**د مفرد حج طريقه:**

له ميقات څخه يوازې د حج احرام وتړئ، لبږ تر لبږه درې واره تلبيه ووایاست، طواف قدوم وکړئ. که تر طواف قدوم وروسته د طواف زيارت سعی کوئ هم يې کولای سئ. خو د مُفْرِد لپاره سعی تر طواف زيارت وروسته افضل ده. ځکه چې د سعيي اصلي ځای تر طواف زيارت وروسته دی. سعی واجب او طواف زيارت فرض دی او واجب د فرضو تابع کېدای سي خو د سنتو نه سي تابع کېدلای او لکه چې پوهېږئ طواف قدوم سنت دی، که څه هم تر طواف قدوم وروسته سعی کېدلای سي. بيا بېله دې چې د سر وربښتان پرې کړئ د اختر د ورځې د سر د وربښتانو تر لنډولو (غچې کولو) پورې په احرام کې واوسئ. د دې حج نور اعمال هماغه د حج عمومي اعمال دي.

**قران:**

که د حج او عمرې دواړو احرام يو ځای تړئ او په يوه احرام کې دواړه کوئ نو دې ته «قران حج» وايي. دغه احرام هم د عمرې تر ادا کولو وروسته نه خلاصيږي. بلکې تر عمرې وروسته به هم په احرام کې ياست او په لوی اختر به يې د حج تر بشپړېدو وروسته

خلاصوئ. څنګه چي په دې حج کي دوه عبادته (عمره او حج) ادا کيږي نو له دې امله په دې حج کي قرباني د شکراني په توګه واجب ده.

**د قران حج طريقه:**

د حج او عمرې په نيت احرام وتړئ.لبږ تر لبږه درې واره تلبيه ووايئاست، طواف او سعی وکړئ. په دې توګه مو عمره بشپړه سوه. خو د سر وريښتان مه پرې کوئ. بيا طواف قدوم وکړئ. طواف قدوم سنت دی، په پريښوولو يې دم نه واجبيږي.تر دې طواف وروسته د طواف زيارت سعی هم کولای سئ. تر دې طواف وروسته د لوی اختر د ورځي د سر د وريښتانو تر لنډولو پوري په احرام کي واوسئ. د دې حج نور اعمال هماغه د حج عمومي اعمال دي.

يادونه: قران حج يوازي د آفاقي لپاره دی. خو د مکې، ميقاتونو او د حل د اُرشو د اوسېدونکو لپاره قران او تمتع منع دي. که يې د دې حج نيت وکړ سر بېره پر دې چي ګنهګاره دی بايد عمره پرېږدي او يوازي د حج په کولو بسنه وکړي. بيا به پسه حلالوي او بې وزلو ته به يې خيراتوي، خپله به څه نه ځني خوري. که يې بالفرض عمره وکړه هم به پسه خيراتوي. دغه پسه قرباني نه بلکي د ده د جنايت دم دی.

**تمتع:**

که يوازي د عمرې احرام وتړئ او د عمرې تر اداکولو وروسته احرام خلاص کړئ او بيا د لوی اختر د مياشتي (ذولحجې) پر اتمه د حج احرام وتړئ او حج ادا کړئ، نو دې ته «تمتع حج» وايي. په تمتع حج کي هم قرباني د شکرانې په توګه واجب ده.

**د تمتع حج طریقه:**

سره د دې چې تاسي د حج کولو نیت لرئ، خو لومړی د عمرې په نیت احرام وتړئ. لږ تر لږه درې واره تلبیه ووایاست، طواف او سعی وکړئ. د سر د دوربښتانو څوکي غچي کړئ.په دې توګه مو عمره بشپړه سوه. له احرامه ووزئ. بیا د ترویې په ورځ (د لوی اختر پر اتمه) د حج احرام وتړئ. نوري خبري دمخه ویل سوي دي.

یادونه: دا حج هم د آفاقیانو لپاره دی.

مسئله: پر متمتع باندي طواف قدوم واجب نه دی. تر عمره وروسته چي هر څونه نفلي طوافونه کوي ودې کړي.

**د افراد حج افعال حکم د قران افعال حکم**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احرام | شرط | ۱ | د حج اوعمرې احرام | شرط |
| ۲ | طواف قدوم | سنت | ۲ | د عمرې طواف | رکن |
| ۳ | پر عرفات دریدل | رکن | ۳ | د عمرې سعی | واجب |
| ۴ | په مزدلفه کي دریدل | واجب | ۴ | طواف قدوم | سنت |
| ۵ | دعقبه جمرې ویشتل | واجب | ۵ | د حج سعی | واجب |
| ۶ | قرباني | اختیاري | ۶ | په منا کي اوسېدل | سنت |
| ۷ | وربښتان پرې کول | واجب | ۷ | پر عرفات دریدل | رکن |
| ۸ | طواف زیارت | رکن | ۸ | په مزدلفه کي | واجب |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | دریدل | |
| ۹ | سعی | واجب | ۹ | دعقبه جمرې ویشتل | واجب |
| ۱۰ | د درو جمرو ویشتل | واجب | ۱۰ | د قران دم (قرباني) | واجب |
| ۱۱ | طواف وداع | واجب | ۱۱ | وربېښتان پرې کول | واجب |
| | ـــــــ | | ۱۲ | طواف زیارت | رکن |
| | ـــــــ | | ۱۳ | د درو جمرو ویشتل | واجب |
| | ـــــــ | | ۱۴ | طواف وداع | واجب |

**د تمتع د فعلونو نخشه چې هدی نه وي ورسره حکم**

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د عمرې احرام | شرط |
| ۲ | دعمرې طواف | رکن |
| ۳ | د عمرې سعی | واجب |
| ۴ | دسر د وربېښتانو پرې کول | واجب |
| ۵ | په اتمه د حج احرام تړل | شرط |
| ۶ | په منا کې اوسېدل | سنت |
| ۷ | پر عرفات دریدل | رکن |
| ۸ | په مزدلفه کې دریدل | واجب |
| ۹ | د عقبه جمرې ویشتل | واجب |
| ۱۰ | قرباني یعنی دتمتع دم | واجب |
| ۱۱ | د سر د وربېښتانو پرې کول | واجب |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | طواف زیارت | رکن |
| ۱۳ | سعی | واجب |
| ۱۴ | د درو جمرو ویشتل | واجب |
| ۱۵ | طواف وداع | واجب |

**د حج په مناسکو کې د نارینه او ښځې فرق**

| اعمال | د نارینه لپاره | د ښځې لپاره |
|---|---|---|
| په احرام کې | دوه ناګنډلي ټوکران | د ورځنیو اغوستو کالي |
| په احرام کې | سر به نه پټوي | سر به پټوي |
| په احرام کې | هغه څپلۍ چې د پښو هډوکي یې لڅ وي | دغه قید نسته |
| تلبیه | په لوړ آواز | کرار ویل |
| په طواف کې | اضطباع او رمل | اضطباع او رمل منع دی |
| په طواف کې | بیت الله ته نژدې طواف افضل دی | د هجوم په صورت کې د مطاف پر څنډه واجب دی |
| په سعی کې | د دوو زرغونو څلو تر منځ چټک تګ اړین دی | د دوو زرغونو څلو تر منځ چټک تګ منع دی |
| د ویښتانو خریل یا لنډول | واجب. خریل افضل او لنډول جایز | خریل حرام. پرې کول واجب |
| په مزدلفه کې دریدل | واجب | د هجوم په صورت کې واجب نه دي |

| | | |
|---|---|---|
| په طواف زيارت کي | که يې د اختر په ورځو کي ونه کړي او بيا يې وکړي جزا پر لازميږي | که د حيض يا نفاس له امله دغه طواف وځنډوي جزا نه پر لازميږي. |
| په طواف وداع کي | که يې پريږدي جزا پر لازميږي | که په حيض يا نفاس کي وي که يې پريږدي جزا نه پر لازميږي. |

**د حج سنتونه او مستحبات**

د حج د سنتونو دا حکم دی چي هغه په پوهه او قصد سره پرېښوول بد کار دی. د هغو په ترسره کولو سره په حج کي ښکلا او بشپړتيا راځي او د ثوابونو د ګټلو موجب کيږي. خو د سنتو پر پرېښوولو باندي څه جرمانه نه راځي. البته دغه اصول په ياد کړئ چي حج د فرضو په پرېښوولو ساقطيږي. د واجبو په پرېښوولو سره فاسديږي او د سنتو په پرېښوولو سره ناقصيږي.او مبرور حج هغه دی چي له هر ډول نقصه پاک وي.

**د حج د سنتونو تفصيل:**

1- د افراد حج يا قران حج کوونکي آفاقي لپاره طواف قدوم کول.

2- د ذوالحجې د مياشتي پر اتمه تر سپيدې چاود وروسته له مکې مکرمې څخه رهي کېدل او منا ته تر ماپښين دمخه رسېدل او هلته پنځه لمونځونه کول.

3- د ذوالحجې د اتمي او نهمي په شپه په منا کي اوسېدل.

4- د ذوالحجې په نهمه د لمر تر راختلو وروسته له منا څخه عرفات ته تلل.

5- له عرفات څخه مزدلفې ته په رسېدو سره ټوله شپه په مزدلفه کي تېرول. خو په مزدلفه کي په مطلقه توګه مازي یوڅه مهال اوسېدل واجب دي.

6- له عرفات څخه د امام تر روانېدلو وروسته روانېدل. خو که د لمر تر لوېدو وروسته امام په روانېدو کي ځنډ وکړي او یا یې د روانېدو حال نه سي معلومېدلای نو بیا تر امام په دمخه روانېدو کي څه حرج نسته.

7- د ذوالحجې په یوولسمو او دولسمو شپو په منا کي اوسېدل. او که په دیارلسمه شپه هم شیطانان ولئ نو په دیارلسمه شپه هم په منا کي اوسېدل.

8- له منا څخه مکې ته د راستنېدو په لار کي په محصب کي تم کېدل. خو اوس پر دغه ځای ودانۍ جوړي سوي دي او په معابده مشهور سوی دی.

**د حج د مستحباتو تفصیل:**

1- د ښځو لپاره په کرار آواز تلبیه ویل.

2- د مفرد لپاره قرباني کول.

3- مکې مکرمې ته د ننوتلو پر مهال غسل کول.

4- مزدلفې ته د رسېدو پر مهال غسل کول.

5- په عرفات کي جبل رحمت ته نژدې درېدل.

6- په عرفات کي ډېره تلبیه ویل او ډېري دعاوي کول.

7- په مزدلفه کي د ذوالحجې پر لسمه سهار په مشعرالحرام کي درېدل او د سهار لمونځ هلته کول.

8- په مزدلفه کي د سهار لمونځ اول وخت په تياره کي کول.

9- په منا کي د ذوالحجې پر لسمه تر لمر ختو وروسته عقبه جمره ويشتل.

## د حج مناسک په لنډه توګه

| د حج لومړی ورځ<br>د ذوالحجې اتمه | د حج دوهمه ورځ<br>د ذوالحجې نهمه | د حج درېيمه ورځ<br>د ذوالحجې لسمه |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| له مکې څخه منا ته تلل | په منا کي د سهار تر لمانځه وروسته عرفات ته تلل | په مزدلفه کي د سهارتر لمانځه وروسته منا ته تلل |

(په منا کي نن ورځ)

| | | |
|---|---|---|
| د ماپښين لمونځ | د ماپښين لمونځ په عرفات کي کول | لومړی عقبه جمره (لوی شيطان) ويشتل |

| | | |
|---|---|---|
| د مازديګر لمونځ | پرعرفات درېدل | بيا د شکرانې پسه حلالول |

| | | |
|---|---|---|
| د ماښام لمونځ | د مازديګر لمونځ په عرفات کي کول | بيا د سر وريښتان پرې کول |

| | | |
|---|---|---|
| د ماخستن لمونځ | ماښام د ماښام لمونځ نه کول، مزدلفې ته تلل | بيا د طواف زيارت لپاره مکې ته تلل |

| | | |
|---|---|---|
| په منا کي شپه تېرول | د ماښام او ماخستن لمو نځونه په مزدلفه کي کول | شپه په منا کي تېرول |

**شپه په مزدلفه کي تېرول**

| **د حج څلورمه ورځ**<br>**د ذوالحجې يوو لسمه** | **د حج پنځمه ورځ**<br>**د ذوالحجې دوو لسمه** |
|---|---|
| په منا کي تر زوال وروسته رمي کول | په منا کي تر زوال وروسته رمي کول |

| | |
|---|---|
| لومړی جمرهٔ اولٰی<br>(کوچنی شیطان) ویشتـل | لومړی جمرهٔ اولٰی<br>(کوچنی شیطان) ویشتـل |

| | |
|---|---|
| بیا جمرهٔ وسطٰی<br>(منځنی شیطان) ویشتـل | بیا جمرهٔ وسطٰی<br>(منځنی شیطان) ویشتـل |

| | |
|---|---|
| بیا جمرهٔ عقبه<br>(لوی شیطان) ویشتـل | بیا جمرهٔ عقبه<br>(لوی شیطان) ویشتـل |

| | |
|---|---|
| که مو تېره ورځ طواف زیارت نه<br>وي کړی نن یې وکړئ | که مو طواف زیارت نه وي کړی<br>نونن یې هرو مرو وکړئ |

| | |
|---|---|
| شپه په منا کي تېرول | که (۱۳) شپه په منا کي تېروئ<br>نو جمرې تر زوال دمخه<br>ویشتلای سئ خو مکروه دي |

**د لوی اختر د میاشتي (ذوالحجې) اتمه د حج لومړی ورځ: له مکې مکرمې څخه منا ته تلل**

د ذوالحجې (د لوی اختر د میاشتي) له اتمي څخه تـر دوولسـمي پوري پنځه ورځي د حج ورځي دي. دغه ورځي د ټول سفر زړه بالـه سي. په دغو ورځو کي د اسلام ستر رکن «حج» ادا کیږي.

تاسي باید د ذوالحجې د اوومي تر ماښام وروسته منا ته د تللو لپاره تیاري ونیسئ او دغه کارونه ترسره کړئ:

- د «ترویې» یعني د لوی اختر د میاشتي پر اتمه غسل وکړئ. مُفْرِد او قارن خو له پخوا څخه په احرام کي دي هغو ته د نوي احرام ضرورت نسته د دوی هغه مخکنی احرام پر خپل حال پاته دی.اوس دی متمتع او د مکې اوسېدونکي چي تر عمرې وروسته یې احرام خلاص کړی وو، د حج لپاره احرام وتړي.
- لومړی غسل وکړئ. که میاشتنی تکلیف در پېښ وي هم غسل وکړئ، نوکان واخلئ، د بغل او نورو وریښتان پاک کړئ. که د کوم معذرت له امله غسل نه سولای کولای نو اودس تازه کړئ.
- که مکروه وخت نه وي او په حیض یا نفاس کي نه یاست د احرام په نیت په خپله کوټه کي دوه رکعته نفل وکړئ او په کوټه کي د حج احرام وتړئ (خپل ورځني پاک کالي واغوندئ) او د حج نیت وکړئ.
- که تاسي فرض حج کوئ نو د فرضي حج نیت وکړئ، خو که نفلي حج کوئ د نفلي حج نیت وکړئ. که د کوم بل چا لخوا حج کوئ نو د هغه نوم واخلئ چي زه د پلاني د پلاني د زوی لخوا یا د خپل پلار یا مور یا مېړه لخوا حج کوم.
- د نیت الفاظ دادي: «اَللَّهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ اَلْحَجَّ فَیَسِّرْهُ لَیْ وتَقَبَّلْهُ مِنّی» که مو په عربي نیت نه سوای کولای په دې الفاظو یې وکړئ:

اى لويه څښتنه! زه د حج نيت کوم نو ماته يې آسانه کړې او راڅخه قبول يې کړې.

- بيا سمدستي درې واره کرار تلبيه ووایاست:

«لَبَّيْكَ، اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ».

- بيا د حج په ادا کولو کې د آسانۍ لپاره دعا وکړئ.
- نفلي طواف د احرام تړلو لپاره مستحب دى که يې ونه کړئ پروا نه کوي.

بس ستاسې د حج احرام وتړل سو. اوس نو د احرام هغه پابندۍ چې د دې کتاب په (۳۸) او (٤٠) مخونو کې د (هغه خبرې چې په احرام کې منع دي) او (مکروه چارې) تر سرليکونو لاندې ليکل سوي دي په ټينګه په پام کې ونيسئ. دغه دعا هم وکړئ:

«اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَسْأَلُكَ رِضَاكَ وَالْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ غَضَبِكَ وَالنَار».

ژباړه: اى لويه څښتنه! زه ستا رضا او جنت غواړم او ستا له غضب او ناراضي توب او دوږخ څخه پناه غواړم.

تر دې وروسته په ناستي ولاړه، تلو راتلو او داسي نورو کې تلبيه ډېره، خو کرار وایاست. کله چې منا ته روانه سې داسې فکر وکړه چې زما رب جل جلاله ما هلته ورغواړي او زه د هغه بلني ته «لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ»؛ يعني زه حاضره يم، زه حاضره يم وايم. کله کله درود شريف هم وایاست.

رسول صلى الله عليه وسلم منا ته تر زوال دمخه تللى وو او بي بي عايشه رضي الله عنها د شپې په وروستيو کې منا ته روانه سوې وه.

د حج دغه پنځه ورځې د لوی ښتن د ذکر، دعاوو، استغفار، او عبادت دي، هوښ کوئ چې د دنیا چټې خبري پکښې ونه کړئ. له غیبته ډېر ځان ساتئ. د چا سره جنګ جګړه ونه کړئ. د خپل د ژوند دملګري اطاعت او فرمانبرداري کوئ. هر څه په صبر او حوصله زغمئ، څو ستاسي حج په ښه توګه ادا سي او مقبول او مبرور حج وي.

د ذوالحجې په اتمه په منا کي د ماپښين، مازدیګر، ماښام، ماخستن او د بلي ورځي د سهار لمونځ کول او شپه په منا کي تېرول سنت دي.

البته لمونځونه به د دې کتاب په (١٦) مخ کي چي (په سفر کي د لمانځه مسایل) تر سرلیک لاندي کومي لارښووني سوي دي، د هغو سره به یې سم کوئ. خو سنت او نفل به نه پرېږدئ.

**د لوی اختر د میاشتي نهمه د حج دوهمه ورځ: له منا څخه عرفات ته تلل**

دا ډېره مهمه او د دوږخ له اوره د ژغورني او مغفرت ورځ ده. رسولﷺ فرمايي: «اَلْحَجُّ عرفةُ» یعني حج عبارت د عرفې له ورځي څخه دی. په دې ورځ پر عرفات درېده د حج ستر رکن باله سي. که په خپل وخت کي د عرفې درېده در څخه پاته سوه ټوله خواري مو هدر ولاړه. پر کال به بيا حج ته ځئ.

**دتشریق تکبیر:**

د ذو الحجې له نهمي څخه چي ښه رڼا سي، د سهار د لمانځه تر فرضو وروسته د ذوالحجې د دیارلسمي د مازدیګر تر لمانځه پوري تر هر فرض لمانځه وروسته یو وار د تشریق د تکبیر د ویلو حکم

نارینه وو او ښځو دواړو ته دی، (د تشریق تکبیر ویل واجب دي) خو نارینه دې په زوره وایي او ښځي دې کرار وایي. حاجیانو ته هم دغه حکم دی. حاجیان دي تلبیه هم پسي وایي، خو که یې تلبیه دمخه وویل تکبیر تشریق ساقط سو.

لومړی د تشریق تکبیر: «الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله والله اکبر، الله اکبر ولله الحمد». وواياست بیا تلبیه وواياست.

کله چي لمر راوخیږي او د ثبیر پر غره وغوړیږي عرفات ته رهي سئ. کله چي مو پر جبل رحمت سترګي ولګېدې تسبیح، تهلیل، تکبیر او استغفار وایاست او دعا وي کوئ. وروسته تلبیه وایاست څو چي عرفات ته ننوزئ.

کله چي عرفات ته ورسېدلاست په خپله خېمه کي د څه مهال لپاره آرام وکړئ، د غرمې د ډوډۍ تر خوړلو وروسته پر عرفات باندي درېدو ته ځان تیار کړئ. که مو په ستر کي غسل کولای سوای، غسل وکړئ که نه اودس تازه کړئ.

**پر عرفات درېدل:**

پر عرفات باندي د درېدو وخت د ذوالحجې د نهمي له زوال څخه د ذوالحجې د لسمي تر صبح صادق پوري دی. تاسي ته ښه داده چي له زوال څخه پر عرفات درېدل شروع کړئ.

په یاد مو وي چي دا ډېر خاص ځای او بېخي مهم وخت دی. دغه څو ساعته د ټول حج خلاصه بلل کیږي. هوښ کوئ چي یوه شېبه هم عبث ضایع نه کړئ. ګرمي وي که یخ ویې زغمئ. خپل بد عملونه او ګناوي درپه یاد کړئ، په کټ کټ پر وژاړئ، په ټینګه توبه

وکاږئ. خدای تعالی ژړا او توبه ډېره خوښوي. نن په ژړا او دعـا کي کمی مه کوئ. بیا په ژوند کي تر دې ښه وخت نه در په برخه کیږي.

پـه ولاړه کـي د دعـا لپـاره لاس پورتـه کـول، دعـاکول، تلبیـه، استغفار، د قرآن تلاوت، اذ کار، ډېر درودونه ویل، توبه او استغفار، زاری او ژړا مستحب دي. په ښه عاجزي او فقیرانه صـورت او د زړه له کومي ځان، مور، پلار، استادانو، مېره او اولادونو، خوندو، وروڼو، عزیزانـو، خپلوانـو، دوسـتانو، ټولـو حاجیـانو، خپلـو وطنوالـو، خپـل هیواد افغانستان او د نړۍ ټولـو مسـلمانانو تـه دعـاوي وکـړئ. د دې کتاب لیکونکی، چاپوونکي او پلورونکي هم له دعا مه هېروئ.

د دعا د قبلېدو هیلـه پـه ټینګـه ولـرئ او هـره دعـا، درود، تکبیـر، تهلیل او نور درې واره وایاست. په سـر او پـای کي یـې حمـد او ثنـا وایاست او په «آمین» یې پای ته رسوئ.

د ماپښین لمونځ په خپلـه خېمـه کي ماپښـین وکـړئ. تـر لمانځـه وروسته چي مو زړه غواړي هغسي ذکر، تلاوت، او دعاوي وکړئ. د عرفات لپاره کومه داسي خاصه دعا نه ده ټاکلې سوې چي د هغې د نه ویلو په سبب په حج کي فرق راسي. که کېدای سي لانـدي خبـري ترسره کړئ:

- درې یا پنځه یا اووه واره (الْحَمْـدُ لِلَّـهِ) ترپایـه ووایاسـت. بیـا هغه درود ووایاست چي د لمانځـه پـه دوهمـه ناسـته کي یـې وایاسـت. بیـا پـه ژړا ژړا لـه خپلـو ګنهونـو توبـه وکـاږئ. بیـا یوولس واره دغه استغفار ووایاست: «استـغفر الله الـذي لا الـه الا هُوَ الحی القیوم واتوب الیه».

- درې واره تلبيه ووایاست. بیا هغه درود چې د لمانځه په دوهمه ناسته کې يې وایاست سل واره ووایاست او کله کله د هغه په پای کې وعلينا معهم هم وایاست.
- سل واره «لا اله الا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير».
- سل واره د ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ سوره ووایاست.

**د عرفات د عاوي:**

داحاديثو ځينو كتابونو په دغه وخت كې دغه دعا ګاني رسول ﷺ ته منسوبې کړي دي:

«لا إله إلا الله وحده لاشريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير. اللّٰهُمَّ لك الحمد كالَّذي تقول وخيرا مما نقول. اللّٰهُمَّ لك صلاتي ونسكي ومحيايَ ومماتي وإليك مآبي ولك ربي تُراثي. اللّٰهُمَّ اِنِّي إعوذ بك من عذاب القبر ومن فتنة الصدر وشتاتِ الأمر. اللّٰهُمَّ إِنِّي أسألك من خير ما تجئُ به الريح وأعوذ بك من شر ما تجيء به الريح. اللّٰهُمَّ اجْعل في قلبي نورا وفي سمعي نورا وفي بصري نورا. اللّٰهُمَّ اشْرح لي صدري ويسر لي أمري وأعوذ بك من وسواس الصدر وشتات الأمر وفتنة القبر».

ژباړه: بيله لويه ښتنه بل معبود نسته. دی يو دی شريك نه لري. ده ته واكمني ده او ده ته ثنا او صفت دی. دی پر هر څه قادر دی. ای لويه ښتنه! تا ته هغسي ستايني دي لکه تا چي ځان ستايلی دی او تر هغو چي زه دي ستايم تا ته ښې ستايني سته. ای لويه ښتنه! تا ته زما لمونځ، زما حج، زما ژوند او مړينه ده او ستا پر لور زما

درګرځېده دي او زما شته هم ستادي. ای لویه څښتنه! زه په تاسره د قبر له عذابه، د زړه له فتنې او د چارو د ورانېدو څخه پناه غواړم. ای لویه څښتنه! زه ستا څخه د هغه خیر غوښتنه کوم چې هوا یې راوړي او له هغه شره چې هوا یې راوړي په تا سره پناه غواړم. ای لویه څښتنه! زما زړه، غوږونه او سترګې له نوره ډکې کړې. او ای لویه څښتنه! زما سینه را پرانیزې، زما کار آسانه کړې او زه د زړه له وسوسې او کارونو له ورانېدو او د قبر له عذاب څخه په تا سره پناه غواړم.

دغه دعا هم وکړئ:

ای لویه څښتنه! دلته چې ستا انبیاوو او حضرت محمدﷺ او ستا منلو بنده ګانو څوني دعاوي کړي دي یا یې مونږ ته فرمایلي دي هغه ټولي زما په هکله قبولي کړې. آمین.

په دې توګه د لمر تر لوېدو پوري په دعاوو او استغفار مشغوله سئ.

**څو مهمي مسئلې:**

مسئله: په عرفات کې د ښځو د درېدو لپاره له حیض او نفاس څخه پاکي شرط نه ده. په دغه حالت کې هم پر عرفات د هغو درېدل درست دي.

مسئله: د نارینه وو سره د ښځو درېدل او ګډېدل منع دي.

یادونه: ښځې لره د دې لپاره چې د نارینه وو له ازدحامه خوندي وي ښه داده چې له جبل رحمت څخه څه لیري ودرېږي.

مسئله: تر لمانځه وروسته سمدستي پر عرفات درېدل سنت دي. خو ځنډ پکښې مکروه دی. دغه راز جبل رحمت ته لوړ ختل بدعت دی.

مسئله: پر عرفات باندې په زړه کې د درېدو نيت مستحب دی شرط نه دی. که بېله نيته پر عرفات ودرېږئ هم روا دی.

مسئله: په عرفات کې درېدل مستحب دي، شرط او واجب نه دي. څونه چې مو وس وي هڅونه ودرېږئ. که ټوله وخت درېدل در ته مشکل سي ناسته او ان بېخي پرېوتل هم جايز دی. خو بېله عذره پرېوتل مکروه دي.

مسئله: د ذوالحجې د نهمي له زوال څخه بيا تر لمر لوېدو پر عرفات درېدل واجب دي. که څوك د عرفات له پولي څخه تر لمر لوېدو دمخه ووتی دم پر واجب دی. خوکه تر لمر لوېدو دمخه بېرته د عرفات ميدان ته راغی نو له دمه خلاص سو. اما که تر لمر لوېدو وروسته راغی دم پر اوړي.

**څو يادوني:**

1- د شپې په يو څه برخه کې مثلاً تر لمر لوېدو وروسته تقريباً لس پنځلس دقيقې په عرفات کې اوسېدل سنت باله سي.

2- تر لمر لوېدو وروسته تر پورتني مهال زيات بېله عذر او ضرورته له عرفات څخه مزدلفې ته په تلوکي ځنډ کول مکروه او د سنتو خلاف دي.

3- د لمر تر لوېدو دمخه رهي کېدل مکروه بلل سوي دي. خو که د ازدحام له امله تر لمر لوېدو دمخه رهي سئ اما د عرفات له

پولو ونه وزئ، بلکي وړاندي ولاړسئ، بیا د عرفات پر څنډه تم سئ هیڅ پروا نه کوي.

4- د ماښام یا ماخستن لمونځ په عرفات یا په لار کي کول مکروه دي.

**مزدلفې ته تلل**

کله چي د عرفات په میدان کي لمر ولوېږي، نو د ماښام لمونځ مه کوئ، په آرامۍ او درنښت مزدلفې ته رهي سئ او په لار کي اذ کار، درودونه او لبیک وایاست. کله چي مزدلفې ته ورسېدلاست لاندي کارونه وکړئ:

- په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځونه ماخستن یو ځای وکړئ. کله چي مزدلفې ته ورسیږئ ژر تر ژره لمونځ کول مستحب دي.

**د لمونځونو کولو طریقه دا ده:**

کله چي ماخستن سي د ماښام درې رکعته فرض وکړئ. کله چي سلام وګرځوئ د تشریق تکبیر او تلبیه ووایاست. د ماښام سنت او نفل مه کوئ. بلکي سمدستي د ماخستن فرض لمونځ وکړئ. کله چي مو سلام وګرځاوه د تشریق تکبیر او لبیك ووایاست. که مسافر بلل کیږئ نو دوه رکعته وکړئ او که نه څلور رکعته وکړئ. بیا د ماښام دوه رکعته سنت او ورپسې د ماخستن دوه رکعته سنت او درې رکعته وتر وکړئ. د نفلو په هکله ستاسي خوښه ده که یې کوئ که یې نه کوئ.

- بیا د خدای ذکر وکړئ، تلبیه ووایاست، د قرآن کریم تلاوت وکړئ، درودونه ووایاست، توبه او استغفار وکړئ او ډېري دعاوي وکړئ. پوه سئ چي دا ډېر مبارک ځای او ډېره مبارکه شپه ده او د ځینو په نزد تر شب قدر هم افضله ده.
- بیا د شپې په لومړیو کي د څه مهال لپاره څه استراحت هم وکړئ، څو نور زیات عبادت ته ښه چمتو سئ. بیدېدل منع نه دي، بلکي له حدیث څخه ثابت دي. بیا راکښېنئ تهجد وکړئ او تر سهار پوري په ذکر او فکر، توبه او استغفار او نورو مشغوله سئ.

**د شګو ټولول:**

- په منا کي د جمرو د نخښو (څلویا شیطانانو) د ویشتلو لپاره له مزدلفې څخه اویا دانې شګي چي د نخود یا د خرما د مندکي یا د لوبیا د دانې غوندي وي د شپې یا د سهار تر لمانځه وروسته په یوه کڅوړه کي ټولي کړئ. له مزدلفې څخه د دغو شګو ټولول مستحب دي.
- کله چي سهار سپېدې وچوي، د عامو ورځو په پرتله څه وختي،په تیاره کي د سهار سنت او فرض لمونځ وکړئ. بیا له سپېدو څخه د لمر راختو تر څه دمخه وخته پوري قزح غره (مشعرالحرام) ته نژدې د عرفې غوندي مخ پر قبله ودرېږئ. دغه درېده (وقوف) واجب دي تر لمانځه وروسته په یوه شېبه درېدو سره دغه وقوف اداکیږي.

**د ښځو لپاره آساني:**

سره د دې چې د مزدلفې وقوف واجب دی، خو ښځو، ناروغانو، کمزورو او ضعيفانو ته د هجوم د تکليفونو څخه د ژغورني لپاره د شپې له مزدلفې څخه منا ته د تلو اجازه ورکړه سوې ده. که دغه خلک د شپې له مزدلفې څخه منا ته ولاړ سي دم او نور نه پر اوړي. رسولﷺ په حجة الوداع کي ښځو، کمزورو، ناروغو، کوچنيانو، زړو، ړندو او ګوډانو ته د دې لپاره چې د جمرو پر ويشتلو باندي له ګڼې ګوڼې څخه اذيت ونهويني اجازه ورکړه چي د شپې په وروستۍ برخه کي له مزدلفې څخه منا ته ولاړ سي او د لمر تر راختلو وروسته عقبه جمره وولي. البته بيا يې دوی او هغو کسانو ته چي دوی يې بېول د دم او کفارې امر هم نه دی کړی.وروسته دغه کار ځينو سترو صحابه وو او زموږ د مذهب امام حضرت ابوحنيفهؒ او ځينو نورو امامانو د عذر له امله ديوه مستحب کار په توګه منلی دی. پر دې بنسټ علماوو پر پورتنيو کسانو باندي سربېره د ښځي محرم، د ناروغ خادم، د زمزم د اوبو کارکوونکو، د اوښانو کرايه کښانو او هغو خلکوته چي که په مزدلفه کي شپه وکړي شته يا يې ځان له منځه ځي هم د مزدلفې د شپې پرېښوولو اجازه ورکړې او په عذر لرونکو کي يې شمېري.

مسئله: که مو د ماښام لمونځ په عرفات يا په لار کي وکړ، کله چي مزدلفې ته ورسېږئ بياېې له سره کول واجب دي. که مو ونه کړ او درباندي سهار سو نو هغه لمونځ مو درست دی قضا يې نه ده واجب.

مسئله: که څوك د ماخستن د لمانځه تر وخت دمخه مزدلفې ته ورسېدی د ماښام لمونځ دي نه کوي، د ماخستن د لمانځه تر وخته دي انتظار وکړي، ماخستن دي دواړه لمونځونه یو ځای وکړي.

مسئله: که له عرفات څخه مزدلفې ته په لار کې کومه داسي پېښه وسوه چي در باندي سهار کېدی نو په لار کي د ماښام او ماخستن لمونځونه یوځای وکړئ.

مسئله: په مزدلفه کې د درېدو لپاره غسل مستحب دی.

یادونه: ټوله مزدلفه د درېدو ځای دی. که هر حاجي پر خپل خپل ځای ودرېږي او دعاوي وکړي څه حرج نسته. خو د مشعرالحرام غره په لمن کې، اوسني لوی مسجد ته نژدې درېدل افضل دي. ځکه وایي چي رسولﷺ دغه غره ته نژدې درېدلی وو. زموږ په مذهب مشعرالحرام ته تلل مستحب دي.

بله یادونه: ښځي لره د دې لپاره چي د نارینه وو له ازدحامه خوندي وي ښه داده چي له مشعر الحرام غره څخه څه لیري ودرېږي.

مسئله: په دې درېدو کي «سبحٰن الله والحمد لله ولا إلٰه إلا الله والله أكبر ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم». او «لا إلٰه إلا الله وحده لا شريك له. له الملكُ وله الحمدُ يحيى ويميت بيده الخير وهو علٰى كل شيء قدير». او نور اذ کار،تلبیه او درودونه په ښه غور او د زړه په حضورسره وایاست او په دعا کي لاسونه پورته کړئ. له لوی څښتن څخه خپل د دې او هغې دنیا ضرورتونه وغواړئ. مور او پلار، مېړه، اولادونو او خپلوانو ته هم دعاوي وکړئ. د خپل هیواد د پرمختګ، د هیوادوالو او د نړۍ د مسلمانانو د دې او هغې دنیا د نېکمرغۍ، سرلوړۍ او هوسایۍ لپاره

هم لوی خدای ته په زاریو سئ. په یاد مو وي چې دا د دعاوو د قبلېدو خاص وخت او ځانګړی ځای دی.

**د لوی اختر د میاشتې لسمه د حج در یمه ورځ: له مزدلفې څخه منا ته تلل**

هغه مهال چې تر لمر خاته پورې د دوو رکعتو (لسو دقیقو) په اندازه وخت پاته وي نو منا ته په بېړه آرامې رهې سئ. په لار کې تلبیه وایاست او ذ کر کوئ.

نن چې د ذوالحجې لسمه (د لوی اختر ورځ) ده تاسې په دې ترتیب څلور کاره کوئ:

**عقبه جمره (لوی شیطان) ولئ**

- قرباني کوئ.
- د سر د وربښتانو څوکې د ګوتې د یوه بند په اندازه لنډوئ..
- بیا طواف زیارت کوئ.

**د جمرة عقبه (د لوی شیطان ویشتل):**

تاسې د اختر په لومړۍ ورځ، چې د ذوالحجې لسمه کیږي منا ته په رسېدلو سره تر هر څه دمخه جمرة العقبه (لوی شیطان) په اوو شګو وولئ.

له هغو اویا شګو څخه چې له مزدلفې څخه مو را اخیستي دي، احتیاطاً تر اوو، درې څلور دانې زیاتې شګې را واخلئ، څو که کومه شګه ضایع کیږي پرېشانه نه سئ. د جمرو ویشتلو ته داسې ودرېږئ چې منا مو ښي لاس او کعبه مو کیڼ لاس ته وي، خو که دا ممکنه نه وي له بل هره لوري څخه یې ویشتلای سئ. په اوو شګو د جمرې د نخښنې بیخ جلا جلا داسې وولئ چې شګه پر جمره ونښلي او د

هغې په شاوخوا احاطه کې ولوېږي. که کومه شګه احاطې ته ونه لوېده، هغه ضایع او بې کاره سوه، د هغې په عوض بله شګه وولئ او د هري شګي د ویشتلو سره وایاست: «بِسْمِ اللهِ اللهُ اَکبَرْ». که مو دا دعا ویلای سوه هم یې ووایاست که نه ضروري نه ده: «رَغْمًا لِلشَّيْطَانِ وَرضىً لِلرَّحْمَنِ. اللهم اجعله حجاً مبروراً وذنباً مغفوراً وسعياً مشكوراً».

ژباړه: زما دا کار د شیطان د خوارولو او سوځلو او د ډېر مهربانه خدای د راضي کولو لپاره دی. ای لویه څښتنه! زما دا حج مقبول کړې، زما ګنهونه را وبخښې او زما هلي ځلي د ثواب لایقي وګرځوې.

دغه راز سبحان الله یا لا اله الاالله اونور ویل هم جایز دي. خو هیڅ ذکرنه کول بد کار دی.

د د غي جمرې په وشتلو سره لبیک ویل بند کړئ. بیا په منا کي خپلي خېمې ته ولاړه سئ او سمدستي د قربانۍ کار وکړئ.

مسئله: شګه په ښۀ ګوته او د شهادت په ګوته نیول مستحب باله سي. خوپه بل ډول یې نیول او جمره په ویشتل هم جایز دي.

مسئله: د جمرې ویشتلو لپاره لـه ګردۍ احاطې څخه پنځه ګزه لیري ودرېږئ. تر دې پر کمه فاصله دربدل مکروه دي. زیاته باك نه کوي.

مسئله: په ښي لاس ویشتل مستحب دي. خو که یې ښی لاس معذور وو په بل لاس دې ولي.

مسئله: رمي هم له لاندي خوا او هم له پله څخه جایز ده. خو ښه داده چي تاسي یې له لاندي ونه ولئ، بلکي له پله څخه یې وولئ. ځکه لاندي د ګڼې ګوڼې په سبب ستاسي د اذیت خطره زیاته ده.

مسئله: ښځې، زاړه، ناروغه،او کوچنيان دي هيڅکله دلانـدي تلـو کوښښ نه کوي. کېداى سي دوى په لاندي خوا کي د هوا د بنديدو له امله د زياتو ستونزو سره مخامخ سي يا خداى مکـړه تـر پښـو لانـدي سي.

مسئله: تر رمي وروسته د عقبه جمرې سره د دعـا لپـاره درېـدل د سنتو خلاف کار دى.

يادوني:

1- د رمي په وخت کي به له مځکي څخه د څپلۍ يا بل شـي د را پورته کولو کوښښ هيڅ نه کـوئ. مـه لانـدي چـوغېږئ او مـه کښته ډېر ګورئ. که نه کېداى سي خداى مکړه تر پښو لانـدي سئ.

2- هرځاى چي مو د تلو په حال کي احساس کړه چي وړاندي څه پيښه سـوې ده، نـو لـه وړانـدي تلـو څخـه ډډه وکـړئ. ياځـان ګوښه کړئ يا پر شا ولاړه سئ يا بل هغه څه وکړئ چي لازم او مناسب يـې بـولئ. مطلـب لـه وارخطـايي او حـواس بـايللو څخه کار وانه خلئ او د نورو د اذيت او پوري وهلو سـبب نـه سئ.

**د رمي وختونه:**

1- د ذوالحجې د لسمي د رمي وخت له سپېدو څخه پيـل کيـږي بيا د يوولسمي تر سـپېدو پـوري دى. کـه د يولسـمي د سـپېدو وخت تېر سو او رمي مو ونـه کـړې دم در بانـدي واجبيـږي. د لسمي تر سپېدو دمخه رمـي نـه دي روا. کـه مـو وکـړې نـه دي صحيح. مسنون وخت يې د لسـمي لـه لمـر ختـو څخـه بيـا د

دغي ورځي تر زوال پوري دی. له زواله بیا تر لمر لوېدو پوري مباح (بېله کراهیته جایز وخت) دی.پس له لمر لوېدو ترصبح صادق پوري مکروه دي. خو ښځو ته نه دی مکروه. بلکي ښځي ته د شپې لخوا شیطان ویشتل ډېر ښه دی.

2- د ذوالحجې په یوو لسمه او دوولسمه درې سره جمرې، هره یوه په اوو شګو ویشتل کیږي. مسنون وختونه یې له زوال څخه تر لمرلوېدو پوري دي او د بلي ورځي تر سپېدو پوري یې ویشتل د کراهیته سره جواز لري. خو ښځي ته کراهیت نه لري. که د بلي ورځي سپېدې وچاودې او جمرې مو ونه ویشتلې دم او قضا در باندي اوړي.

یادونه: که ښځي د هجوم د تکلیف څخه د ژغورني لپاره تر مازدیګر وروسته رمي وکړي ورته آسانه به وي. دغه مهال پر شیطان ویشتلو دونه ګڼه ګوڼه نه وي.

**ښځي دي پخپله شیطان ولي:**

1- هر څوک ښځه وي که نارینه، ناروغ وي که ضعیفه باید پخپله شیطان وولي. هر حاجي ته رمي واجب دي. د قدرته سره، بېله شرعي عذره په بل چا رمي کول جواز نه لري. نن مهال په دې هکله له ډېري بې پروایی څخه کار اخیستل کیږي. په معمولي عذرونو حاجیان نور وکیل تاکي او رمي په کوي. خصوصاً د ښځو لخوا بېله شرعي عذره د هغو نارینه رمي کوي. چي دا بالکل جواز نه لري، بلکي ګناه ګاره کیږئ، حج مو ناقصیږي او دم هم در باندي اوړي. نو باید داسي ستره غلطي ونه کړئ. هوښ کوئ چي په دې هکله د نورو په خبرو

تېر نه وزئ. البته که څوك رشتانی او شرعي ناروغه وي او بـل چاته د رمي کولو حکم وکړي جواز لري. بيا هـم افضـله داده چـي شـكي د ده پـه لاس ورکـړي او هغـه يـې پخپلـه ور وغورځوي. يا يې د ده ملګري د ده لـه لاسـه واخلي ور ويـې غورځوي. د ناروغ لخوا د رميو لپاره اجازه، يعنی حکم شـرط دی.

مسئله: د رميو په هكله شرعا هغه څوك معذور او ناروغ بالـه سي چي په ولاړي لمونځ نه سي کـولای او تـر جمراتـو پـوري په پلی يـا سپاره تلو کي يې د سخت تکليف اندېښنه وي. که سپور تـر جمراتـو پوري تلای سو او د ناروغۍ د زياتوب يا د تکليف اندېښنه يې نه وه نو هغه لره په خپله رمي کول ضروري دي، په بل نه دي روا. البتـه کـه د سپرلۍ يا يې په شا يا بل ډول د وړلو څوك نه وو بيا نو معذور دی په بل چا رمي کولای سي.

مسئله: څوك چي د بل چا لخوا رمي کوي لـومړی دي خپلي اووه شكي وولي بيا دي د بل دا وولی. البته کـه يـوه خپلـه دوهمـه د بـل دا ولي جواز لري خو مکروه دي. په يوولسـمه دوولسـمه دیارلسـمه دي لومړی درې سره جمرې د ځان لخوا وولـي. بيـا دي درې سـره د بـل لخوا وولي.

مسئله: که چا د معذور لخوا رمي وکړې، خو د رميو پر مهـال يـې عذر له منځه ولاړ بيايې د هغه لخوا ويشتل ضروري نه دي.

مسئله: د هجوم له امله د ښځي لخوا د بل چـا ويشـتل نـاروا دي. که ښځي د ازدحام له بېري رمي پرېښوولې فديه پر واجب ده.

**منا ته د شپې د رسېدلو ښځو دويشتلو وخت:**

مسئله: که ښځي د لسمي رمي د هجوم له بېري تر سپېدو وروسته او تر لمر ختو د مخه وکړې او د يوولسمي دوولسمي دا يې تر لمر لوېدو وروسته په شپه کي وکړې روا دي. د ضعيف او کمزوري هم دا حکم دی.

**تلبيه بندول:**

مسئله: د عقبه جمرې د لومړۍ شګي د ويشتلو پر وخت تلبيه بنده کړئ

مسئله: که مو تر زوال پوري ويشتل ونه کړل نو تر څو مو ويشتل نه وي کړي تلبيه مه بندوئ. خو که مو ويشتل نه وي کړې او لمر ولوېدی بيا تلبيه بنده کړئ.

**قرباني:**

د لوی شيطان تر ويشتلو وروسته اوس تاسي قرباني کوئ. افضله داده چي تر شيطان ويشتلو وروسته سمدستي قرباني وکړئ. رسولﷺ دغسي کول. دغه قرباني په اصل کي د حضرت اسماعيلعليه السلام د حلالولو يادګار او د هغې روحاني قربانۍ تمثيل دی.

که تاسي د تمتع حج يا قران حج نيت کړی وي نو پر تاسي د حج قرباني واجب ده، خو که مو د افراد حج نيت کړی وي قرباني نه ده درباندي واجب، بلکي کول يې ښه او مستحب کار دی. اوس تاسي د دغو احکامو سره سم د حج د شکريې په نيت، نه د قربانۍ يا اختري په نيت او لوی څښتن ته د نژدېکت او ثواب لپاره پسه حلال کړئ.

- تاسي کولای سئ د اختر په لومړی، دوهمه او دریمه د حج د شکریې پسه حلال کړئ. خو د دریمي ورځي تر لمر لویدو وروسته نه کیږي.
- که څه هم حلاله په خپل لاس افضله ده، خو ښځي دي د خپل محرم یا بل اعتمادي شخص په ذریعه د شکریې پسه حلال کړي.
- که تاسي مسافره ګڼل کیږئ نو پر تاسي باندي اختری نسته. خو که تاسي تر حج دمخه په مکه مکرمه کي پنځلس ورځي یا زیاتي تېري کړي وي او شرعاً مسافره نه، بلکي مقیمه بلل کیږئ او لمونځ سفریانه نه کوئ، نو پر تاسي باندي د حج پر شکریه سربېره د لوی اختر اضحیه هم واجب ده. دغه اضحیه (اختری) هم په مکه مکرمه کي کولای سئ هم یې په وطن کي. خو په مکه مکرمه کي د یوې قرباني ثواب د لکو قربانیو سره برابر دی.
- د دې قرباني حکمونه کټ مټ د اختري غوندي دي د کوم څاروي قرباني چي په اختر روا وي هغه په حج کي هم رواوي. او لکه چي په لوی اختر کي په اوښ، غوایي او ګامیښه کي اووه تنه سره شریکېدای سي، په حج کي هم په اوو تنو یو څاروی حلالېدلای سي.
- د شکریې پسه د مکې او حرم په هر ځای کي چي مو زړه غواړي ذبح کولای سئ. خو په منا کي یې ذبح کول مسنون دي.

**د قران او تمتع د قربانۍ په بدل کي روژې:**

مسئله: که د پیسو د ورکېدو یا غلا کېدو یا په بل سبب قارن یا متمتع ته د قربانۍ تر رانیولو وروسته دونه خرڅه نه پاته کېده چي وطن ته په ورسیږي، نو دي لس روژې ونسي. درې روژې به د احرام د تړلو له وخته څخه د ذو الحجې تر لسمي دمخه نیسي. البته که دغه درې روژې جلا جلا ونیسي هم روا دي، خو پرله پسې نیول یې افضل دي. د ذوالحجې په اوومه، اتمه او نهمه یې نیول ډېر غوره (مستحب) دي. خو که بېرېدی چي ضعیف به سم او د عرفات په درېدو کي به مي نقصان راسي بیا د نهم تر ورځي دمخه ځني وز ګارېدل افضل دي. بلکي د دغسي چا لپاره د عرفات یعنی د نهم په ورځ روژه مکروه ده. نوري اووه روژې دي د تشریق تر ورځو وروسته هر چیري چي یې نیسي هلته دې ونیسي. خو وطن ته تر راتلو وروسته یې په کور کي نیول افضل کار دی. د دې روژو نیول هم په پرله پسې توګه غوره دي. خو که یې بېلي بېلي ونیسي هم روا دي.

مسئله: که یې درې روژې د ذوالحجې تر لسمي ونه نیولای سوې تر دې وروسته دغه روژې نه سي نیولای، بلکي باید قرباني وکړي. که سمدستي د قربانۍ کولو قدرت نه لري توله عمر پر پور ده. هر وخت چي یې قدرت پیدا کړ باید په حرم کي قرباني وکړي. که خپله حرم ته نه سي رسېدلای کولای سي یوه امین سړي ته پیسې ورکړي څو په هغو پسه رانیسي او په حرم کي یې ذبح کړي. دغه حجانۍ دي د اختر په لومړۍ ورځ د عقبه جمرې تر رمي وروسته د خپل سر د وریښتانو څوکي پرې کړي، ځان دي حلال کړي. البته په دې صورت

کي پر دې دوه دمه اوړي يو د قران يا تمتع دم، بل تر ذبحي د مخه له احرام څخه د وتلو د جنايت دم.

مسئله: که چا روژې پيل کړې، خو دمخه تر دې چې ځان حلال کړي پر قرباني کولو قادر سو، هغه روژې يې باطلي سوې ذبح پر واجبه ده. خو که تر ځان حلالولو وروسته پر دم قادر سو نو دم نه دی پر واجب هغه پاته اووه روژې دي ونيسي. دغه راز که يې لومړی درې روژې ونيولې او ځان يې نه کړ حلال او د نحر ورځي تېري سوې بيا پر دم قادر سو بيا هم دم نه دی پر واجب هغه روژې نيول کافي دي.

مسئله: د اوو روژو د صحت لپاره د شپې نيت کول شرط دی.

**د وريښتانو پرې کول (غچي کول):**

کله چي مو د شکرانې د پسه د حلالېدو کار پای ته ورسېدی، نو قبلې ته مخامخ کښېنئ د خپل ټول سر وريښتان درې برخي کړئ او د هري برخي د وريښتانو څوکي د ګوتي تر بند څه زياتي غچي کړئ. په دې ډول به مو د سر د وريښتانو ټولي څوکي د ګوتي د يوه بند په اندازه پرې سوي وي.

د سر وريښتان د ذوالحجې په لسمه، يوولسمه او دووسمه پرې کولای سئ. کله چي مو وريښتان پرې کړل نو له احرامه ووتلاست. د احرام پابندۍ ختمي سوې. اوس تاسي مخ پټولای سئ، په صابون او شامپو سر او ځان پرېو للای سئ، خوشبويي وهلای سئ، نوکان پرې کولای سئ، بغلونه او نور هم پاکولای سئ. خو د خپل خاوند سره نژدې کېدل او مچول او نور تر طواف زيارت وروسته رواکيږي.

مسئله: لکه چې د مخه مو هم وویل د ښځې سر خریل حرام دي. دښځې لپاره هم کله چې دعمرې د پای ته رسېدو یا د حج د مناسکو د پای ته رسېدو پر مهال له احرامه وزي د سر د ځلورمې برخې د وربښتانو د یوې ګوتې د بند په اندازه پرې کول واجب دي. خو د هغې د سر د ټولو وربښتانو څخه د ګوتې د یوه بند په اندازه پرې کول سنت دي. نوښه داده چې ښځه خپل وربښتان په خپله، یا په بله ښځه یا په محرم د ګوتې تر بند څه زیات پرې کړي. په دې توګه به یې ټول لوی اوکوچني وربښتان پرې سوي وي.

کله چې د سر د وربښتانو له غځې کولو خلاصه سواست د ځان، مور او پلار، مېړه، خپلوانو او ټولو مسلمانانو لپاره دعا وکړئ.

مسئله: د وربښتانو او نوکانو په تشناب کې اچول مکروه دي.

مسئله: د حج له امله د سر د وربښتانو غځې کول په منا کې سنت او د حرم په پولو کې واجب دي. خو د عمرې له امله په مکه مکرمه کې سنت او د حرم په پولو کې واجب دي.

**طوافِ زیارت:**

کله چې له رمې، ذبحې او د سر د وربښتانو له غځې کولو څخه فارغه سئ بیا د بیت الله شریفې طواف وکړئ. دا طواف ډېر مهم دی، د حج رکن او فرض دی. دې ته «طوافِ افاضه»، «طوافِ حج» او «فرضي طواف» هم وایې. تاسې چې لومړی مسجد الحرام ته ورسېدلاست او طواف مو وکړ هغه د عمرې طواف وو. بیا چې مو طوافونه کول هغه ټول نفلي طوافونه وه، خو دا اوس چې یې تاسې کوئ دا طوافِ زیارت دی. دغه طواف فرض دی که دا طواف ونه کړئ په هیڅ صورت نه معافیږي او نه یې کوم بدل سته. تر څو چې

دغه طواف ونه سي مېرمن او مېړه يو پر بل حرام وي که څه هم بېخي ډېر عمر تېر سي. دغه طواف تر مرګه نه ساقطيږي. که يې څوک بېخي د عمر په آخر کي وکړي هم صحيح کيږي. خو د هغه د ځنډېدو ګناه به ورپه غاړه وي. که څوک بېله دغه طواف کولو مري نو به وصيت کوي چي د ده تر مړيني وروسته د ده لخوا دغه طواف وکړي.

طواف زيارت د لسم په ورځ افضل دی. د دوولسمي تر لمر لوېدو پوري د ورځي او د شپې جايز دی. تر دې وروسته فضيلت نه لري، بلکي تحريمي مکروه دی او دم پر واجب دی. د طواف کولو طريقه او د هغه اړوند مسايل د طواف په بيان کي وګورئ. او دغه طواف هم د هغه مطابق وکړئ.

په لومړۍ ورځ په عامه توګه د کعبې شريفي پر طواف ګڼه ګوڼه زياته وي. خو په دوهمه او دريمه ورځ دونه هجوم نه وي. نو که تاسي په دوهمه يا دريمه ورځ دغه طواف وکړئ درته آسانه به وي.

مسئله: د زيارت د طواف لومړی وخت د لسمي له سپېدو څخه پيليږي تر دې د مخه نه دی جايز. د نحر په ورځو کي يې ادا کول واجب دي. که مو د دې ورځو تر تېرېدو وروسته د عمر په هر وخت کي وکړ صحيح دی، خومکروه تحريمي دی او دم پر واجب دی. که مو بېله عذره د نحر په ورځو کي ونه کړ، نو د ځنډېدو له امله يې دم لازم دي او ګنهګاره به هم ياست.

مسئله: تر طواف زيارت وروسته د مېړه او مېرمني صحبت او نور حلال دي. تر څو چي چا دا طواف نه وي کړی پر هغه صحبت او

ښکلول اونور ناروا دي.که څه هم کلونه کلونه تېر سي. پس له طوافه به روا کيږي.

**په طواف زيارت کي د ښځي د پاکۍ مسايل:**

مسئله: که ښځي ته مياشتنی تکليف پېښ وي يا په نفاس کي وي نو دي طواف زيارت نه کوي او تر پاکېدو دي انتظار وکړي. ځکه چي په دې حالت کي مسجد حرام ته ننوتل حرام دي او طواف هم نه صحيح کيږي. که له ښځي څخه د حيض يا نفاس له امله طواف زيارت تر خپل وخت وځنډيږي او وروسته يې وکړي هيڅ پروا نه کوي او دم نه پر واجبيږي.

مسئله: که ښځه له حيض يا له نفاس څخه د ذوالحجې د دوولسمي تر لمر لويدو دونه دمخه پاکه سوه چي غسل وکړي،مسجدالحرام ته ولاړه سي،ټول طواف يا يې څلور شوطه کولای سي، خو ويې نه کړي د طواف د ځنډيدواوتنبلۍ له امله دم پر واجب دی. اما که دونه وخت نه وو بيا دم نه دی پر اوښتی.

مسئله: که ښځه پوهيده چي حيض مي نژدې دی او تر حيض راتلو دونه وخت پاته دی چي بشپړ طواف يا د هغه څلور شوطه کولای سم، خو ويې نه کړ او حيض ورغي بيا د اختر تر ورځو وروسته پاکه سوه د ځنډ او بې پروايی له امله دم پر واجب دی او که يې څلور شوطه طواف نه سو کولای بيا هيڅ نه دي پر واجب.

مسئله: د رسول ﷺ د صحيحو احاديثو او د شرعي صحيحو احکامو له مخي ښځي د حيض او نورو په حال کي مسجد ته نه سي ننوتلای او نه لمونځ او طواف کولای سي، مسجد ته ننوتل ورته حرام دي. نور ټول افعال ترسره کولای سي. خو د دې ځنډ له امله نه

دم پر اوړي نه ګناه. نوکه ښځې د حیض له امله طواف زیارت په خپل وخت کې نه سو کولای، کله چې پاکه سي طواف دي وکړي. که یې د حیض په حال کې طواف وکړ سخته ګنهکاره ده او د سخت عذاب مستحقه ده. طواف دي تر هغه مهاله نه کوي چې پاکه سوې نه وي. که یې په دغه حال کې طواف وکړ لازمه ده چې د پاکۍ په حال کې دغه طواف بېرته را وګرځوي. که یې را ونه ګرځاوه د یوه اوښ یا غوایي حلالول پر لازمیږي او حج یې بشپړیږي. البته پر دې سربېره باید له دې ګناه څخه توبه هم وکاږي.

ښځه کولای سي چې د حیض بندوونکي درمل استعمال کړي. موږ د دې کار د روا والي په هکله د دې کتاب په (۳۲) مخ کې د احرام تر سرلیک لاندې څرګندوني کړي دي. که یې دا کار نه وي کړی سفر دي وځنډوي، په دې ستر عبادت کې دي آساني خوښونه نه غوره کوي. په اوسنيو شرایطو کې د سفر ځنډول دونه ستونزي نه رامنځته کوي. د حایضو ښځو د طواف زیارت لپاره د الوتکي پر واز بدلېدلای سي.البته که کومي خور په مسئله د نه پوهېدو له امله په دغسي صورت کې طواف کړی وي او بیا یې راونه ګرځوي نو د فقهاوو په فتوا د هغې حج حکماً بشپړ دی. له احرامه هم وتلې ګڼل کیږي، خو اوښ یا غویی به حلالوي.

**ښځو ته یوه آساني:**

د مفتي محمد رفیع عثماني صاحب په «رفیق حج» مناسک او د ځینو نورو جیدوعالمانو په فتواوو کې لیکل سوي دي چې کومه ښځه چې پوهیږي چې د ذوالحجې پر لسمه یو وخت په میاشتنۍ ناروغي اخته کیږي، هغه کولای سي د مزدلفې په شپه په مزدلفه کې د مابنام

او ماخستن لمونځونه یوځای وکړي او سیده مکې مکرمې ته ولاړه سي. ځکه چي د مزدلفې درېده (وقوف) پرېښوول روغي ښځي ته جایز دی، د لسم تاریخ په صبح صادق (د سهار د اذان پر مهال) دي طواف زیار ت وکړي. په دې توګه به د دې دغه فریضه (طواف زیارت) تر حیض ورتلو دمخه په آساني سره ادا سي. تر دې وروسته که حیض پیل سي نو څه باک به نه کوي. ځکه په منا کې د شیطان ویشتلو او نورو لپاره پاکي ضروري نه ده.

البته د ښځي د محرم په هکله موږ د دې کتاب په (۹۹) مخ کې وویل چي علماوو د ښځي محرم ته هم د مزدلفې د شپې دپرېښوولو اجازه ورکړې او په عذر لرونکو کي یې شمېري. والله اعلم.

**د حج سعی:**

کله چي له طواف زیارت څخه فارغه سولاست بیا به سعی کوئ. دغه سعی واجب ده. د دې سعیي طریقه هم د عمرې د سعیي غوندي ده. که تاسي د مخه د حج سعی کړې وي، نو اوس د طواف زیارت سره سعی مه کوئ.

**تر طواف زیارت وروسته منا ته ستنېدل:**

تر طواف زیارت وروسته منا ته ولاړه سئ.په منا کي شپه سنت ده. بېله منا بل ځای شپه کول مکروه باله سي. د شپې زیاته برخه بل ځای اوسېدل هم مکروه دي، خو دم یا نور څه نه پر واجبیږي.

تنبیه: اوس د حاجیانو د ډېربښت او نوو انتظاماتو او په منا کي د تنګۍ له امله ځیني خېمې د مزدلفې په پولو کي دروي. په دې خېمو کي اوسېدل که څه هم مکروه دي خو عذر باله سي. بیا هم که هغه

حاجيان چې په دغو خېمو کې اوسي، د شپې څه وخت د منا په پولو کې تېر کړي ښه به وي.

## د لوی اختر د مياشتي يوو لسمه د حج څلورمه ورځ: شګي ويشتل

د ذوالحجې پر لسمه خومو يوه جمره يعني لوی شيطان وويشت. نن د ذوالحجې پر يوولسمه په خپله خېمه کې د ماپښين لمونځ وکړئ، وروسته جمراتو ته ورسئ او د مخکنيو لارښوونو سره سم اول «جمرة الاولٰی» (لومړۍ جمره) په اوو شګو وولئ او د هري شګي د ويشتلو سره واياست: «بِسْمِ اللهِ اَللهُ اَکبَرْ». که مو دا دعا ويلای سوه هم يې ووایاست که نه ضروري نه ده: «رَغْمًا لِلشَّيْطَانِ وَرِضىً لِلرَّحْمَنِ». بيا څه وړاندي ولاړه سئ، داسي ځای چې ګڼه ګوڼه لږ وي مخ پر قبله ودرېږئ، لاسونه پورته کړئ، ځان او دوستانو ته دعاوي وکړئ او تر توبه، استغفار او ذ کر وروسته درود ووایاست. بيا وړاندي ولاړه سئ د اول وار غوندي «جمرة الوسطٰی» (منځنۍ جمره) په اوو شګو وولئ او څه ور تېره سئ د مخکي غوندي د دعا او نورو لپاره ودرېږئ. بيا «جمرة العقبه» (د عقبې جمره) په اوو شګو وولئ. خو تر دې ويشتلو وروسته دعا مه کوئ، بلکي سيده خپل استوګنځي ته ولاړه سئ او دشپې په منا کي واوسئ.

د ذوالحجې پر يوولسمه د رميو مستحب وخت له زواله تر لمر لوېدو پوري دی. له لمر لوېدو څخه د ذوالحجې د دوولسمي تر صبح صادق پوري مکروه وخت دی.

خو تر زوال وروسته پر جمرو ويشتلو خورا زيات بېروبار وي. له دې امله چې په جمرو ويشتلو کې هر څونه ځنډ وسي آساني

جوړېږي. تاسي تـه مناسـبه داده چي د مـازديګر تـر لمانځـه وروسـته جمرو ته ورسئ او ويې ولئ. ځکه دغه مهال هجوم کم وي. کـه دغـه مهال هم بېروبار وو د ماښام يا ماخستن تر لمانځه وروسته يا د شپې جمرې وولئ. د عذر له امله ښځو ته د شپې جمرې ويشتل مکروه نه دي.

## د لوی اختر د مياشتي دوو لسمه د حج پنځمه ورځ: شګې ويشتل

نن د ذوالحجې پر دوولسمه بالکـل د تېـري ورځـي پـه شـان کړنـه وکړئ.

مسئله: د دوولسمي تر رمي وروسته مکې ته تګ بې کراهيته جـايز دی. خو ښه داده چي د ديارلسمي تر جمرو ويشتلو وروسته مکـې تـه ولاړ سئ.

مسئله: که مو اراده وه چي په دوولسمه مکې ته ولاړ سئ نو تر لمر لوېدو دمخه له منا څخه ووزئ. په دې صورت کي د ديارلسمي رمـي نه دي واجب. خوکه لمر ډوب سو بيـا د ديارلسـمي لـه ويشـتلو پرتـه تګ مکروه دی. دغه راز که د ديارلسمي د سپېدو تر مهاله په منا کـي واست نو د ديارلسمي رمي درباندي واجبيږي.

مسئله: د ديارلسمي د رمي وخت د سهار له سپېدو څخـه تـر لمـر لوېدو پوري دی. خو تر زوال دمخه وخـت يـې مکـروه دی. تـر زوال وروسته وخت يې مسنون دی او تـر لمـر لوېـدو وروسـته يـې وخـت بالکل ختميږي.

## له منا څخه مکې ته تلل

کله چې د دوولسمي يا ديارلسمي له رميو وزګار سئ مکې مکرمې ته ولاړ سئ په محصب نومي ځای کي چي ابطح، بطحاء او معابده هم ورته وايي د لږ مهال لپاره له سپرلۍ راکښته سئ يا په سپرلۍ کي په ولاړي دعاوي وکړئ. اوس په دغه ځای کي د موټرانو د چټك تګ او هم دلته د ودانيو د ډېربښت له امله د ماپښين، مازديګر، ماښام او ماخستن د لمونځونو کولو سنت نه سي پر ځای کېدلای. خو په دغه ځای کي ګردسره دعا نه کول بد کار دی.

تنبيه: اوس ستاسي حج بشپړ سو. که څو ورځي نوري په مکه مکرمه کي اوسېږئ نو دا شيبې غنيمت او سعادت وګڼئ. په مسجدالحرام کي لمونځونه او نفلي طوافونه د لوی ثښتن انعام وبولئ. د ذو الحجې تر ديارلسمي وروسته د ځان، مور، پلار او نورو خپلوانو لخوا عمري کوئ. عمرې ډېر ثواب لري. دغه راز لمونځونه، روژې، صدقه او ښې چاري زياتي تر سره کوئ.

## د خدای په امانۍ (وداع) طواف

کله چې د مکې مکرمې څخه د روانېدو اراده وکړئ، نو طواف وداع وکړئ. بيا د طواف دوه رکعته لمونځ وکړئ، مخ پر قبله ودرېږئ، زمزم اوبه ښې ډېري وچيښئ، تر هري سا وروسته بيت الله شريفي ته وګورئ. پر مخ، سر او بدن يې وشيندئ او پر ځان يې هم توی کړئ. ملتزم ته نژدې دعا وکړئ او څنګه چې کولای سئ لوی ثښتن ته ژړا او زارۍ وکړئ او له بيت الله څخه د بېلتون له امله

خواشيني ځرګنده کړئ. بيا حجر اسود مچ کړئ، که نه کېده په لاس اشاره ورته وکړئ. په ژړا او دعا کوونکي له مسجد څخه ووزئ.

يادونه: په حيض او نفاس کي ښځه دي طواف نه کوي، بلکي په باب الوداع کي دي ودرېږي او دعا دي وکړي.

**د طواف وداع مسئلې:**

مسئله: طواف وداع پر آفاقي باندي واجب دی. د حرم، حل، ميقات پر اوسېدونکو او حايضې او نفاسې (نفساء)، لېوني اوکوچني باندي نه دی واجب. دغه راز پر هغه چا چي يې حج يې فوت سوی وي او پر محصر يعني چي له حج څخه بند سوی او راګر ځېدلی وي او پر عمره کوونکي باندي هم نه دی واجب.

مسئله: د مکې، حل او ميقات او سېدونکو ته طواف وداع مستحب دی.

مسئله: که تر طواف وداع وروسته لږ څه نور هم په مکه کي واوسېدلاست بيا مستحب ده چي د سفر په وخت کي دوهم ځل طواف وداع وکړئ.

مسئله: که ښځي ته د ستنېدو پر مهال حيض ورغی او طواف وداع يې ونه کړ دم نه دی پر واجب، خو ښه داده چي انتظار وکړي څو پاکه سي، طواف دي وکړي بيا دي ستنه سي

مسئله: که حايضه د مکې له ودانيو څخه تر وتلو دمخه پاکه سوه پر واجب ده چي بېرته مکې ته ولاړه سي او طواف وداع وکړي. خوکه د مکې له ودانيو د باندي ووته بيا پاکه سوه نو طواف نه دی پر واجب. خو که د کوم عذر له امله بېرته مکې ته راغله طواف پر واجب دی.

## د مدينې منورې زيارت

د رحمت للعالمين، شفيع المذنبين حضرت محمد مصطفیﷺ د سپېڅلي روضې زيارت يوه ډېره ستر ه نېکمرغي ده. د رسول اللهﷺ له ميني او محب پرته ايمان نه سي بشپړېدلای. نو د لوی څښتن د کور تر حج وروسته د هغه د حبيب مقدسي روضې ته حاضري هم ضروري ده.

کله چي تر حج دمخه يا وروسته د مدينې منورې د زيارت سعادت درپه برخه سي، نو د رسول اللهﷺ د روضې د زيارت نيت وکړئ. يعني په زړه کي به مو اراده او تصور دا وي چي زه دغه سفر د رسول اللهﷺ د روضې د زيارت لپاره کوم.

په دې سفر کي درودونه ډېر ډېر او په شوق او ذوق سره واياست. هغه درود چي د لمانځه په دوهمه ناسته کي يې واياست ډېر غوره او افضل دی.هغه ډېر واياست.

د مدينې منورې په سفر کي د سفر ټول آداب په ټينګه په پام کي ونيسئ

او توبه مو په ټينګه بيا نوې کړئ.

په دې سفر کي به د ريا، سيل او سياحت يا کوم بل دنيوي غرض شبهه هيڅکله نه وي. که نه نيکي به برباد او ګناه به لازمه وي.

هوښ کوئ چي فرايض او سنن قضا نه کړئ.

په دې سفر کي به مسنونو کارونو ته زيات پام کوئ. ښه خېړنه او ګروېږنه به کوئ چي مسنون کارونه او د رسولﷺ ورځني معمولات او عادات معلوم کړئ او د هغو متابعت وکړئ.

د رسولﷺ د دربار له آدابو څخه یو دا هم دی چې هغه ته تر حاضرېدلو دمخه فقیرانو ته څه صدقه ورکړئ، څو له انوارو او برکاتو څخه زیات برخمنه سئ.

کله چې مدینې منورې ته ورسېدلاست نو تر ټولو د مخه خپل شیان، سامان په خپل استوګنځي کي ځای پر ځای کړئ. غسل وکړئ یا اودس تازه کړئ، ښایسته پرېمینځئ، پاك کالي واغوندئ او په ادب او احترام نبوي مسجد ته ور سئ.

په نبوي مسجد کي د ښځینه وو ځای بېل دی. هغه ته د ښځو د دروازې له لارې ورننوزئ.

کله چې نبوي مسجد ته ننوزئ نو د هغه له عظمت او عزت څخه مه غافله کېږئ. په یادمو وي چې دا د وحیو د نازلېدو او رحمت ځای او د نبيﷺ مسجد دی. دېمسجد ته د ننوتلو پرمهال که څه هم د ډېر لږ مهال لپاره وي د اعتکاف نیت وکړئ او د الٰهي ذکر، ډېر صلاة او سلام او د قرآن په ختمولو که څه هم یوه پلا وي بوخت سئ. ځکه چې دلته ډېر اجر او ثواب ترلاسه کېږي.

د مسجد ښکلا، فرشونو، فانوسونو، غالیو او نورو ته مه ګورئ. په ډېر درنښت او آرامۍ کښته ګورئ، زړه، ژبه او د بدن غړي مو له ډېر کوچني ناوړه کاره وساتئ او په کلکه ډډه ځني وکړئ. داسي ونه سي چي د بې ادبۍ له امله خدای مه کړه د ګټې پر ځای تاوان وکړئ:

هروخت چي مسجد ته ننوزئ ښی پښه دننه کښېږدئ او دا دعا ووایاست:

«بِسْمِ اللهِّ والصلاةُ والسلامُ على رسولِ الله. اللهم اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِي وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ».

ژباړه: د لوی څښتن په نامه مسجد ته ننوزم. د هغه پر استازي ﷺ دي د هغه رحمت او سلامتي وي. ای لویه څښتنه! ما وبخښه او د خپل رحمت ورونه راته پرانیزه.

دغه راز هر وخت له مسجد څخه د وتلو پرمهال دغه دعا وایاست:

«اللهم إِنِيْ أَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ».

ژباړه: ای لویه څښتنه زه ستا د فضل غوښتونکې یم.

بیا که مکروه وخت نه وو دوه رکعته تحیة المسجد نفل وکړئ. په دې نفلو کې قرائت مه اوږدوئ، بلکي په لومړي رکعت کي تر ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ﴾ وروسته ﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١﴾ او په دوهم کي ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ ووایاست.

تر نفلو وروسته د لوی څښتن ډېر شکرونه ادا کړئ چي تاسي یې له دغه ستر نعمت څخه برخمنه کړلاست او د لوی څښتنﷻ د رضا او د خپلي دې او هغې دنیا د سمېدو دعاوي ورته وکړئ او پر دې خبره ټینګ یقین ولرئ چي له دې درباره هیڅ رشتینی غوښتونکی او فقیر او سایل محروم او خالي لاس نه دي ګرځېدلی

په نبوي مسجد کي کرار خبري کوئ. نا اړیني، دنیوي او چټي خبري مه پکښي کوئ، بلکي په ذکر، فکر، عبادت، ریاضت، تلاوت، صلاة او سلام لګیا سئ. دلته ترفرض لمانځه وروسته ډېر ښه عبادت پر ر سولﷺ باندي صلاة او سلام دی. بدبویه شی مه خورئ او مسجد ته یې مه وړئ.

د نبوي مسجد د ډېر درناوي دا تقاضا ده چي څپلۍ مو د مسجد دننه مه وړئ بلکي د مسجد په دروازه کي يې په ځانګړو الماريو کي کښېږدئ.

### د رسولﷺ د روضې د زيارت آداب

د رسولﷺ روضې ته د ښځو د حاضرېدلو او درود او سلام وړاندي کولو لپاره يې بېل وختونه ټاکلي دي. تاسي په دغو وختونو کي د رياض الجنة لخوا رسولﷺ ته په ډېر ادب او درناوي سلامونه وړاندي کړئ. (له بلي خوا څخه اجازه نه درکوي).

په دې حال کي زړه له ټولو کدورتونو او ککړتياوو پاك کړئ او په ټول ځان د رسولﷺ لوري ته پام واړوئ:

علماوو ليکلي دي: کوم زړه چي د دنيا له ناولتياوو او لهو لعب، شهوتونو او خواهشونو ډك وي پر هغه باندي د هغه ځای برکتونه څه اغېزه نه کوي. بلکي بېره ده چي رسولﷺ د داسي زړونو پر خاوندانو په غوسه سي او مخ ځني وګرځوي. لوی څښتن مو دي په خپل فضل له داسي حاله وساتي.

د رسولﷺ روضې ته د تلو او حاضرېدو پر وخت له شورماشور، چټک چټک تلو او ټېلو ټمبو څخه ډډه وکړئ. نورو ته تکليف مه ورکوئ، کښته ګورئ، لاسونه او پښې په آرامي ښوروئ او په هر ځای کي چي د درېدو ځای در پيدا سي په سکون او وقار شا قبلې ته، مخ د رسولﷺ روضې ته ودرېږئ او د هغه مبارکه څېره په خيال کي راوګرځوئ او دا تصور کړئ چي ستاسي له حاضرۍ څخه لوی څښتنﷻ هغه مبارك ته خبر ورکړی دی. دغه مهال په ډېر عجز او په بې نهايته ادب، د زړه په بشپړ حضور او له خپلو تېرو ناوړو کړنو

څخه په شرم، په ولولو نه، بلکي په انکسار، په زوره نـه، بلکـي ببڅـي کرار رسول ﷺ ته سلام وړاندي کړئ او ووایاست:

«اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ اَيُهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ».

دغه دردود او سلام هم ورته وړاندي کړئ:

«الصلاة والسلام عليك يا رسول الله»

«الصلاة والسلام عليك يا نبي الله»

«الصلاة والسلام عليك يا حبيب الله»

البته په دې کلمو کي کوم خاص تحدید او تاکل نسته. څـه صـلاة او سلام چي چـا تـه ښـه او غـوره وایسي هغـه دي وایـي. یعني چـي څنګه د زیارت کوونکي خوښه وي او د رسول ﷺ د شان سـره ښـایي هغسي صلاة او سلام دي پر وایي.

خو که چا اوږده سلامونه ویل دغه دي:

«اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ يَا رسولَ اللهِ، اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ يَا خَيْرَ خَلْقِ اللهِ، اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ يَا خِيَرَةَ اللهِ مِن خَلْقِ اللهِ، اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ يَا حَبِيْبَ اللهِ، اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ وُلْدِ آدَمَ، اَلسْلاَمُ عَلَيْكَ اَيُهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. يَا رسول اللهِ! اِنِّيْ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ واَنَّكَ عَبْدُهُ وَرسولهُ وَاَشْهَدُ اَنَّكَ قَدْ بَلَغْتَ الرِّسَالَةَ وأَدَّيْتَ الْاَمَانَةَ ونَصَحْتَ الْاُمَّةَ وَكَشَفْتَ الْغُمَّةَ فَجَزَاكَ اللهُ عَنَّا خَيْراً، جَزَاكَ اللهُ عَنَّا اِفْضَلَ مَا جَازٰى نَبِيّاً عَنْ اُمَّتِهِ.اَللّٰهُمَّ اَعْطِ سَيِّدَنَا عَبْدَكَ وَرسولكَ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَّرَجَةَ الْعَالِيَةَ الرَّفِيْعَةَ وَبْعَثْهُ الْمُقَامَ الْمَحْمُوْدَنِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهُ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَاد، وَأَنْزِلْهُ الْمُنْزَلَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ إِنَّكَ سُبْحَانَكَ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ».

ژباړه: سلام پر تا ای د لوی څښتن رسوله، سلام پر تا ای د خدای د خلکو غوره، سلام پر تا ای د خدای حبیبه، سلام پر تا ای د آدم د اولادو سرداره، سلام دي وي پر تا ای نبي او د خدای رحمته او د هغه برکاته. ای د لوی څښتن رسوله، زه شاهدي ورکوم چي بېله خدایه بل معبود نسته، هغه شریك نه لري او ته د هغه بنده او رسول يې او زه شاهدي ورکوم چي تا ای د خدای رسوله خپل رسالت ترسره کړ او خپل امانت دي ادا کړ او د امت په هکله دي خیر او ښېګڼه غوښتې او مصیبتونه او ناخوالي دي لیري کړې، نو دي لوی څښتن تا ته اجر درکړي او زموږ لخوا دي خدای تا ته تر هغه ښه اجر درکړي چي د یوه پېغمبر د امت لخوا ورکړل سوی دی. ای لویه څښتنه! زموږ سرور او ستا بنده او رسول حضرت محمد ته وسیله او فضیلت او لوړه مرتبه ورکړه او هغه په هغه محمود مقام کي چي ژمنه دي ورسره کړې ده راوپاڅوه. رشتیا داده چي ته له خپلي ژمني نه اوړې او هغه ته خپل ځان ته په مقرب منزل کي ځای ورکړه. بې شکه چي ته سپېځلی او د فضل څښتن او ستر مهربانه او باعظمته ذات يې.

تر سلامونو وروسته څه چي له خدایه غواړئ و يې غواړئ او د رسول ﷺ شفاعت ځني طلب کړئ.

که چا رسول ﷺ ته د سلام د وړاندي کولو سپارښتنه در ته کړې وي، نو د هغه لخوا داسي سلام وړاندي کړئ:

«ای د لوی څښتن پېغمبره ﷺ د پلاني د زوی پلاني سلامونه ومنئ، هغه تاسي، ستاسي خدای ﷻ ته شفیع کوي. نو د هغه او ټولو مسلمانانو شفاعت وکړئ».

که مو د هغه نوم هېرسوی وي یا ډېرو خلکو د سلامونو درته ویلي وي نو داسي ووایاست:

«ای د لوی څښتن پیغمبرهﷺ ډېرو خلکو تاسي ته سلام وړاندي کړی دی، د هغو ټولو سلامونه قبول کړئ».

که تاسي د چا دغسي غوښتنه منلې وي، یعني ژمنه مو ورسره کړې وي چي ستا سلام رسولﷺ ته رسوم. نو دغه سلام رسول پر تاسي باندي واجب سول. ځکه دا د یوه امانت غوندي سو. دا به هرو مرو رسولﷺ ته رسوئ.

**د حضرت ابوبکر رضي الله عنه زیارت**

بیا د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه حضور ته داسي سلام وړاندي کړئ:

«السلام علیك ورحمة الله یا ابابکر الصدیق رضي الله عنه».

ژباړه: سلام او د خدای رحمت دي وي پر تاسو ای حضرت ابوبکر صدیقه رضي الله عنه.

**د حضرت عمر رضي الله عنه زیارت**

بیا د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه حضور ته داسي سلام وړاندي کړئ:

«السلام علیك ورحمة الله یا عمر بن الخطاب رضي الله عنه».

ژباړه: سلام او د خدای رحمت دي وي پر تاسو ای حضرت عمر رضي الله عنه.

یادونه:

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر د سلام لپاره څه ځانګړي عبارتونه نسته. نو هرڅوك کولای سي چي د خپل اسلوب سره سم یا د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په پیروي په دغو لنډو الفاظو، لکه:

«السلام عليك يا أبا بكر رضي الله عنه».

«السلام عليك يا عمر رضي الله عنه». سلامونه ورته وړاندي کړي.

اوس نو هر چیري چي کېداى سي ودرېږئ او په ژوند کي د دې ښه او ستر نعمت شکرونه ادا کړئ، لاسونه پورته کړئ، د لوی څښتن ﷻ په حمد او ستاینه او پر رسول ﷺ باندي په درود او سلام ویلو سره، د زړه له کومي په هیله مندۍ او عاجزۍ ځان ته د ښې خاتمې، د لوی څښتن د رضا او بخښني، مور او پلار، مېړه، استادانو، اهل او اولاد، خپلوانو او آشنایانو او ټولو مړو او ژوندو مسلمانانو ته د ژړا سره یو ځای دعاوي وکړئ او که مو په یاد سولم ما نتلي او اسکېرلي د ګناه په ډېرو دوسیو ښکېل خو پر ټولو اقرار، پښېمان او توبه ګار عبدالمالك همت او زما مور او پلار ته او د دې کتاب د چاپ په کار کي مرسته کوونکو ته هم دعا وکړئ. د دعا په پای کي هم د لوی څښتن حمد او ثنا او پر پیغمبر ﷺ درود ووایاست او په (آمین) یې ختم کړئ.

### د بي بي فاطمې رضي الله عنها زیارت

ځینو علماوو ویلي دي چي د بي بي فاطمې رضي الله عنها قبر د همدغه نبوي مسجد سره د رسول ﷺ د حجرې شا ته دی. تاسي رسول ﷺ او د هغه دوو اصحابو ته تر سلامونو وړاندي کولو وروسته هغې ته هم سلام وړاندي کړئ او دعاوي ورته وکړئ.

بیا په ریاض الجنه کي نفل لمونځ وکړئ.

### په نبوي مسجد کي د لمانځه فضیلت

رسولﷺ فرمايلي دي: په کور کي پر لمونځ کولو د يوه لمانځه ثواب ورکول کيږي. د محلې په مسجد کي دغه ثواب پنځه ويشت چنده زياتيږي. په جامع مسجد کي پنځه سوه چنده زياتيږي. په نبوي مسجد کي د يوه لمانځه ثواب د پنځوسو زرو لمونځونو سره برابر ورکول کيږي، او په مسجد الحرام کي پر يوه لمانځه باندي د لکو لمونځو نو ثواب ورکول کيږي.

**په نبوي مسجد کي د څلويښتو لمونځونو فضيلت**

رسولﷺ فرمايلي دي: څوک چي زما په مسجد کي څلويښت لمونځونه وکړي او کوم لمونځ ځني فوت نه سي، نو هغه ته له دوږخ څخه برائت ليکل کيږي او له عذاب او نفاق څخه بري کړى سي.

**په ښځو پوري اړوند ځيني مسايل:**

که ښځه د حيض يا نفاس په تکليف اخته وي نو دي مسجد نبوي ته نه ننوزي او رسولﷺ، ابوبکر او عمر فاروقرضي الله عنهما ته دي له مسجد څخه د باندي د باب السلام خواته ودريږي سلامونه دي ورته وړاندي کړي. د مسجد د چارواکو لخوا هلته هم د ښځو لپاره د ستر چاري سمباليږي.

کله چي ښځه پاکه سي او غسل وکړي بيا دي نبوي مسجد ته ورسي او د رياض الجنه لخوا دي سلامونه ورته وړاندي کړي.

که د حيض يا نفاس له امله کومه ښځه په نبوي مسجد کي څلويښت لمونځونه پوره نه کړاى سي پروا نه کوي. ان شاء الله د دې اجر به پوره ورکړه سي. دغه څلويښت لمونځونه پوره کول نه د حج

له مناسکو څخه باله سي او نه هم د مدينې منورې د زيارت کوم جز بلل کيږي.

**څه نوري اړيني خبري:**

- د رسولﷺ حضور ته ډېر سلامونه وړاندي کوئ. که موقع په لاس درتله په رياض الجنة کي نفلونه او دعاوي کوئ.
- کله چي د رسولﷺ د قبر په مقابل تېرېږئ که په مسجد کي ياست که د باندي ورته ودرېږئ او سلام ورواچوئ. له حضرت ابو حازمؓ څخه روايت دی چي يو سړی ورته ورغی او خپل خوب يې ور ته ووايه چي ما په خوب کي رسولﷺ وليدی، هغه وفرمايل: ابوحازم ته ووايه چي ته زما د قبر سره تېرېږې او سلام نه را اچوې. تر دې وروسته چي به ابوحازم د رسولﷺ د مبارکي حجرې سره تېرېدی، په ادب او درناوي به ودرېدی او سلام به يې واچاوه او رهي به سو.
- د اشراق، څاښت، اوابين، تهجد، او صلاة التسبيح او نور نفلي لمونځونه کوئ.
- تر څو چي په مدينه منوره کي ياست د قرآن کريم تلاوت او ذ کر کوئ او پر رسولﷺ باندي درودونه او سلامونه واياست. روژې نيسئ (که څه هم مسافره ياست) او د خپل وس سره سم فقراوو ته صدقې ورکوئ.
- د شنبې په ورځ مسجد قبا ته ولاړه سئ او دوه رکعته نفل تحية المسجد پکښي وکړئ، دا د رسولﷺ د صحيح حديث له مخي د يوې عمرې ثواب لري. (خو د شنبې په ورځ دغه مسجد ته تلل حتمي خبره نه ده). دغه مسجد تر

مسجدالحرام، مسجد النبي او مسجد الاقصی وروسته افضل اوغوره مسجد دی.

- بیا په داسي وختونو کي چي په نبوي مسجد کي د جماعت لمونځ درڅخه قضا نه سي د مديني منورې د سپېڅلو مقاماتو زیارت هم وکړئ. د نورو زیارت وړ مساجدو، ځهانو او تاريخي ځایونو څخه ليدنه وکړئ. تحية المسجد نفلونه پکښي وکړئ، د ځان، مور او پلار، خپلوانو او ټولو مسلمانانو د دې او هغي دنيا د خير او ښېګڼي دعاوي پکښي وکړئ.
- په بازارونو کي ايله او بې کاره مه ګرځئ. ځکه بیا خدای خبر چي دغه غنيمت وخت در پیدا سي که نه. دا دوني کړاوونه او لګښتونه او له کور کهوله او وطنه مسافري د دې لپاره نه ده چي دغه خوږ او قيمتي وخت په بې ځایه خبرو او بې ګټې ګرځېدو او بې کاره خوب یا کښېنستو تېر کړئ. البته اړتیا او ضرورت خو نو بېله خبره ده.
- پام مو وي چي د مديني د اوسېدونکو او نورو سره په ښه توګه او زغم کړنه وکړئ. له هغو څخه که څه هم څه ناوړه عمل ووينئ د کرکي پر ځای غوره چلند کوئ. ځکه کېدای سي د رسولﷺ د ګاونډ يتوب له برکته د هغو خاتمه په خير سي.

زموږ دعا ده چي سفر مو هوسا او نېکمرغه وي او په خير خپل کور ته را ستانه سئ. لوی څښتن دي ستاسي حج، عمرې، زيارتونه او ټول عبادتونه قبول کړي او په خپله خدايي سره دي زموږ ګران هیواد لکه څنګه چي ښايي هغسي خپلواك، ودان، سرلوړی او د پردو

له اړتیا را وژغوري. خدایﷻ دې زموږ ټولو مرستندوی او ساتندوی سي (آمین).

**له مدینې منورې څخه ستنېده**

پام کوئ چې له مدینې منورې څخه د ستنېدو لپاره بېړه او بېتابي در څخه څرګنده نه سي.

له مدینې منورې څخه د ستنېدو پرمهال لومړی په نبوي مسجد کې په هغه طریقه چې دمخه یې یادونه وسوه دوه رکعته نفل وکړئ، د رسولﷺ او ابوبکر او عمررضي الله عنهما روضې ته ورسئ په ژړاوو او ادب سلامونه ورته وړاندې کړئ، له دې متبرکو مقاماتو څخه د بېلتون له امله خپله خواشیني څرګنده کړئ، پر خپلو غفلتونو او تېروتنو باندې پښېماني ښکاره کړئ او توبه پروکاږئ، رسولﷺ ته الوداعي (د خدای په امانۍ) سلام وړاندې کړئ او مخ پر قبله دعاوې وکړئ چې: ای لویه څښتنه! زموږ سفر آسانه کړې، په سلامتي او عافیت مو خپل کور او کهول ته ورسوې، د دواړو جهانو له آفتونو مو وساتې، بیا مو مدینې طیبې ته تلل په برخه کړې او دامې هغې ته وروستی سفر مه کوې. ای د لوی څښتن پیغمبره! که ژوندی وم بیا درته راځمه ان شاءالله او که مړه وم خپل ایمان تاته امانت پرېږدم او دا د قیامت د ورځې لپاره ستاسو سره امانت دی.

فقیرانو ته څه صدقه ورکړئ. د سفر په دعاوو او ذ کر او استغفار له مدینې په وتلو په حسرت او ژړاوو او د اوښکو په اورښت پیل وکړئ.

خپل کور ته ستاسې د بېرته ستنېدو په هکله خبر ورکړئ، دا سنت طریقه ده. کله چې مو خپل ښار ولید دغه دعا ولولئ:

«آئبون، تائبون، عابدون، لِربنا حامدون».

ژباړه: موږ را ستانه سولو، توبه کوونکي، عبادت کوونکي، د خپل رب تعريف کوونکي.

په کور کي دوه رکعته نفل وکړئ، د لوی څښتن حمد او ثنا وواياست، دعا وکړئ او د حج، عمرې او زيارت پر دې ستر نعمت باندي شکر ادا کړئ. وطن ته تر رسېدو وروسته فقيرانو او ګاونډيانو ته د وس سره سم څه ډوډۍ ورکول مستحب کار دی. خو پام کوئ چي په دې چارو کي د ځينو ناپوهانو غوندي تر حد تجاوز، اسراف او ريا در څخه ونه سي. د حج په مناسبت محفلونه جوړول او بې ځايه لګښتونه کول د وياړ او ريا مظاهر باله سي چي دا ټول ثواب له منځه وړي. تردې وروسته له ګناهونو څخه ځان ساتل او په ښو کارونو کي پرمختيا د حج او زيارت د قبلېدو نخښه ده.

الحمد لله الذي بعزته وجلاله تتم الصالحات.

# د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالک «همت»**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمريز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کي يې خصوصي زده کړې کړې دي.
- د ډاکټر نجيب الله د واکمن کېدو په لومړيو کي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو. لومړی په کندهار کي اوسېدی او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

۱- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ل.کال خپره سوې ده.

۲- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ل.کال خپره سوې ده. په ۱۳۸۹ا.کال دوهم ځل خپره سوه.

۳- زموږ د قبلې تاريخ (دمکې مکرمې تاريخ) په۱۳۸۵.کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.

٤- زموږ د نبي مېنه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

۵- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو.
٦- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۸ کال دوهم ځل خپور سو.
۷- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل.کال خپور سو.په ۱۳۹۰ل.کال دوهم ځل خپور سو.
۸- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
۹- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ل.کال خپور سو.
۱۰- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.
۱۱- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
۱۲- د کلمې شريفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
۱۳- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
۱٤- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
۱۵- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ. په ۱۳۸۹ل.کال خپور سو.
۱٦- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه.
۱۷- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ل. کال خپره سوه.
۱۸- راځي توبه وکاږو، په ۱۳۹۰ل.کال خپور سو.

۱۹- زه توبه کاږم، خو...؟ (ژباړه) په ۱۳۹۰ کال خپره سوه.
۲۰- د اسلام د بري زېري (ژباړه) په ۱۳۹۰ کال خپره سوه.
۲۱- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ل.کال خپره سوه.
۲۲- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال لومړی ځل خپور سو.دادی اوس یې دوهم چاپ ستاسي په لاس کي دی.

پر دې سربېره یې د هیواد په دننه او دباندې کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د لیکوال د ګرځنده تلیفون لمبر: 700300167 0093

د لیکوال د برېښنالیك یا ایمېل آدرس:

**himmat_ afg@yahoo.com**

## تلبیه

لَبَّيْكَ، اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ.

## پا ملرنه د دې کتاب د مطالعې طریقه

له دې کتاب څخه د ګټې اخیستنې ډېره ښه طریقه داده چې لومړی ټول کتاب یو یا څو واره په غور ولولئ او د هغه مضمونونه ذهن نشینه کړئ. بیا پر خپل وخت هغه مضمون چې د لیدلو اړتیا یې وي وګورئ.

زهی سعادت آن بندهٔ که کرد نزول　　　گهی‌به‌بیت‌خداوگهی‌به‌بیت‌رسول